بسم الله الرحمن الرحيم

د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

(۱۰)

ډاکټر کفايت الله وردګ

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د اسلامي تاريخ له پانو څخه (۱۰)

ليکوال : ډاکټر کفايت الله وردګ

د کمپيوټر چارې : محمد نذير (ذبيح) 03138182431

د چاپ وار : لمړی

د چاپ شمېره : ۱۰۰۰ ټوکه

ZamZam
Publication Company



زم زم
خپرندویه ټولنه

Zamzam_publication@yahoo.com
00923009808094
00923009101098

Unit R 7 Alwajid Plaza, Faisalcolony Chawk, Dalazak road
Peshawar, KPK, Pakistan







د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

په زړونو کې د اسلامي جذبې لرونکو ځو ورونو زمونږ ددې لپاره ملا تړلې ده چې تر پورتني نوم لاندې د کتابونو يوه سلسله روانه وساتو پدې هلو ځلو کې زمونږ هېڅ مالي او دنيوي فايده نشته زمونږ غرض صرف د الله تعالی رضا ده او پدې سلسله کې مونږ ځو نکتې تر نظر لاندې لرو چې مونږ دې ټولو هلو ځلو ته هڅوي .

١. پښتنو ورونو ته ددوی په خپله خوږه ژبه کې ديني معلومات ورکول.

٢. د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد را تازه کول .

٣. مسلمانو ورونو ته د دوی د مقدس دين په اړه د مطالعې ضمينه مساعدول.

٤. په تېر تاريخ کې د قربانيو مثالونه د نن زمانې ويده مسلمان امت ته ور په زړه کول .

٥. د اسلام په تاريخ کې د تېرو مسلمانانو د صبر واقعې هغه خلکو ته ور په يادول چې اوس هم په کومه نه کومه وجه د کفر له لوري نه ځوريږي .

٧. موجوده مسلماني جامعې ته موقع ورکول چې د خپلو تېرو مسلمانانو د ژوند، مېړانې، ځوانمردی، قربانی ... نه عبرت واخلي .

او بالآخره نوي ځوان تنکي نسل ته د اسلامي

تاريخ د لويو كتابونو څخه لويې خبرې د وړو رسالو او كتابونو په شكل كې ددوى د اسانتيا لپاره وړاندې كول .

دا پورتنۍ او څه نورې داسې نكتې دي چې مونږ ددې سلسلې روانې ساتلو ته هڅوي او ان شاء الله ترڅو مو چې وس وي دا لړى به مونږ همداسې روانه ساتو لله الحمد داده ستاسې تر لاسونو پورې ددې مباركې لړۍ لسمه كړى هم در ورسېده او پدې كړى كې مونږ د رسول الله ﷺ د يو څو پاكو او عفيفو صحابياتو رضوان الله عليهن ذكر ته مخ اړولى دى اميد دى چې ستاسې د خوښې وړ به و ګرځي او كه كوم ملګري دې لړۍ ته د لا زياتو ښه كولو لپاره په ذهن كې مشورې لري او يا خدمت كول غواړي زمونږ غېږه ورته خلاصه ده او كه ددې كتاب او يا دې لړۍ په اړه ستاسې څه ډول اعتراض، سوال، نيوكه، نكته، نظريه او يا مشوره وي نو ددې سلسلې چلونكي به يې لتاسې نه د كور ودانې په ويلو سره په ورين تندي واوري او په راتلونكو كتابونو كې به يې په ياد لري منڼه .

د زمزم خپرندويه ټولنې اداره

E-mail: zamzam_publication@yahoo.com

په اسلام کې اول شهیده

حضرت سمية بنت خياط رضی الله تعالی عنها

دا هغه بي بي وه چې الله ① ورته په داسې وخت کې شهادت نصيب کړو چې تر دې نه وړاندې دا مرتبه بلې ښځې ته نه وه ورکړل شوې دا مبارکه د عمار بن ياسر ❽ مور وه او ياسر بن عامر بن مالك بن کنانه بن قيس العنسي ❽ يې خاوند وو په مکه مکرمه کې په اسلام او يمان باندې مشرفه شوې وه او د هغه اوو کسانو له جملې نه وه چې په اسلام مشرف شوي وو ددې خاوند ياسر ❽ له يمن څخه راغلی وو دلته په مکه مکرمه کې يې د خپل ورک شوي يو ورور عبد الله لټون کولو يو دی وو او دوه له ده سره ورونه وو يو حارث او بل مالک بيا دی همدلته په مکه مکرمه کې پاتې شو او ورونه يې بېرته خپل ځای ته ستانه شول دی دلته پاتې شو او د ابا حذيفه بن المغيرة بن عبد الله بن عمر بن مخزوم سره يې حلف وکولو (دی به له هغه سره مرسته کوي او هغه به له ده سره په ممکن مشکل کې مرسته کوي) پدې وخت کې سمية رضی الله تعالی عنها د ابي حذيفة وينزه وه هغه يې ده ته په نکاح ورکړه ددې مبارکې نه ورته ماشوم پيدا شو عمار دا بيا ابو حذيفه ازاده

کړه او ددې له ازادي وروسته ابو حذيفه هم رحلت وکولو کله چې د اسلام رڼا مکې مکرمې ته راغله نو عمار د مور او پلار سره په اسلام مشرف شول همدارنګه پدې وخت کې دده يو بل ورور هم وو عبد الله ....

دوی هغه کسان وو چې د اسلام په شروع کې په ايمان مشرف شوي وو نو د کفارو د ظلمونو مخه دوی ته ور واوښته کفار ورغلل او څرنګه چې دا يوه داسې کورنی وه چې په مکه کې يې خپلوان نه درلودل ياسر ❽ له يمن څخه راغلی وو د ابي حذيفه سره يې حلف وو لکن هغه هم اوس مړ شوی وو او مېرمن يې هم ددې ځای نه وه هغه هم دلته وينزه وه نو له هېڅ لوري يې دلته خپلوان نه درلودل چې له دوی څخه يې دفاع کړې وای نو کفارو دوی دری واړه حضرت سمية، حضرت ياسر او حضرت عمار بن ياسر ﷺ ونيول په سره غرمه کې به يې په ګرمو شګو څملول تردې چې حضرت عمار بن ياسر د کفارو د خوشحال کولو لپاره دوی ته ښکاره کړه چې دی له خپل دين څخه تېر شو او بېرته د بتانو عبادت ته واوښتو نو دوی هغه پرېښودو او دی لاړو مدينې منورې ته د هجرت شرف يې حاصل کړو هلته يې رسول الله ☸ ته قصه وکوله او دا يې هم ورته وويل چې په ما باندې تکليف زيات شو بيا ما په تا پسې خبرې وکولې

او د دوی د بتانو لويي مې ورته وويله .. رسول الله ☸ ورځخه پوښتنه وکوله چې پدې حالت کې دې زړه څنګه وو؟ ده مبارک ❽ ورته وويل : يا رسول الله ☸ هغه په ايمان باندې ټينګ ولاړ وو نو رسول الله ☸ ورته و فرمايل : څه خبره نشته تا ښه کړي دي او که دوی بيا ته داسې ګير کړې نو ته هم بيا همداسې ورته ووايه او بيا دده په اړه دا آيت نازل شو .

من كفر بالله من بعد إيمانه إلا من أكره وقلبه مطمئن بالإيمان

دا مبارک بيا د رسول الله ☸ سره په بدر، اُحد ، خندق کې او بيا وروسته په واقعة الجمل کې شريک وو او په صفين کې په ربيع ا لاول کال ۳۷ کې په شهادت ورسيدو.

نو په مکه کې يې کفارو په مور او پلار باندې کفارو تکليفونه روان وساتل ترڅو يې بېرته له خپل دين څخه واړوي لکن څومره به چې په هغې باندې تکليفونه زياتېدل همدومره به هغه نوره هم په دين باندې ټينګېدله تردې چې په همدې تکليفونو کې يې خاوند ياسر شهيد شو بيا هم دا بي بي رضى الله تعالى عنها تراوسه په خپل دين ټينګه پاتې شوه او د خاوند په مرګ يې هم صبر وکولو او د ابي جهل کار همدا وو چې په هره لاره کېدلى شي خلک د اسلام نه واړوي او ددې لپاره به ده هر ډول کوښښ کاوه او که داسې څوک

به په اسلام مشرف شول چې د ښه عزت او د بدبې خاوند به وو او ډېر خلک به یې تابعداران درلودل ده به ورته ویل : اسلام پرېږده کنه نو زه به په خلکو کې ستا عزت کم کړم او دا مشري به دې له لاسه واخلم او خلک به درپسې را پورته کړم بې عزته به دې کړي او که څوک به مالدار او د تجارت خاوند وو د ه به ورته ویل د محمد له دین څخه واوړه کنه نو دا مال به د درته تباه کړم او لدې مال څخه به دې خلاص کړم او هغه کس چې به بې وسه او غریب وو لکه دا د حضرت یاسر ❽ کورنۍ نو هغه به یې په تعذیب کوله ترڅو پاک اسلام پرېږدي لکن دا حضرت سمیة رضی الله تعالی عنها په پوره مېړانه سره د ابي جهل ظلمونو ته سینه سپر کړې وه او هېڅ ډول ظلم ونشوای کولی چې دا مبارکه له خپل دین څخه تېره کړي د ټولو عذابونو سره یې نه ایمان کمزوری شو او نه یې په حوصله کې کمی راغلو او لکه د غره په شان په خپل ایمان ټینګه ولاړه وه یوه ورځ چې ابو جهل دې مبارکې ته خبرې کولې او ورته ویل یې : تا په محمد ☸ باندې ځکه ایمان راوړی دی چې ستا هغه خوښ دی دهغه شکل ستا خوښ دی ته ورباندې عاشقه شوې یې پدې وخت کې دا د زیات عمر خاونده وه دې د ابي جهل په مقابل کې هېڅ ډول ماتې نه منله او دهغه لعین خبرې ته یې داسې ځواب ور ګرځولو څنګه چې

په کار وو هغه ورته غصه شو دا مبارکه يې په نيزه باندې ووهله او له هغه زخم نه شهيده شوه او په اسلام کې د اولنۍ شهيدې لقب يې واخيستو الله ① يې دې په جنت کې درجې لوړې کړي .
کله چې ابو جهل په بدر کې د خپل عمل په سزا ورسېدو او ووژل شو نو رسول الله ❁ حضرت عمار ❽ ته وويل : الله ① ستا د مور قاتل ووژلو .

حضرت نسيبة بنت كعب رضى الله تعالى عنها

دا مبارکه حضرت نسيبة بنت كعب بن عمرو بن عوف بن مبذول بن عمرو بن غنم بن مازن ابن النجار الانصارية وه د اسلام په شروعاتو کې په ايمان مشرفه شوې وه د رسول الله ❁ سره يې بيعت کړی وو او د رسول الله ❁ سره د تکړه پهلوانانو په څېر په اُحد ، حديبية ، خيبر، حنين، يمامة، بيعة الرضوان، عمرة القضاء کې شريکه شوې وه د اُحد په ورځ چې کله حالات سخت شول د رسول الله ❁ د شهادت خطر را مينځ ته شو دې مبارکې هغه لوښی وغورځولو چې په کوم سره يې زخميانو ته اوبه ورکولې او توره يې را واخيسته او په ځوانمردي سره يې د رسول الله ❁ نه دفاع شروع کړه رسول الله

ﷺ فرمايي : ما داسې څه نه وو ليدلي کوم مې چې په اُحد کې د ام عماره نه وليدل ما به چې ښي طرف ته وکتل ام عمارة به مې وليده چې لما به يې دفاع کوله او چې به مې چپ طرف ته وکتل نو ام عماره به مې وليده چې لما به يې دفاع کوله .

د جنګ په حالت کې رسول الله ﷺ ورته وويل دومره څوک کولی شي لکه ته چې کوې ای ام عماره لما څخه وغواړه څه غواړې؟ دې ورته وويل په جنت کې ستا ملګرتيا .. رسول الله ﷺ ورته وويل تاسې ټول په جنت کې زما ملګري ياست .

حضرت ام عمارة رضی الله تعالی عنها د هغه کس سره په جنګ کې مخامخ شوه څوک چې رسول الله ﷺ ته ډير نېږدې راغلي وو او رسول الله ﷺ يې زخمي کړی هم وو او آواز يې هم کړی وو چې ما محمد قتل کړو دا عمر بن القئيمه وو په هغه باندې يې دری هلاکونکي ګذارونه وکول لکن د هغه د ښه قسمته هغه دوه غبرګې زغرې آغوستې وې ددې ګذار وربانديې اثر ونه کولو بيا هغه لعين په دې رضی الله تعالی عنها باندې ګذار وکولو او زخمي يې کړه پدې وخت کې په هغه باندې د بلې خوا نه حمله وشوه د هغه مخه نورو کسانو ته شوه او د ام عمارة رضی الله تعالی عنها مخه هم د نورو جنګياليو خوا ته واوښته .

رسول الله ﷺ فرمايي ما ابن قئمة وليدو چې دا مباركه يې په اوږه باندې ووهله او ددې مباركې په زخمونو كې تر ټولو نه لوى زخم همدا د اوږې وو په سبا باندې چې د حمراء الاسد آواز شو (د اُحد د ورځې په سبا باندې رسول الله ﷺ اعلان وكولو چې ټول را ټول شئ په دښمن پسې ورځو) نو دې مباركې هم ځان تلو ته تيار كړو لكن د همدې زخم وينه يې نشواى درولى او دهغه نه مسلسله وينه روانه وه بيا د تلو نه پاتې شوه او دې مباركې پدې زخم باندې تر يو كال پورې دوا كوله او مرهم يې پرې لګولو .

د اُحد د جګړې په پاى كې وكتل شول چې په دې مباركه رضى الله تعالى عنها باندې دياړلس زخمونه وو او اكثر پكې لوى وو د تورې نيزې او مختلفو وارونو داغونه يې په ځان كې وو .

همدارنګه كله چې د حضرت ابي بكر صديق ❽ په زمانه كې د ردت خلاف جنګونه شروع شول هغه وخت هم دې مباركې پخپله په جنګ كې تر هغه وخت پورې شركت كولو چې الله ﷺ مسيلمة كذاب ووژلو او هغه قصه پاى ته ورسېده كله چې ټول مجاهدين را ستانه شول دا مباركه ؓ هم را ستنه شوه او له هغه جنګونو څخه هم دا مباركه زخمي راغلې وه .

پدې وخت كې كله چې حضرت ابو بكر صديق ❽ حضرت

خالد بن ولید یمامة ته د مسیلمة کذاب په کسانو پسې لېږلو دا مبارکه ورته راغله ورته ویل یې : یا امیر المؤمنین زه له مجاهدینو سره جنګ ته لاړه شم؟

ابو بکر صدیق ❽ ورته ویل : هو ما په جنګ کې ستا کار کتلی دی څه د الله ① په نوم ته هم لاړه شه بیا یې حضرت خالد بن ولید ته ددې په اړه وصیت وکولو او ورته یې ویل چې دا مجاهده د خپل زوی سره ځي او ته هم وربانديې فکر کوه په همدې جنګ کې یې سخت جنګ کړی وو یو زوی یې هم په همدې جنګ کې شهید شو

د وهب الاسلمي په نکاح کې وه دده نه یې یو ماشوم وو حبیب نومیدو او کله چې هغه رحلت وکولو بیا یې د زید بن عاصم المازني سره نکاح وکوله او دهغه نه یې یو زوی عبد الله پیدا شو دا مبارکه د حضرت امیر المؤمنین عمر بن الخطاب ❽ په زمانه کې د هجرت په ۱۳ کال چې د ٦٣٤ سره سمون خوري وفات شوه .

په صحیح الترمذي او نسائي کې روایت دی رسول الله ☸ د دوی کور ته ورغلو دې مبارکې ورته ډوډۍ کېښوده رسول الله ☸ دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ته وویل : راځه ته هم وخوره دې مبارکې ورته وویل : زما روژه ده رسول الله ☸ وویل : د روژه لرونکي انسان په مخکې چې بل څوک خوراک کوي نو

په روږه لرونکي انسان باندې ملائکې درود وايي .

يوه ورځ رسول الله ﷺ له دوی سره خبرې کولې او دوی ته يې ويل ستاسې د کورنۍ ټول خلک غوره دي او ددې مبارکې زوی ته يې ويل ستا مور له فلان او فلان څخه غوره ده څه کسان يې ورته يادول دې مبارکې رسو الله ﷺ ته وويل : يا رسول الله ﷺ مونږ ته دعا وکوه چې په جنت کې ستا ملګري شو .. رسول الله ﷺ و فرمايل : ای الله ① دوی په جنت کې زما ملګري کړه .
بيا دې مبارکې وويل : پس ددېنه که په دنيا کې ماته هرڅه ورسيږي هېڅ پروا مې وربانديې نشته .

حضرت فاطمه بنت اسد رضی الله تعالی عنها

فاطمة بنت أسد بن هاشم بن عبد مناف د حضرت علي او عقيل رضی الله تعالی عنهما مور بي بي وه او صرف د دوی د پلار ابي طالب سره يې واده کړی دی او دا اوله هاشمية ښځه وه چې په هاشمي خاندان کې يې واده وکولو د رسول الله ﷺ سره يې بې نهايته مينه کوله او په ماشوم توب کې يې دده تربيه او پالنه کړې وه کله چې عبد المطلب وفات کېدو خپل زوی ابي طالب ددې مبارکې خاوند

ته يې د رسول الله ﷺ په اړه د ښې پالنې او پوره پاملرنې په اړه نصيحت وکولو نو دې مبارکې به د رسول الله ﷺ داسې پالنه کوله چې تر خپل اولاد څخه به يې زيات ناز ورکولو او رسول الله ﷺ به ورته مور ويله په هغو مسلمانانو کې وه چې د اسلام په شروع کې په اسلام مشرفه شوې وه او يولسم هغه انسان وو چې اسلام يې قبول کړو او اسلام يې هغه وخت قبول کړو کله چې رسول الله ﷺ خپلوانو ته د اسلام دعوت ورکړو دا مبارکه رضى الله تعالى عنها او حضرت علي ❽ هغه کسان وو چې دده غوښتنې ته يې لبيک وويل او هغه ښځه وه چې له مکې نه تر مدينې پورې يې په پښو باندې سفر وکولو کله چې د ښځو د بيعت په اړه باندې ايت نازل شو دا اوله ښځه وه چې د رسول الله ﷺ سره يې بيعت کړی وو کله چې رسول الله ﷺ وويل : د قيامت په ورځ به ټول خلک لوڅ را پاڅيږي نو دې مبارکې وويل وی افسوس .... بيا رسول الله ❽ چې دا ډېره خفه وليده او دې پدې اړه فکر کاوه چې د ټولو خلکو په مخ کې به زه لوڅه څنګه روانه وم؟ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : څه زه د تا لپاره سوال کوم چې الله ① تا په جامه باندې پټه را پاڅوي .

ددې د پلار اسد بن هاشم ددېنه بغير نور د اولاد

سلسله قطع شوه او صرف ددې اولاد يې د لمسيانو
په ډول باندې پاتې وو او دې مبارکې رضی الله
تعالی عنها ته الله ① ډېر نيکان اولادونه ورکړي
وو او په لاندې ډول وو .
طالب
حضرت علي ❽
حضرت عقيل ❽
حضرت جعفر طيار ❽
دوه يې لوراني وې
حضرت ام هاني رضی الله تعالی عنها
حضرت جمانة رضی الله تعالی عنها
په مدينه منوره کې د هجرت په پنځم او يا په
شپږم کال وفات شوه کله چې رسول الله ☸ ته ددې
دمرګ خبر راغلو ډېر زيات وربانديې خفه شو او
په منډه لاړو ځان يې ددې تر کوره پورې ور
ورسولو او سر ته ورته و درېدو او دعا يې ورته
وکوله په دعا کې يې ورته ويل : مورې الله ① دې
په تا باندې رحم وکوي ته زما د مور نه وروسته
مور وې ته به خپله وږې وې لکن ماته به د
خوراک راکولو تاته به خپله د جامې ضرورت وو
لکن تا به ماته جامه راکوله .
او دا هغه مبارکه ښځه وه چې رسول الله ☸ ورته
خپل قميص ورکړی وو او دهغه نه يې دې مبارکې

رضی الله تعالی عنها ته کفن جوړ کړی وو رسول الله ﷺ یې په بقیع کې په قبر کې ورښکته شو او په لحد کې یې ورته کار وکولو او خاورې یې ترینه را وویستې او هلته یې هم دې مبارکې ته دعا وکوله هلته یې په دعا کې ویل : ای الله ① زما د مور مغفرت نصیب کړې او قبر یې ورته فراخه کړې .

کله چې رسول الله ﷺ له قبر نه را پورته شو د خفګان نه یې ږیره مبارکه په لاس نیولې وه او تر سترګو مبارکویې اوښکې بهېدلې .

الله ① د ددې مبارکې درجې په جنتونو کې لوړې کړي .

أَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ عَبْدِ الله رضی الله تعالی عنها

أَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ عَبْدِ اللهِ بنِ أَبِي قُحَافَةَ عُثْمَانَ التَّيْمِيَّةُ أُمُّ عَبْدِ اللهِ القُرَشِيَّةُ، التَّيْمِيَّةُ، المَكِّيَّةُ، ثُمَّ المَدَنِيَّةُ.

د حضرت خلیفه عبد الله بن زبیر مور وه د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها خور وه او په ټولو مهاجرو ښځو کې وروسته وفات شویده حضرت عبد الرحمن بن ابي الزناد فرمایي : حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها د حضرت عائشې رضی الله تعالی

عنها نه لس كاله مشره وه او دېته ذات النطاقين نوم هم اخلي له هغه وخت نه يې دا نوم شو چې كله يې والد محترم ❽ د رسول الله ☸ د مكې مكرمې نه په هجرت روان وو نو رسول الله ☸ هم پدې وخت كې د دوى په كور كې وو او دې رضى الله تعالى عنها په مينه سره پلار ته د سفر اسباب تيارولو چې ددې ضرورت شو چې هغه سامان وربانديې وتړي نو په ناوخته او تادي كې هېڅ هم نه وو دا مباركه فرمايي ما مې والد محترم ❽ ته وويل دا په څه باندې وتړم زما سره يو ټكرى وو چې ما به وربانديې ملا تړله ما ورته وويل زما سره دا يو ټكرى دى ددې ټكري نه خو بغير لما سره هېڅ شى نور نشته دا مباركه وايي چې والد محترم ❽ مې راته وويل چې همدا په دوه ټوټو وويشه او دا وربانديې وتړه دا مباركه رضى الله تعالى عنها فرمايي بيا ما همداسې وكول هغه خپل كمر بند ټكرى مې دوه ټوټې كړو او هغه دواړه غوټې شيان مې وربانديې وتړل رسول الله ☸ چې دا هرڅه ليدل نو يې دې مباركې ته د ذات النطاقين (د دوو كمربندونو مالكه) لقب وركړو او رسول الله ☸ ورته و فرمايل (الله ① به ستا ددې كمر بند په بدل كې تاته په جنت كې دوه كمربندونه دركړي).

دا پخپله ، والد محترم یې ، نیکه یې ، او زوی یې عبد الله بن زبیر رضي الله عنه څلور واړه صحابه دي . مور مبارکه یې قتلة یا قتیلة وه هغه هم د بني عامر بن لوئی د کورنۍ څخه وه د حضرت زبیر بن عوام ❽ مېرمن وه په هغه کسانو کې وه چې د اسلام په شروع کې په اسلام مشرف شوي وو په اسلام کې آتلسم کس وو چې داخله شوه او د خپل والد محترم تر تر بیې لاندې وه او د خپل عمر په پسرلي موسم کې په اسلام مشرفه شوه عمر یې تر ۱٤ کلونو څخه نه وو آوښتی چې د اسلام او ایمان په نور منوره شوه رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ سره یې په توقی او ایمان باندې بیعت کړی وو .

کله چې ددې والد محترم ❽ د رسول الله ﷺ سره د مدینې منورې د هجرت په سفر روانېدو نو ددې زړه ډېر زیات غوښتل چې د خپل والد محترم سره یې پدې سفر کې برخه اخیستې وای او په لاره به یې د رسول الله ﷺ او خپل والد محترم خدمت کولو لکن له بله پلوه یې مجبوري وه چې په کور کې د ماشومانو سره پاتې وی په کور کې نور ماشومان وو نو یې له یوه پلوه د والد محترم د جدایي له امله اوښکې تویولې او له بله پلوه یې زړه غوښتل چې پدې مبارک سفر کې دا هم شریکه وای خو بالآخره په کور کې له مجبوریت نه پاتې شوه

د ماشومانو په اړه مسئولیتونه وو د هغوی پالنه وه او ترڅو چې حضرت رسول الله ﷺ او والد محترم ؓ مکې مکرمې ته په نیږدې ماحول کې دي هغوی ته خوراک ورلیږل هم دي ددې ټولو خبرو په نظر کې نیولو سره په کور کې پاتې شوه سره ددې چې پداسې حالت کې پاتې کېدل له خطر نه هم خالي نه وو پداسې حالت کې یې والد محترم ترینه رخصت کېدو چې د ټولو قریشو دښمني یې په غاړه اخیستې وه لکن بیا هم ددې په زړه کې ایمان دې مبارکې ته پوره اطمنان ورکړی وو او په الله ① یې داسې ایمان وو چې په زړه کې یې ډار ته ځای نه وو پاتې .

د رسول الله ﷺ او ددې د والد محترم ؓ د سفر نه وروسته چې یوه ورځ سحر وختي ویده وه په دروازه باندې سخت آواز او په زوره ټکولو را ویښه کړه دروازه یې خلاصه کړه ګوري چې ابو جهل په د روازه کې ولاړ دی لدې څخه یې ددې د والد په اړه پوښتنه وکوله لکن دې مبارکې ورته وویل : زما سره دهغه په اړه معلومات نشته .

ابو جهل چې زیات غصه وو او د غیرت او انسانیت په نوم یې هم په بدن کې څه نه وو په دې مبارکه یې لاس پورته کړو او وار یې پرې وکوله بېرته ورڅخه ستون شو .

هغه وخت را ورسېدو چې دې مبارکې هم هجرت کولو

❽ سره ددې چې پدې وخت کې حضرت عبد الله بن زبیر په حمل کې وو په هغه وخت کې سفر کول او منزل کول هم اسان کار نه وي لکن دا هرڅه یې د الله ① د رضا لپاره په غاړه واخیستل او څنګه چې مدینې منورې ته ورسېدل د مسجد قباء سره ورباندې د ماشوم د پیدا کېدو درد راغلو او هلته دا ماشوم پیدا شو د مدینې منورې په زمکه باندې اول مهاجر وو خلک ورته ډیر زیات خوشحال وو ددېنه مخکې مختلفې خبرې روانې وې چې د مهاجرو مسلمانانو په کورونو کې ماشومان ولې نه پیدا کیږي یهودو به ویل چې په مسلمانانو مونږ څه داسې جادو کړی دی چې په مدینه کې به د دوی اولاد نه پیدا کیږي او نورې هم دېته ورته خبرې وې لکن دا د مهاجرینو اول ماشوم چې رسول الله ﷺ ته ور وړل شو هغه ﷺ یې هم په لېدلو ډیره زیاته خوشحالي ښکاره کړه خپلې ناړې مبارکې یې د هغه ماشوم په خوله کې ورکړې د هغه تالو یې ورباندې لوند کړو مسلمانانو ورسره واخیست او په کوڅو کې به ورسره ګرځېدل لا اله الا الله یې په لوړ آواز ویل او تکبیرونه یې ورسره ویل او خلکو ته یې ښکاره کوله چې هغه ټولې خبرې بې بنیاده وې دادی الله ① د مدینې منورې په زمکه باندې مهاجر ماشوم هم پیدا کړو .

کله چې حضرت ابو بکر صدیق ❽ د رسول الله ☸ سره
په هجرت روانېدو نو په کور کې موجود مال یې
ټول ورسره واخیستو چې څلور زره د یو قول له
مخې پنځه زره او یا شپږ زره درهمه وو د حضرت
ابو بکر صدیق ❽ پلار چې پدې وخت کې په دواړو
سترګو ړوند وو دده ❽ کور ته راغلو حضرت
اسماء رضی الله تعالی عنها په کور کې وه نیکه (د
حضرت ابو بکر صدیق ❽ پلار) چې تر اوسه په
اسلام مشرف شوی نه وو خپلې لمسی ته وویل لکه
چې هغه ټول مال له تاسې نه یوړو او تاسې یې
وږې پرېښودئ ؟ حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها
فرمایي وږې وږې شګې مې را ټولې کړې او په
هغه ځای کې مې واچولې چېرته به چې مونږ پیسې
ساتلې او لپاسه مې وربانديې یوه کپړه واچوله
او بیا مې دده لاس واخیستو په هغه باندې مې
ولګولو او ورته مې وویل : مونږ ته یې دومره
څه پرېښي دي دی چې په دواړو سترګو باندې
ړوند وو په هغه ډیرې یې لاس ووهلو او بیا یې
وویل ښه څه چې دومره څه یې درته پریښي دي بیا
خو ښه خبره ده .
حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها چې ډېره هوښیاره
او ځیرکه ښځه وه پدې کار سره یې دوه کارونه
وکول .
اول دا چې ددېنه وروسته به دا سپین ږیری په

فکر او اندیښنه کې نه وي چې زما لمسیان به د لوږې مړه شي .
بل دا چې دی به په دوی باندې خپل مال نه مصرف کوي او حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها نه غوښتل چې د مشرک تر نیکۍ لاندې راشي او د هغوی احسان ور باندې شي .
دا مبارکه رضی الله تعالی عنها فرمایي کله چې ما د زبیر ابن العوام سره واده وکولو هغه ډېر غریب وو په ټول کور کې یې یو آس درلود او ما به دهغه خدمت کولو سخت تکلیفي ژوند مې وو یو څه وخت وروسته مې والد محترم راته یو خادم را ولېږلو داسې ښکارېده لکه والد مې چې زه ازاده کړې وم او سمه ورته خوشحاله وم هغه خادم به ماته هغه کارونه کول چې ما به نشو کولی د آس خدمت هم هغه کول او له باغ نه کجورې هم هغه راوړې او نور داسې کارونه وو چې زه ترې خلاصه شوم .
عبد الله بن زبیر ❽ چې خلیفه وو دې ورته وویل : حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها فرمایل رسول الله ☸ و فرمایل : که زه ددېنه نه ډارېدلی چې ستا اهل (قریش) نوي مسلمان شوي دي (د ځینو په زړونو کې اسلام تراوسه ښه ځای نه دی نیولی) نو ما به د کعبې تعمیر هغه شکل کړی وو کوم چې د حضرت ابراهیم علیه السلام تعمیر وو نو ددې

مبارکې ❽ زوی چې پدې وخت کې خلیفه وو او اوس
یې په وس کې وو نو د رسول الله ☸ ددې ارمان د
پوره کولو لپاره یې حکم وکولو چې د کعبې دې
هغه پخوانۍ تهدابونه را و کېنستل شي او په
هغه تعمیر یې جوړوو په کوم تعمیر چې حضرت
ابراهیم ⌛ جوړه کړې وه .

کله چې د حجاج بن یوسف له خوا ددې مبارکې زوی
حضرت عبد الله ❽ محاصره کړل شو حجاج په ده ❽
باندې محاصره اوږده کړه ددې محاصرې له امله
په مکه مکرمه کې د خوراکي توکیو کمي راغله او
خلک د آسونو حلالولو او خوړلو ته مجبور شول
نو چې کله حالات په سختي کې دې حد ته ورسېدل
نو د عبد الله بن زبیر ❽ ډیر کسان حجاج ته
تسلیم شول او اوس یو څو محدود او خاص کسان د
عبد الله بن زبیر ❽ سره پاتې وو او څرنګه چې
حالات نور هم په سختېدو وو نو په دوی باندې هم
څه ډیر اعتبار نه وو .

د حالاتو دې نازکتوب ته په کتلو سره حضرت عبد
الله بن زبیر ❽ لاړو د خپلې مور حضرت اسماء رضی
الله تعالی عنها سره یې مشوره وکوله او هغې ته
یې ټول حالات وویل بیا یې ورته وویل په داسې
حالاتو کې ستاسې مشوره څه ده مورې مونږ څه
وکوو سره ددې چې اوس مونږ ته د تسلیم کېدلو

په بدل کې زمونږ سره د ښې رويې وعده هم راکړل شويده ؟

مور مبارکې يې ورته وويل :

بچيه ته پخپله خپل حالت ته وګوره که ته چېرته په حق سره جنګېږې نو خپل جنګ روان وساته او بالکل دښمن ته د تسليم سر مه ښکته کوه ځکه ستا ډېرو ملګرو ددې حق لپاره خپل ځانونه قربان کړي دي او که چېرته ته د کوم دنياوي مقصد لپاره جنګ کوې نو په زمکه به د الله ① په بندګانو کې تر تا بد بخت بنده کوم يو وي چې په خپله دې ځان په هلاکت کې واچولو او نور ملګري دې هم هلاک کړل او يا دې هلاکت ته نېږدې کړل او اوس که ستا دا عذر وي چې زه د الله ① لپاره جنګېدم لکن اوس مې ملګرو پرېښودم يوازې شوم نو ياد لره چې د الله ① مخلصو بندګانو هېڅکله داسې نه دي کړي چې په هغوی مشکلات راغلي وي نو دوی د ښمن ته تسليم شوي وي ته تر څه وخته پورې په دنيا کې ژوند کول غواړې؟ مرګ خو خامخا يوه ورځ راځي څه لاړ شه په حق باندې ځان قربان کړه په دنيا کې له ژوند څخه په حق قربانېدل غوره دي .

چې د مور دا ځواب يې واورېدو حضرت عبد الله بن زبير ❽ ورته وويل :

زه صرف په دې ډارېږم که دښمن ما مړ کړي زما

شکل به خراب کړي او په دار به يې وځړوي .
مور يې ورته وويل کله چې کوم حيوان قتل کړل شي بيا دهغه نه چې څرمن ويستل کيږي مړه حيوان ته ورڅخه هېڅ ډول تکليف نه رسيږي ځه لاړ شه د الله ① نه مرسته وغواړه او په پوره طريقې سره خپل کار وکوه زه به په هر حالت کې صبر کوم که ته چېرته زما څخه وړاندې له دنيا څخه رخصت شوې نو زه به صبر کوم او که ته چېرته کامياب شوې نو په کاميابي به دې خوشحالي کوم .
دا خبرې يې ورته وکولې او خپل زوی يې رخصت کړو .
قاسم بن محمد رحمه الله فرمايي ما د عبد الله بن زبير ❽ نه واورېدل هغه فرمايل : ما داسې سخي ښځې نه دي ليدلې لکه حضرت عائشه او حضرت اسماء رضی الله تعالی عنهما لکن د دوی په سخا کې فرق وو حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها به مال سره جمع کولو او چې کله به يې يو څه سره جمع کړو بيا به يې په مناسب ځای کې مصرف کړو او حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها ته به چې څه په لاس ورتلل په هغه وخت کې به يې صدقه کول او هېڅ شی يې نه ذخيره کول .
حضرت فاطمه بنت المنذر رضی الله تعالی عنها فرمايي کله به چې حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها بيماره شوه نو ددې به چې غلامان وو هغه به يې ازاد کړل .

امام واقدي رحمه الله فرمايي : حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله به د خوبونو تعبير په ډېر ښه ډول سره كولو او دا يې د حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها څخه زده كړی وو او هغې مباركې د خپل والد محترم ❽ څخه زده كړی وو .

حضرت شعيب بن طلحة د خپل پلار نه روايت كوي هغه ❽ به فرمايل :

حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها به خپل زوی ته هروخت فرمايل : **يَا بُنَيَّ، عِشْ كَرِيْماً، وَمُتْ كَرِيْماً، لاَ يَأْخُذْكَ القَوْمُ أَسِيْراً** (يعني ای بچيه د عزت ژوند د نصيب شه د عزت مرګ د نصيب شه او خپلو دښمنانو ته ژوندی په لاس ور مه شې) .

الله ① ورته لوی زړه وركړی وو د ډېرو سړيو نه يې غيرت زيات وو حضرت هشام بن عروة ❽ فرمايي يو وخت چې په مدينه منوره كې غله پيدا شول د سعد ابن العاص ❽ په زمانه كې دې مباركې يو لوی خنجر ورسره ساتلی وو او چې كله به ويده كېده تر سر به يې لاندې كولو .

كله چې عبد الله بن زبير ❽ ددې مباركې رضی الله تعالی عنها زوی په شهادت ورسول شو دهغه نه دا په يو څو ورځو وروسته وفات شوه دا چې سخته بېماره وه پدې وخت كې حجاج په عبد الله بن زبير ❽ باندې كړی ورو ورو تنګوله نو زوی يې

پوښتنې ته راغلو ورته ویل یې مورې څنګه یې؟

دې ورته وویل بیماره یم په تکلیف کې یم .

عبد الله بن زبیر ❽ په خوش طبعي کې ورته ویل : څه په مرګ کې عافیت (له دردونو څخه جوړ والی دی) .

دې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : ته لکه چې زما مرګ غواړې مه یې غواړه .

بیا یې وخندل او ورته یې وویل : زما د قسم وي چې ترڅو مې مرګ ته زړه نه کیږي ترڅو ستا حال معلوم نه شي چې یا د فتح په نصیب شي زه به خوشحاله شم او یا د شهادت نصیب شي زه به وربانديې صبر وکوم .

حضرت ابن ابي ملیکة فرمایي زه وروسته ددې چې حضرت عبد الله بن زبیر ❽ په شهادت ورسول شو ورغلم هغې راته وویل : آورېدلي مې دي چې عبد الله ❽ په دار کړل شوی دی ① الله د ما تر هغه وخته پورې نه مړه کوي چې ترڅو ماته د هغه جسد مبارک را ونه رسیږي زه به یې په کفن کړم او خدمت به یې وکوم وروسته مو بیا ورته راوړو پداسې حالت کې چې نظر یې بالکل کار پرېښودی وو په خپل لاس یې هغه ته کفن ور وا غوستلو د یو بل روایت له مخې چې مونځ یې هم وربانديې وکولو او ددېنه وروسته یوه هفته نه وه تېره

شوې چې دا هم وفات شوه .

نو چې د خپل زوی عبد الله ❽ د شهادت نه وروسته په یو څو ورځو کې وفات شوېده نو د هغه د تاریخ نه ددې تقریبي تاریخ هم معلومیږي او دهغه ❽ شهادت د هجرت په ۷۳ کال د جمادی الاول په اولسم تاریخ وو .

او د ټولو مهاجرینو آخري انسان وو چې وفات شو رضی الله تعالی عنها و عن جمیع المهاجرین و الانصار

د حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها څخه دا حدیث نقل شوی دی چې دا رسول الله ☸ فرمایل :

زه به په حوض باندې ولاړ وم انتظار به کوم چې په تاسې کې څوک هلته راځي .

لکه مخکې چې تېر شول د ځوانی په شروع کې په ایمان مشرفه شوې وه ډېره زیاته تقوی لرونکې وه په ځوانی کې یې خپل اندامونه له ګناه څخه وساتل او کله یې چې عمر زیات شو نو الله ① یې ټول اندامونه له بیماریو څخه وساتل د سلو کلونو په عمر کې وفات شوه او تر مرګه پورې یې غاښ نه وو غورځېدلی (سبحان الله)

حضرت خولة بنت ازور رضی الله تعالی عنه

د ځینې روایاتو له مخې د جلیل القدر صحابي ضرار بن ازور ❽ خور وه مجاهده ښځه وه په مختلفو جنګونو کې د مجاهدینو سره په جنګ کې شریکه شویده هلته یې د زخمیانو درملنه او زخمیانو ته اوبه ورکول او نور خدمتونه یې کړي دي په شهامت او غیرت کې تر ډېرو سړیو ځخه وړاندې وه ددې د غیرت دوه قصې ددې سلسلې په شپږم کتاب کې هم تېرې شوې وې زه یې دلته د موضوع د تکمیل په موخه را ګرځول غواړم .

کوم وخت چې حضرت خالد بن ولید ❽ دمشق محاصره کړی وو ولیدل شول چې له مسلمانانو ځخه په پناه ځای کې خلک ګډېږي مسلمانانو پدې ا ړه تحقیقات وکول نو ښکاره شوه چې دوی خوشحال دي د مرستې لپاره یې یو لوی لښکر را روان دی حضرت خالد بن ولید ❽ د پنځه سوه آسونو سپاره کسان را غونډ کړل او دوی ته یې وظیفه ورکړه چې د نوي لښکر مخه ونیسي او هغوی پرې نه ږدي چې په دمشق کې د محاصره کسانو سره مرسته وکوي د دوی په مشري کې یې حضرت ضرار بن ازور❽ مقرر کړو او دا کسان یې مخې ته ور ولېږل حضرت ضرار ❽ خپل کسان د هغوی د راتلو په لاره کې ورته پټ کړل او کمین یې ورته ونیولو چې کله رومیان د دوی مینځ ته شول پنځه سوه کسانو وربانې په یو دم حمله وکوله ډېر زیات رومیان

ووژل شول او حضرت ضرار هم په زخمي حالت کې ژوندی اسیر شو .

کله چې حضرت خالد بن ولید ❽ ته خبر راغلو چې حضرت ضرار یې ژوندی ونیولو نو په خپل ځای باندې یې حضرت میسره بن مسروق ❽ خلیفه پرېښودو او پخپله د هغه لښکر مخې ته ورغلو چې کوم په دمشق کې د محاصره کسانو مرستې ته را روان وو او همدې کسانو حضرت ضرار اسیر کړی وو پدې ډله کې چې دوی ور روان وو یو جنګیالی ښکاره کېدو چې په حجاب کې وو مخ یې نه ښکاره کېدو په جنګي لباس باندې پوښلی وو صرف دوه سترګې یې ښکاره کېدلې او په یوه لوړ او تکړه آس سپور وو حضرت خالد بن ولید ❽ چې څومره د کسانو څخه پوښتنه وکوله چاته ددې جنګیالي په اړه معلومات نه وو خو په جنګ کې یې داسې حرکت کولو چې فکر کېدو دا خالد بن ولید ❽ دی په ډېره مېړانه سره یې حمله کوله او په ډېره مېړانه سره یې د دښمن سر پرې کولو او دا دواړه د خالد بن ولید ❽ خصوصیتونه وو جنګ په سختي سره روان وو لکن د خالد بن ولید ❽ پدې جنګیالي باندې نظر وو چې د جنګ سختې لحظې لږ په قرار شوې نو حضرت خالد بن ولید ددې کس سره مخامخ شو چې دواړه په آسونو باندې سپاره وو او پوښتنه یې ترې وکوله چې نوم دې څه دی او د

کوم ځای یې څوک یې؟ هغه جنګیالی د حضرت خالد بن ولید په ځواب کې پټه خوله وو خلکو ورته وویل امیر لتا څخه ستا په اړه پوښتنه کوې او ته چپ یې؟

جنګیالي بیا سر ښکته کړو او ویې ویل زه خوله بنت ازور د حضرت ضرار ❽ خور یمه کله چې ماته معلومه شوه چې هغه ژوندی نیول شوی دی نو مې صبر ونشو او د خپل ورور د خلاصولو لپاره د جنګ میدان ته را غلم .

حضرت خالد بن ولید ❽ ورته ویل : خولة خورې ته لاړه شه خپلې خیمې ته ترڅو چې مونږ ضرار د دوی له لاسه را خلاص کړی نه وي مونږ په ارام نه کینو هغه خو د اسلامي لښکر یوه قیمتي سرمایه ده ته بېغمه شه او ورته ټینګ شو تردې چې هغه یې ولېږله هغه خپلې خېمې ته لاړه هلته نورې خویندې هم وې چې د اسلامي لښکر سره د زخمیانو د درملنې او خدمت لپاره راغلې وې .

او د پوره کوښښ نه وروسته حضرت ضرار د کفارو له لاس نه را خلاص شو .

د د مشق د محاصرې په وخت کې یو رومي مشر پطروس مسلمانانو ته دوکه ورکړه او څو زنانه یې په دوکه سره د سوریې د حمص ښار سره نېږدې ونیولې چې په دوی کې په پورتنۍ قصه کې یاده کړل شوې حضرت خوله رضی الله تعالی عنها هم وه دا یې د نهر استریاق په لوري روانې کړې له بله پلوه د مسلمانانو فوځونو سالار حضرت خالد بن

ولـيد ❽ تـه چې دا خبره معلومه شوه په ډېره تـادي سره يـې دوه زره کسان لـه ځان سره مـلګري کړل او د نـهر استرياق پـه لـوريـې حرکت وکـولـو نـهر تـه لـه رسېدلـو سره د رومـيانـو لـښکر دمـه وکـولـه پـدې ځای کې يـې مسلمانانـو ښځو تـه وويـل تـاسې بـه زمـونږ سره واده وکـوئ او دهغې نـه وروسته بـه د دنـيا هر نـعمت ستاسې پـه وړانـدې وي او حضرت خولـه رضی الله تـعالـی عنـها تـه پـطروس چې ډېر مـالـدار وو او د ډېرو رومـيانـو پـه سر مشر وو د خپل ځان لـپاره رغبت وركـولـو چې لـه ده سره واده وکـوي او هر ډول تـرغيب يـې ورکـولـو د پـطروس د ډېرو تـرغيبي خبرو پـه ځواب کې حضرت خولـه رضی الله تـعالـی عنـها ورتـه وويـل :

زمـا چې وس شي پـدې لـرګي بـانـدې زه ستا سر مـاتـوم زه تـا د خپلـو مېږو د څرولـو لـپاره هم نـه نـيسم تـه خو لا دا وايـي چې زه لـتا سره واده وکـوم .

پـدې وخت کې حضرت خولـه رضی الله تـعالـی عنـها نـورو ښځو تـه وويـل چې کـه بـل څـه نـشتـه ددې خيـمي لـرګي خو شتـه راځئ چې دا ټـول را وبـاسو او ددې رومـيانـو سپـيو سرونـه وربـانـدې مـات کړو لـکن پـه خپلـو ځانـونـو او پـه خپـل قـوم بـانـدې خو د بـيغيـرتـي داغ پـرې نـه ږدو .

دوی لـرګي را وويـستل او د رومـيانـو سره يـې وهل وربـانـدې شروع کړل او پـدې کې دری رومـيان د لـرګيو پـه وهلـو وهلـو سره ووژل شول تـرڅو چې د نـور لـښکر د دوی خوا تـه مخه کېدلـه او دوی يـې بـيا نـيولـې د حضرت خالـد بـن ولـيد ❽ د کسانـو د تـکبير اوازونـه د فـوځيانـو تـر غوږونـو را

ورسېدل په داسي حالت کې چې د خالد بن ولید ❽ سره موجود ۲۰۰۰ مومنان د غیرت نه دغصې آخري حد ته رسېدلي وو په دښمن یې داسې حمله وکوله چې یو یې هم د خطر په نوم په دنیا کې کوم شی نه پېژندل سخت جنګ وشو هېڅ هم نه ښکاره کېدل صرف یو ګرد وو چې له زمکې نه پورته کېدو تردې چې ډېر زیات رومیان ووژل شول او پاتې یې له میدان څخه په تېښته بریالي شول او مسلماني خویندې په امان ددوی له لاسه را خلاصې کړل شوې .

دا مبارکه د حضرت عثمان ❽ د خلافت په زمانه کې وفات شوه .



حضرت عاتکه بنت زید رضی الله تعالی عنها

نسب يې :

عاتکة بنت زيد بن عمرو بن نفيل بن عبد العزى بن رياح بن عبد الله بن رزاح بن عدي بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان

د حضرت سعيد بن زيد ❽ خور وه او سعيد بن زيد دهغه لسو کسانو له جملې څخه وو چې په دنيا کې د جنت زيرى ورکړل شوى وو .

دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ته زوجة الشهداء (د شهيدانو مور) هم ويل کيږي دا مبارکه چې په اسلام مشرفه شوه نو الله ① ورته د هجرت شرف هم ور په برخه کړو هجرت يې وکولو د عبد الله بن ابي بكر ❽ سره يې واده وکولو هغه مبارک په غزوة طائف کې د مکې مکرمې د فتح په کال زخمي شو څه وخت وروسته هغه زخم خراب شو بيا د همدې زخم له امله په شهادت ورسېدو بيا يې د هجرت په دولسم کال د حضرت عمر ابن الخطاب ❽ سره واده وکولو دده مبارک نه يې ډير علم زده کړو او دده د تقوى او زهد نه يې ډيره استفاده وکوله بيا هغه ❽ هم د ابي لؤ

لؤ په خنجر باندې د هجرت په ۲۳ کال د ذی الحجې په ۲٦ باندې شهید کړل شو بیا یې د حضرت زبیر ابن العوام سره واده وکولو هغه هم په ۳٦ هجري کې په کوفه کې شهید شو د مانځه په حالت کې عمرو بن جرموز کس له شا نه ووهلو ، بیا یې د محمد بن ابي بکر سره واده وکولو هغه په مصر کې د هجرت په ۳۸ کال د معاویة بن خدیج په لاس شهید شو ویل کیږي چې دې مبارکې رضی الله تعالی عنها پدې وخت کې ویل زه له بل چا سره واده نه کوم که زه د ټولو خلکو سره واده وکوم دا ټول به هم مړه شي لکن ددېنه وروسته یې بیا د حضرت حسین ❽ سره واده وکولو هغه په کربلا کې په شهادت ورسیدو ددېنه وروسته به ددې په اړه ویل کېدل څوک چې شهادت غواړي نو د عاتکة رضی الله تعالی عنها سره دې واده وکوي ددېنه وروسته مروان بن الحکم وغوښته لکن دې مبارکې له واده نه انکار وکولو او ویې فرمایل ږ: د رسول الله ❁ د خاندان څخه وروسته بله سخرګنی جوړول نه غواړم

د یوه روایت له مخې د زبیر بن العوام نه وروسته حضرت علي ❽ وغوښته لکن دې مبارکې ورته وویل : زه لتاسره واده نه کوم ځکه زه نه غواړم چې ته هم شهید شې د یو روایت له مخې دا خبره صحیح نه ده چې د حضرت حسین ❽ سره یې

واده کړی وو ځکه هغه وروسته شهيد شو او ددې مبارکې په اړه ويل کيږي چې د حضرت معاوية رضی الله تعالی عنه په وخت کې د هجرت په ٤١ کال کې وفات شوه .

فاطمة بنت الخطاب رضی الله تعالی عنها

نسب يې :

هي فاطمه بنت الخطاب بن نفيل بن عبد العزي بن رباح بن عبد الله بن قرط بن عدي بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور يې : حنتمة بنت هاشم بن المغيرة القرشية المخزومية

کنية نوم يې ام جميل وو لقب يې اميمة وو د حضرت امير المؤمنين عمر بن الخطاب ❽ خور وه او د حضرت سعيد بن زيد ❽ مېرمن وه لکه مخکې چې تېر شول حضرت سعيد بن ز يد هغه کس وو چې په دنيا کې د جنت زيری ورکړل شوی وو د حضرت فاطمې بنت خطاب د حضرت سعد نه يو ماشوم وو عبد الرحمن نوميدو .

او دې مبارکې هغه وخت خپل نوم په زرينو کرښو په تاريخ کې ثبت کړو کله چې د خپل ورور د

اسلام لــپـاره سبب شوه او د ورور اسلام يـې د اسلام د تـرقـي او د ښکـاره کـولـو لامـل شو د حضرت حمزة اسد الله و اسد رسولـه ❽ د اسلام نـه دری ورځې وروستـه قـريـشو ددې لـپـاره مـشوره کـولـه چې هره ورځ د مـحـمـد ☸ د خبـرو لـه امـلـه پـه مـکـه کې يـوه نـوې مـشکـلـه ورځ وي نـو ښه داده چې مـحـمـد ☸ قـتـل کـړل شي او ددې ټـولـو خبـرو بـنـيـاد بـه ختم کـړل شي ددې کـار لـپـاره عمـر ابـن الـخطـاب انـتـخاب شو او دا کـار يـې پـه غـاړه واخستـو څرنـګه چې هغـه يـو تـکـړه ځـوان وو نـو کـوم کـار بـه يـې چې پـه غـاړه واخيستـو پـه هغـه کې بـه بـريـالـی راتـلـو نـو ټـولـو کـفـارو فـکـر کـاوه چې ښکـاري مـحـمـد ☸ بـه تـر سبـا پـورې ژونـدی پـاتـې نـه شي عمـر ابـن الـخطـاب د لـوڅې تـورې سره پـه رسول الله ① پـسې ور روان وو چې پـه لاره کې نـعـيـم ابـن عبـد الله الـمخزومـي ورڅخه ددې د قـصد او عزم پـوښتـنـه وکـولـه ده ورتـه وويـل ځم د مـحـمـد ☸ پـه قـتـل پـسې .

هغـه ❽ ورتـه وويـل : تـه دهغـه پـه دعوت دومره غصه يـې او ستـا خپـل آوښي حضرت سعيـد او ستـا خور فـاطمې رضی الله تـعـالـی عنـهمـا چې اسلام قـبـول کـړی دی پـه هغـه بـانـدې هيڅ غصه نـه درځي؟ ددې خبـرې پـه آوريـدو سره يـې رايـه بـدلـه شوه او سيـده د خپـلې خور کـور تـه لاړو د کـور نـه بـهر يـې غوږ ونـيـولـو

چې د قران کریم تلاوت کېدو او قران زده کول کېدو پدې سره نور هم غصه شو چې دوی ورته دروازه خلاصه کړه په خپل آوښي يې د وهلو شروع وکوله او سخت سخت يې ووهلو کله يې چې خپل خاوند په داسې حالت کې وليدو نو فاطمه بنت الخطاب رضی الله تعالی عنها هم په جذباتو کې راغله ورته يې وويل :

ای عمره ای زما وروره څه چې کول غواړي وکوه مونږ اوس اسلام قبول کړی دی او کله به هم بېرته د کفر خوا ته ور ونه ګرځو .... دې يوې جملې د عمر ابن الخطاب ټول ژوند بدل کړو او پخواني يې هرڅه د زړه څخه ووتل يوه لحظه غلی وو بیا يې خور ته وويل : ښه ده تر اوسه پورې چې تاسې څه لوستل هغه ماته راکړئ دوی ورته وويل مونږ په هغه باندې لتا څخه ډاريږو و حضرت عمر ❽ ورته په خدايانو باندې قسم وکولو چې مه ډاريږئ ماته يې راکړئ کله يې چې وګورم بېرته يې درکوم خور ئې ورته وويل : ته اوس پاک نه يې ته به اول غسل وکوې نو بيا به زه دا تاته درکړم بې اودسه ددې سره لاس لګول نا روا دي حضرت عمر ❽ اودس وکولو او بيا يې په قران کریم کې شروع وکوله ويې ويل :

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ : طه ﴿١﴾ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ

ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ﴿٢﴾ إِلَّا تَذۡكِرَةً لِّمَن يَخۡشَىٰ ﴿٣﴾ تَنزِيلاً

مِّمَّنۡ خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلۡعُلَى ﴿٤﴾ ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ

ٱسۡتَوَىٰ ﴿٥﴾ حضرت عمر ❽ پدې وخت کې وويل دا

ځومره ښه کلام دی حضرت عمر ❽ فرمايي ما چې دا وويل نو حضرت خباب بن الارَت چې کله زما د دروازې ټکول آورېدلي وو پټ شوی وو هغه را پيدا ځېدو او راته يې وويل پرون رسول الله ☸ دعا کوله چې يا الله ① اسلام ته په دوو عمرونو کې (عمر بن الخطاب عمرو ابن هشام (ابي جهل)) باندې د اسلام تائيد وکوه حضرت عمر ❽ ورته فرمايي ماته رسول الله ☸ را وښايه دوی ورته دا رالارقم ور وښودو کله چې حضرت عمر ❽ دروازه و ټکوله د دروازې له سوريو ځخه چې وکتل شول عمر ❽ ولاړ دی او توره يې په لاس کې ده صحابه وو ورمنده کړه رسول الله ☸ ته يې وويل عمر راغلی دی په دروازه کې ولاړ دی او توره يې په لاس کې ده ..

حضرت حمزة ❽ ورته را پاځېدو ورته يې وويل : اجازه ورکړئ چې راشي که د خير په نيت راغلی

وي نو ورته و به رسيږي او كه د شر په نيت راغلى وي نو د همده په توره به يې مونږ ووژنو (دا داسې خبره وه چې د ټولو مسلمانانو زړونو ور باندې اوبه و څښلې او ډېر پرې خوشحال شول او په مسلمانانو كې همدا يو د الله ① او دهغه د رسول زمرى وو چې دا خبره يې كولى شول) رسول الله ﷺ امر وكولو چې دروازه ورته خلاصه كړئ هغه را ننوتلو او په اسلام مشرف شو ددې واقعې لويه او بنيادي برخه يې د همدغې خور حضرت فاطمې بنت الخطاب اسلام وو.

دا مباركه له يوه پلوه زياته زړوره وه او له بله پلوه د راز په ساتلو كې يې بې ساري كوښښ كاوه او د اسلام په شروع كې يې د يو ښه داعي په ډول كار كولو هغه وخت چې د كفارو يوه ټولي په رسول الله ﷺ او په ابي بكر صديق ❽ باندې حمله وكوله نو حضرت ابي بكر صديق ❽ يې په داسې ډول ووهلو چې بې هوښه شو كور ته نقل كړل شو د حضرت ابي بكر صديق ❽ مور په اسلام نه وه مشرفه شوې نو چې د بې هوښي نه يې سترګې را پورته كړې د مور نه يې پوښتنه وكوله : د رسول الله ﷺ څه حال دى؟ مور يې ورته وويل ستا د ملګري په اړه راته معلومات نشته ده ❽ خپلې مور ته وويل ورشه د ام جميل بنت عمر ❽ نه

پوښتنه وکوه چې رسول ﷺ څنګه دی؟ ام الخیر د ابي بکر صدیق ؓ مور راغله حضرت فاطمې بنت خطاب رضی الله تعالی عنها ته یې ویل ابو بکر پوښتنه کوي چې رسول ﷺ څنګه دی؟ دې ورته ځواب ورنه کړو بلکه ورته یې وویل : زه نه یم خبره چې محمد بن عبد الله او ابو بکر څوک دي او زه ورځخه نه یمه خبره که ته غواړې زه به لتا سره ستا د زوی خوا ته لاړه شم ویې ګورم چې دا ته څوک یادوې نو مور یې ورته وویل سمه ده راځه لما سره لاړه شه کله چې ورغله حضرت ابي بکر صدیق ؓ یې په داسې حالت کې ولیدو نو یې وویل : الله ... دې فاجرانو فاسقانو لتاسې سره داسې څه کړي دي الله ① د له دوی نه انتقام واخلي هغه ؓ ورځخه پوښتنه وکوله رسول الله ﷺ څنګه دی؟ دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : دا ستا مور ده هغه آوري؟ حضرت ابو بکر صدیق ؓ ورته وویل : خیر دی پرواه نه کوي ووایه بیا دې ورته وویل هغه ﷺ جوړ روغ او صحیح سلامت دی ده مبارک ؓ بیا پوښتنه وکوله : چېرته دی؟ حضر فاطمې بنت الخطاب ورته وویل : په دار الارقم کی دی .

حضرت فاطمة بنت الخطاب رضی الله تعالی عنها ډېره هوښیاره تکړه او د خپل خاوند سره

وفاداره ښځه وه کله چې د حضرت خباب بن الارت په دعوت باندې ددې خاوند اسلام ته تیار شو نو د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر کړل شو او په اسلام مشرف شو کله چې کورته راغلو نو خپلې بي بي ته یې دا قصه کوله چې نوی دین مې واورېدو او نوی پیغمبر مې ولیدو نو بي بي ورته په پوره توجه سره غوږ نیولی وو ده لا خپله قصه پوره کړې نه وه چې حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها مسلمانه شوه بیا به حضرت خباب بن الارت د یوڅه وخت لپاره کورته ورته راتلو او دوی ته به یې اسلام او قران ور زده کولو پدې ورځ چې حضرت عمر ❽ په آخري ځل د کفر په حالت کې د دوی کورته راغلی وو په هغه وخت کې هم حضرت خباب د دوی په کور کې وو او دوی ته د علم د ورښودنې لپاره راغلی وو.

حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ نه حدیث نقل کړی دی هغه فرمایي : رسول الله ﷺ فرمایل : زما امت به تر هغه وخته پورې په خیر وي ترڅو چې د دوی په فاسقو علماوو، په بې علمه قاریانو او ظالمانو حاکمانو کې د دنیا سره مینه نه وي پیدا شوې او کله چې دا شی پکې پیدا شول نو بیا زه ددینه ډارېږم چې یو عام عذاب به په دوی باندې راشي .

أسماء بنت عميس رضی الله تعالی عنها

دا د قدر وړ صحابية حضرت اسماء بنت عميس بن معد بن الحارث بن تيم بن كعب بن مالک بن قحافة بن عامر بن ربيعة بن عامر بن معاوية بن زيد بن مالك بن بشر بن وهب الله بن شهران بن عفرس بن خلف بن خثعم بن أنمار، الشهرانية الخثعمية وه ام عبد الله ورته ويل كېدل د اسلام په تاريخ کې د دوه لويو هجرتونو شرف الله ① ورکړی وو (حبشې او مدينې ته) والد يې عميس بن معاذ وو او مور يې هند بنت عوف بن زهير د حضرت حمزة ❽ مېرمن سلمی بنت عميس يې خور وه د رسول الله ﷺ يو په بله پسې ام المؤمنين حضرت ميمونة بنت الحارث او زينب بنت خزيمة رضی الله تعالی عنهما يې خورانې وې بله خور يې ضرت لبابة الصغری وه د خالد بن وليد خور بله خور يې ام الفضل وه د حضرت عباس ❽ مېرمن هغه وخت په اسلام مشرفه شوې وه چې د اسلام شروعات وو او ترديې دمه مسلمانان لا دار الارقم ته نه ووتللي (مخکې تير شوي دي چې دار الارقم په مکه مکرمه کې د مسلمانانو لمړی مرکز وو دا د يو صحابي کور وو رسول الله ﷺ به پدې کور کې پاتې کېدلو او ډير زيات صحابه دلته په اسلام مشرف شوي دي او ډيرو صحابه وو پدې کور کې دين زده کړی دی) .

دا مبارکه د جلیل القدر صحابي د رسول الله ﷺ د تره د زوی حضرت جعفر طیار رضی الله عنه مېرمن وه او له هغه سره یې حبشې ته هجرت کړی وو په کومه ورځ چې حضرت جعفر رضی الله عنه په موتة کې په شهادت ورسېدو رسول الله ﷺ د دوی کور ته په مدینه منوره کې ورغلو ورته یې وویل : د جعفر ماشومان چېرته دي؟ هغه ورته راغلل ټول یې له ځان سره یو ځای کړل او د ټولو سره یې مینه وکوله بیا یې له سترګو نه اوښکې راغلې ... دې مبارکې رضی الله تعالی عنها له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکوله داسې ښکاریږي لکه د جعفر په اړه چې تاته څه خبر رسېدلی وي؟ رسول الله ﷺ ورته و فرمایل : هو! ... هغه رضی الله عنه نن شهید شو هغه له رسول الله ﷺ نه پاڅېده او ژړل یې ښځې ورته را ټولې شوې رسول الله ﷺ به ورته ویل د غم په حالت کې بدې خبرې مه کوه فریاد مه کوه سینه مه وهه بیا یې ورته وویل : په جعفر دې ژړېدونکې وژاړي .... (رښتیا د ژړا وړ وو)

کله چې د رسول الله ﷺ خوابنې او د حضرت ابي بکر صدیق رضی الله عنه مېرمن حضرت ام رمان رضی الله تعالی عنها په حق ورسېده نو رسول الله ﷺ اسماء بنت عمیس ورته نکاح کړه بیا هغه هم وفات شو .. کله چې

د رسول الله ☸ لور بي بي فاطمة وفات شوه نو د حضرت علي ❽ سره يې نکاح وکوله او پدې وخت کې يې ماشوم زوی وو د هغه پالنه هم بيا حضرت علي ❽ وکوله محمد بن ابي بکر ❽ بيا وروسته د حضرت علي ❽ ښه ملګری او په هر کار کې ښه مرستندوی وو او دا مبارکه بيا تر وفات پورې د حضرت علي ❽ سره وه .

دا مبارک زوی يې هم په ځوانی کې شهيد کړل شو دا مبارکه رضی الله تعالی عنها وربانديې ډيره زياته و ځورېده او هرکله به چې ډيره غمجنه شوه په کور کې يې د ننه وړوکی جومات وو هلته به لاړه په مانځه به و درېده مونځ به يې وکولو .

دا مبارکه رضی الله تعالی عنها فرمايي کله چې حضرت عائشة رضی الله تعالی عنها ناوې وه زه ورسره وم چې رسول الله ☸ ته مو وروستله د رسول الله ☸ په کور کې يو جام وو په هغه کې شودې وي اول ترينه رسول الله ☸ و څښلې بيا يې حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته ونيولې هغه ترينه شرمېده نه يې څښلې بيا ما ورته وويل : رسول الله ☸ درته لاس نيولی دی اوس يې و څښه بيا يې ترينه و څښلې بيا ما ترينه وڅښلې بيا رسول الله ☸ راته وويل چې اوس يې نورو ښځو ته ورکړه چې

هغوی یې هم تړینه و څښي نورو ښځو وویل : مونږ مړې یو نه یې څښو ....

رسول الله ﷺ ورته وویل : دروواغ او لوږه مه سره یو ځای کوئ داسې مه کوئ چې تاسې وږې وئ او تاسې وایاست چې مونږ مړې یو بیا رسول الله ﷺ وویل هر دروواغ په تاسې پسې دروواغ لیکل کیږي حتی چې وړوکي دروواغ وي هغه وړوکي لیکل کیږي .

کله چې دا مبارکه رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ سره ناسته وه رسول الله ﷺ ورته و فرمایل : اسماء دا حضرت جبریل او میکائیل دي جعفر ورسره دی سلام وایي د سلا م ځواب یې ورکړه او دی وایي کله چې د مشرکینو سره په جنګ کې زما ښی لاس او چپ لاس دواړه پرې شول اوس الله ① ماته دهغې دواړو لاسونو په بدل کې وزر راکړي دي د جبریل ا و میکائیل سره هر چېرته آلوزم او د جنت له میوو نه خوراک کوم .

کله چې حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها له حبشې نه د حضرت جعفر ❽ سره په یو ځای مدینې منورې ته راغله نو د رسول الله ﷺ د کور ښځو ته ورغله پوښتنه یې ترې وکوله : زمونږ په اړه په قران کریم کې کوم شی نازل شویدي؟ ښځو ورته وویل : نه .. دا راغله رسول الله ﷺ ته یې وویل: یا رسول الله ﷺ دا ښځې په زیان او نقصان کې دي ..

رسول الله ﷺ ورځخه پوښتنه وکوله ولې؟ دې مبارکې ورته وویل : ځکه په قران کريم کې ښځې داسې په نيکو صفاتو باندې نه يادېږي لکه سړي چې يادېږي .

الله ① دا آيت نازل کړو چې د ښځو ذکر او ياد وو پکې : **إن المسلمين والمسلمات والمؤمنين والمؤمنات والقانتين**

حضرت اسماء بنت عميس رضى الله تعالى عنها فرمايي : رسول الله ﷺ ماته وويل : زه تاته داسې کلمې در وښيم چې ته يې د تکليف په وخت کې ووايې ؟ **الله الله ربي لا أشرك به شيئا**

دا مبارکه رضى الله تعالى عنها د يو روايت له مخې دې هجرت په ٣٨ او د يو روايت له مخې د هجرت په شپېتم کال وفات شوه الله ① يې د ټولو مسلمانو ميندو سره په جنت کې درجې لوړې کړي .

حضرت ام سليم بنت ملحان رضى الله تعالى عنها

أم سليم بنت ملحان الرُمَيصاء بنت مِلْحان بن خالد بن زيد بن حرام بن جندب الأنصارية دا مبارکه په خپل کنية نوم باندې مشهوره وه په

اصلي نوم کې یې اختلاف دی ځینې وایي نوم یې سهلة وو یا رمیلة ، ملیکة وه دېته الغمیصاء او الرمیصاء هم ویل کېدل د رسول الله ﷺ د خادم او جلیل القدر صحابي حضرت انس ؓ بن مالک مور وه تر اسلام وړاندې یې د مالک بن النضر سره واده کړی وو کله چې د اسلام نور مدینې منورې ته راغلو دا مبارکه رضی الله تعالی عنها په هغه کسانو کې وه چې د اسلام په شروع کې یې د اسلام رڼا ته لبیک ویلي وو او په اسلام مشرفه شوې وه پدې وخت کې یې خاوند له کور نه بهر په سفر تللی وو کله چې راغلو نو یې هغه ته هم وویل چې اسلام قبول کړه هغه ورته په غصه شو ورته یې وویل : ته له خپل دین څخه آوښتې یې؟ دې مبارکې په پوره اطمنان ورته وویل : ما ایمان راوړی دی کله چې حضرت انس ؓ نوې نوې خبرې شروع کولې دې مبارکې به ورته ویل : ووایه لا اله الا الله ... ووایه : اشهد ان محمدا رسول الله هغه چې نوی ماشوم وو په خپله خوږه او وړه ژبه یې له خپلې مهربانې مور سره هغه کلمې ویلې پلار به یې ورته ویل : دا زما زوی مه راته خرابوه دې مبارکې رضی الله تعالی عنها به ورته ویل : خرابوم یې نه بلکه پوه کوم یې او سموم یې .

حضرت ام سلیم رضی الله تعالی عنها غیرتي ښځه وه

کله یې چې خاوند یو ځل له کوره ووتلو یو دښمن یې ورته کمین نیولی وو او ویې وژلو دې مبارکې ته چې خبر را ورسېدو نو یې وویل : زه په خپل مصیبت الله ① ته صبر کوم او دا خپل ماشوم به مې پالم ترڅو چې ده زما سینه خوشې کړې نه وي زه به دی له شودو نه بېلوم او تر هغه وخته به زه بل واده نه کوم ترڅو چې ده ماته اجازه نه وي راکړې .

کله چې حضرت انس ❽ لږ را لوی شو رسول الله ☸ ته یې راوستلو ورته یې وفرمایل : که دا زما ماشوم ته د خپل خادم په صفت قبول کړې؟ رسول الله ☸ چې ددې مبارکې مینه او اخلاص وکتل نو یې ورته وویل صحیح ده ..

له هغې ورځې نه حضرت انس ❽ د رسول الله ☸ په خدمت باندې شرافت حاصل کړو خلک ټول ددې مبارکې ددې قربانی نه متاثر وو هر چا به یادوله چې د رسول الله ☸ لپاره یې د زوی ټول عمر قرباني کړو او هغه یې د رسول الله ☸ خادم کړو ..

لږ وخت نه وو تېر شوی چې ابو طلحة ورته د واده وړاندیز په داسې حالت کې وکولو چې هغه تر دې دمه په اسلام نه وو مشرف شوی او په غوښتنه کې یې دیته ډېر زیات او لوی مهر مقرر کړو لکن دې مبارکې ته چې دا خبر ورسېدو سره د

ډېر لوی مهر يې هغه رد کړو او ويل يې زما لپاره مناسبه نه ده چې د يو مشرک سره واده وکوم .

ابو طلحة چې دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ته د ډېر لوی مهر وعده کړې وه نو يې گمان نه وو چې دا به ماته نه ووايي لکن بيا هم دې مبارکې ورته نه وويل نو هغه زيات خفه شو او يقين يې نه راتلو چې دده قاصد ده ته ويل ام سليم ستا له واده نه انکار وکولو او په ذهن کې يې ددې خبرې ځای بالکل نه وو چې هغه به ماته نه وايي او سره ددې چې د هغې خاوند نشته ، زه د ښه مال خاوند يم په سمه توگه مې ترينه نکاح غوښتې ده او ښه تر ټولو خلکو لوړ مهر مې ورته ياد کړی دی نو آخر به نه ولې وايي؟

په همدې بې ځوابه سوالونو کې سبا ورغلو او تر مخکنې مهر يې ورته لوړ مهر ياد کړو چې دی به يې ورکړي حضرت امي سليم رضی الله تعالی عنها ډېر په اطمنان او د پوره ادب سره ورته وويل : ابو طلحة ستا په شان خلک چې چاته د واده بلنه ورکړي څوک يې نه رد کوي (ستا غوښتنه ما رد کول نه غوښتل) لکن خبره صرف دا ده چې زه يوه مسلمانه ښځه يم او ته تر اوسه پورې کافر سړی يې ته زما لپاره مناسب نه يې.

ده ورته وويل : زه تاته سره او سپين درکوم .

دې مبارکې ورته وويل : ستا سره او سپين مې نه

دي په کار زه صرف ستا اسلام غواړم .
د ځينو رواياتو له مخې يې ورته وويل : ابو طلحة تر اوسه پورې ته کافر او زه مسلمانه يم ته اسلام قبول کړه ماته هېڅ مهر مه راکوه زه صرف ستا په اسلام باندې هم لتا سره بغير د مهر نه واده کوم .
ده ورته وويل : نو زه اوس څه وکوم؟
دې مبارکې رضى الله تعالى عنها ورته وويل ته ورشه رسول الله ﷺ ته .
هغه رسول الله ﷺ ته راغلو او د ام سليم سره يې د تول ما جرا قصه ورته وکوله رسول الله ﷺ ده ته اسلام وښودو ده له رسول الله ﷺ سره اسلام قبول کړو او رسول الله ﷺ په هماغه مجلس کې ام سليم رضى الله تعالى عنها ده ته په نکاح کړه .
د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايل : ما تر ام سليم نه ښه مهر د چا نه دى ليدلى د خاوند اسلام يې مهر وو .
د حضرت ابي طلحة رضي الله عنه سره يې ډېر ښه ژوند وکولو او په رښتيا معنا ګانو کې د يو بل لپاره بهترين خاوند او بهترينه ښځه وو او ښه د خوشحالى نه ډک عمر يې سره تېر کړو .
پدې مبارکه باندې د صبر تحمل او هوښيارې انتها وه په خاصه توګه چې دې کوم صبر هغه وخت

وکولو کله چې ددې مبارکې یو زوی بیمار وو او حضرت ابو طلحة به چې کله له بهر نه راتلو نو اول به یې د خپل ماشوم په اړه پوښتنه کوله چې څنګه دی؟ او کله به چې دهغه د حال نه خبر شو نو بیا به یې زړه یو څه ارام شو تردې چې یو وخت دی له کور نه بهر ووتلو او هغه زوی مبارک یې رحلت وکولو دې مبارکې د کور نورو غړو ته وویل چې ابي طلحة ته تر هغه وخته پورې څه مه وایاست ترڅو چې زه ورته ونه وایم ... کله چې دی بېرته کورته را ستون شو نو حضرت ام سلیم رضی الله تعالی عنها له خپلو سترګو څخه اوښکې پاکې کړې او له ده سره په خبرو شوه حضرت ابو طلحة د خپلې بي بي نه پوښتنه وکوله چې هلک څنګه دی ؟ هغې رضی الله تعالی عنها ورته وویل هغه ویده دی بیا یې دده په وړاندې ډوډۍ کېښوده او ورسره کېناسته او په خبرو کې ورسره مصروفه شوه بیا یې ورته وویل:

ابو طلحه زه لتا څخه یوه پوښتنه کوم .

حضرت ابو طلحه ❽ ورته وویل : هو! څه پوښتنه ده وکوه .

دې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : که څوک زما سره کوم شی د امانت په ډول کېږدي بیا یو څه وخت وروسته راشي هغه لما څخه وغواړي نو هغه ته یې خپل امانت ورکول ښه خبره ده او که نه ورکول؟

ابو طلحه ❽ ورته وويل : خامخا دهغه امانت ورکول ضروري دي دهغه خپل امانت دی .

بي بي رضی الله تعالی عنها ورته وويل : بيا په هغه امانت پسې خفه کېدل په کار دي او کنه؟

ابو طلحه ❽ ورته وويل : نه ... په هغه امانت پسې خفه کېدل بالکل مناسب نه دي هغه هسې هم د بل چا شی وو او هغه خپل شی واخيستو .

بيا بي بي رضی الله تعالی عنها ورته ويل چې داسې ده نو الله ① چې مونږ ته کوم امانت زمونږ زوی راکړی وو هغه يې بېرته را څخه واخيستو او هغه وفات شو ابو طلحه ❽ خو خفه شو لکن څه يې هم ونه ويل او نه يې څه ډول فرياد وکولو صرف صبر يې وکولو .

کله چې سبا شو د رسول الله ☸ په مجلس کې حاضر شو هغه ☸ ته يې قصه وکوله رسول الله ☸ ورته و فرمايل : ابو طلحه الله ① دې دا شپه ستا لپاره د برکت شپه کړي همااغه وو چې له دې شپې نه الله ① حضرت ابو طلحة ❽ ته بل ماشوم ورکړو کله چې هغه پيدا شو حضرت ابو طلحة ❽ ډېر زيات ورته خوشحال وو په غېږ کې يې واخيست او رسول الله ☸ ته يې په مجلس کې حاضر کړو رسول الله ☸ د هغه ماشوم نوم عبد الله کېښودو او په

تنډي يې لاس ورته را ښکلو او کله چې عبد الله ❽ لوی هم شو په تنډي کې يې يو قسم نور ښکاره کېدو.

حضرت ابو طلحة ❽ يو وخت د هغه کسانو څخه وو چې ډېر زيات مال يې درلود لکن يو وخت داسې وربانډې راغلو چې هرڅه يې د الله ① په لاره کې مصرف کړل او دهغه ټول مال په بدل کې يې ثوابونه جمع کړل بيا به يې په کور کې صرف دومره څه وو چې دوی وربانډې ژوندي وو او همدا حال د رسول الله ☸ د کور هم وو حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي زمونږ په کور کې به ډېرې داسې ورځې تېرېدلې چې اور به مو نه بلولو بلکه به پيدا شول نو خورما او اوبه مو خوراک وو په همداسې وخت کې يو کس مېلمه له لرې ځای نه راغلو نو رسول الله ☸ خپل کور ته احوال ولېږلو که د خوراک څه شی له چا سره وي چې مېلمه ته يې ورکړو؟ لکن ځواب راتلو چې هېڅ داسې شی نشته نو رسول الله ☸ په ناستو څو صحابه وو کې ياد کړل دا مېلمه به د شپې څوک له ځان سره مېلمه کړي؟ حضرت ابو طلحة ❽ پداسې حالت کې د مېلمه مېلمستيا ته تيار شو چې دده په کور کې هم څه شی نه وو او د مېلمه نه وړاندې خپل کور ته ورغلو حضرت ام سليم رضی الله تعالی

عنها د صبر او تقوی توتې او ژوندي مثال ته يې وويل په کور کې څه شی شته چې د رسول الله ﷺ مېلمه ته يې ورکړو ؟ دې مبارکې ورته وويل صرف دومره څه شته چې اوس يې ماشومانو ته ورکړم ده مبارک ❽ ورته وويل : هغه ماشومان په څه شي باندې غلط کړه او ويده يې کړه او خوراک به مېلمه ته ورکړو چې کله خوراک زما او د مېلمه په مخ کې کېښودل شو نو ته به ددې لپاره چراغ ته ورشې چې سم يې کړې هغه به ګل کړې نو زه به خپل لاس ونيسم او خوراک به ټول مېلمه ته پرېږدم پداسې حالت کې چې هغه به فکر کوي زه يې هم ورسره خورم نو مېلمه به موړ شي او که زه يې هم وخورم نو بيا خو هغه د مېلمه نه بس کيږي دوی همداسې وکول رسول الله ﷺ سبا په مجلس کې ويل : تېره شپه الله ① ابو طلحة او ام سليم ته تعجب کړی وو ، ديو روايت له مخې تېره شپه الله ① ابو طلحة او ام سليم ته خندلي وو پدې اړه بيا قراني آيت نازل شول الله ① و فرمايل :

سورة حشر آية ۹

وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ۝٩

ترجمه : ...... او دوی غوره کوي په خپل ځان باندې بل څوک اګر که دوی هم غریبان وي ...

حضرت ابو طلحة ❽ چې خبر شو د دوی د قرباني له امله قرآني آیت نازل شو د خوشحالی نه یې له سترګو نه اوښکې را رواني وې او له خوشحالی نه یې ژړا نشوای قرارولی او په منډه منډه ورغلو خپلې بې بي ته یې دا د خوشحالی خبر واورولو .

حضرت ام سلیم رضی الله تعالی عنها صرف مسلمانه ښځه نه وه بلکه په ډېرو میدانونو کې یې له مسلمانانو سره د یو مسلمان مجاهد په حیث شرکت کړی دی او له مسلمانانو سره به د جنګ سختو ځایونو ته ددې په موخه تله چې هلته به د زخمیانو درملنه او د هغوی خدمت کوي په حنین کې کله چې حضرت طلحة ❽ رسول الله ☸ ته راغلو ورته ویل یې : یا رسول الله ☸ دا وګوره ام سلیم له ځان سره خنجر را اخیستی دی (دوی ته په جنګ کې د شرکت اجازه نه وه بلکه دوی به صرف د صفونو شا ته د زخمیانو خدمت کوي نو بیا خنجر څه کوي) کله چې رسول الله ☸ ددې مبارکې نه پوښتنه وکوله چې دا خنجر لتا سره څه کوي؟

دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : یا رسول الله ☸ که چېرته مشرک ماته را نېږدې شي نو ګېډه یې ورباندې څیرم .

حضرت ام سلیم رضی الله تعالی عنها فرمایي ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي دي هغه ﷺ فرمایل : د کوم مسلمان مور او پلار چې دری ماشومان تر بلوغ وړاندې په حق ورسیږي الله ① به دا مور او پلار په خپل رحمت سره جنت ته بیایي .

حضرت ام عطیة رضی الله تعالی عنها یوه صحابیة ده هغه فرمایي : رسول الله ﷺ له موږ نه بیعت واخیستو چې د غم په وخت کې به موږ چیغې نه وهو او نا روا فریاد به نه کوو کله چې رښتیا د امتحان وخت راغلو نو په هغه بیعت باندې صرف پنځو ښځو وفا وکوله : ام سلیم، ام العلاء ، د ابي سبرة لور ، د حضرت سعد بن معاذ مېرمن او یوه بله ښځه وه .

یوه ورځ رسول الله ﷺ فرمایل : زه جنت ته ننوتلی وم له شا نه مې د پښو آواز واورېدو پوښتنه مې وکوله دا څوک دي؟ راته وویل شول دا الرمیصاء بنت ملحان د انس بن مالک مور ده .

د هجرت د څلوېښتم کال په شاوخوا کې په مدینه منوره کې د معاویه په دور کې وفات شوه .

حضرت آمنه بنت ارقم المخزومية رضى الله تعالى عنها

دا مبارکه د حضرت ارقم ❽ لور وه دار الارقم په اسلام کې لمړی مرکز ددوی کور وو رسول الله ☸ به د دوی په کور کې کېناستلو او خلکو ته به يې تبوله ورځ دين ور ښودلو او صحابه کرام به دلته را غونډېدل د اسلام بنيادي احکام او هغه څه به يې زده کول چې په رسول الله ☸ به نازلېدل او پدې وخت کې چې دلته به په پټه سره را ټولېدل د صحابه وو شمېره تر ٤٠ کسانو څخه کمه وه او دا کور د صفا د غونډۍ سره او يا په غونډۍ باندې وو او دا بيا د هارون رشيد د پلار مهدي وو او هغه خپلې ښځې خيزران بنت عطاء ته تحفه کړو او يا هغې ترې واخستو هغې بيا په ١٦١ هجري کال کې مسجد حرام ته وقف کړو .

رسول الله ☸ چې د دار الارقم کور د مرکز لپاره او د راټولېدلو د ځاى په توګه غوره کړى وو پدې کې د رسول الله ☸ لپاره درى وجې وې .

١. د حضرت ارقم ❽ اسلام چا ته نه وو معلوم نو چا دا فکر نه کاوه چې دلته به مسلمانان را ټول شي .

۲. دا حضرت ارقم بن ابی الارقم ❽ بن مخزوم وو او مخزوم هغه قبیله وه چې د قریشو سره یې دښمني وه او څرنګه چې د اسلام په راتلو سره پخوانۍ دښمنۍ ختمې شوې نو رسول الله ﷺ هلته ورتللو او مشرکینو دا فکر نه کولو چې رسول الله ﷺ چې قریش دی نو هلته به ورشي .

۳. حضرت ارقم پدې وخت کې نوی ځوان وو ایله د ۱٦ کلونو په عمر کې وو قریشو به د مشرانو مسلمانانو په کورنو باندې څار کاوه د کشرانو په کورونو پسې یې نه کتل .

او حضرت ارقم ❼ بیا په ٥٥ کال د هجرت باندې په مدینه منوره کې وفات شو او د څه باندې اتیا کلونو وو .

نو دا حضرت آمنة رضی الله تعالی عنها د همدې ارقم لور وه په هغه کسانو کې ده چې د اسلام په شروع کې په اسلام او هجرت باندې مبارک شوي دي او د هجرت شرف یې تر لاسه کړی دی دا مبارکه چې کله مدینې منورې ته لاړه هلته رسول الله ﷺ دې مبارکې ته یو کوهی ورکړی وو چې بیا د همدې مبارکې په نوم سره یادېدلو او بئر آمنة به ورته ویل کېدل بیا د هغه کوهي نه دې مبارکې ته هم لقب ورکړل شو او دې مبارکې ته به ویل کېدل صاحبة البیر (د کوهي مالکه)

لیلی بنت ابي حثمة رضی الله تعالی عنها

د حضرت عامر بن ربیعة ❽ مېرمن وه د اسلام په شروع کې په اسلام مشرفه شوې وه کله چې په مکه مکرمه کې د کفارو ظلمونه په مسلمانانو زیات شول پدې وخت کې د رسول الله ☸ تره ابو طالب لا ژوندی وو نو کفارو ده ☸ ته څه نشوای ویلی او نورو مسلمانانو ته به یې زیات تکلیفونه ورکول یوه ورځ حضرت عثمان بن عفان ❽ د رسول الله ☸ لور حضرت رقیة ، حضرت ربیعة، دده مېرمن حضرت لیلی بنت ابي حثمة ، عبد الله بن عبد الاسد، دهغه مېرمن هند بنت امیة بن المغیرة ﷺ ټول رسول الله ☸ ته را ټول شول او د کفارو د ظلمونو په اړه یې ورته شکایت وکولو او ورته یې وویل کفارو خو په مسلمانانو باندې ظلمونه ډېر زیات کړي دي رسول الله ☸ د یو څه وخت لپاره چپ شو بیا یې وفرمایل : څوک چې د الله ① د دین لپاره سفر وکوي اګر که یوه لوېشت هم وي الله ① به هغه جنت ته بوزي او په جنت کې به د هغه د نبي ملګری وي حضرت عامر بن ربیعة او حضرت لیلی بنت ابي حثمة رضی الله تعالی عنهما ورته وویل :

نو مونږ چېرته لاړ شو یا رسول الله ﷺ ؟ رسول الله ﷺ ورته و فرمایل : ځئ د الله ﷻ په زمکه کې خپاره شئ الله ﷻ به تاسې یو وخت سره را ټول کړي لیلی بنت ابي حثمة رضی الله تعالی عنها بیاورڅخه پوښتنه وکوله : نو چېرته لاړ شو یا رسول الله ﷺ ؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : ځئ د حبشې خواته لاړ شئ هلته یو بادشاه دی نجاشي ورته ویل کیږي دهغه په خاوره کې په چا باندې ظلم نه کیږي او هغه د صدق او رښتون ولي زمکه ده کله چې عمر ابن الخطاب (تردې دمه لا مسلمان شوی نه وو) ددېنه خبر شو چې ځینې مسلمانان د مکې نه وتل غواړي چې یو په دوی کې حضرت ربیعة رضي الله عنه دی نو ددوی کور ته ورغلو ویې لیدل چې دا مبارکه لیلی بن حثمة رضی الله تعالی عنها وتلو ته تیاره وه او په اوښ باندې سپره وه ده ورڅخه پوښتنه وکوله : د عبد الله مورې چېرته روان یاست؟ هغې مبارکې ورته وویل تاسې مونږ ته صرف زمونږ د دین له امله تکلیف راکوئ د الله ﷻ په زمکه کې کومې خواته هجرت کوو عمر رضي الله عنه ورته څه ونه ویل صرف ورته یې وویل : الله ﷻ مو مل شه لیلی دده دې خبرې ته حیرانه شوه او په زړه کې خوشحاله شوه لکه چې عمر د اسلام خوا ته مائل شوی دی کله یې چې خاوند راغلو هغه ته یې وویل : زما

تمه ده چې عمر بن الخطاب مسلمان شي هغه ماته داسې وويل : خاوند يې ورته په مسخره يې خندا کې وويل : نه داسې نشي کېدای هغه کله هم ايمان نه راوړي .

دوی رسول الله ﷺ ته را غلل او حبشې ته يې ورڅخه د وتلو اجازه و غوښته رسول الله ﷺ ورته اجازه وکوله او دا حبشې ته د مسلمانانو دوهمه ډله روانه وه او پدې وخت دېرش کسان حبشې ته لاړل کله چې کفارو نوی تړون وکولو چې څوک له مکې نه وزي نو هغوی ته به اجازه ورکووو لکن دهغوی نه به ښځې ګرځوو د کورونو د وېستلو اجازه به نه ورکوو نو بيا حضرت ربيع او دهغه مېرمن ليلی بن حثمه او ګڼ شمېر نور صحابه بېرته مکې ته را وګرځېدل د يو څه وخت تکليفونو تېرولو وروسته بله شپه په نيمه شپه کې ښځه او خاوند مدينې منورې ته مهاجر شول او پدې وخت کې تراوسه پورې مدينې منورې ته ښځه نه وه مهاجره شوې نو دا بي بي ليلي بنت ابي حثمة رضى الله تعالى عنها اوله مهاجره وه .

کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته راغلو نو د دوی کور ته به ورتلو يوه ورځ چې رسول الله ﷺ د دوی په کور کې ناست وو حضرت ليلی بنت ابي حثمة رضى الله تعالى عنه په خپل ماشوم زوی عبد الله پسې آواز وکولو : عبد الله دلته راشه څه شی

درکوم رسول الله ﷺ ورځخه پوښتنه وکوله : څه ورکوې د عبد الله مورې؟ دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته وویل خورما (کجورې) ورکوم بیا رسول الله ﷺ ورته وویل : که د څه شی نه وای ورکړي نو دا به په تا پسې درواغ لیکل شوي وای .

د عزت شرافت او پاک ایمان څخه ډک ژوند یې تېر کړو ما یې د تاریخ وخت د تاریخ په کتابونو کې پیدا نه کړو الله ① یې دې په جنتونو کې درجې لوړې کړي .

حضرت ام رمان رضی الله تعالی عنها

أم رومان بنت عامر بن عويمر بن عبد شمس بن عتاب بن أذينة بن سبيع بن دهمان بن الحارث بن غنم بن ثعلبة بن مالك بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بنمعد بن عدنان .

د الحارث بن سخبرة بن جرثومة اليوسي الزهراني الأزدي سره په نکاح کې وه دهغه ترېنه يو ماشوم شوی وو طفيل نومېدو کله چې هغه ترې مړ شو نو د جاهليت په زمانه کې ورسره حضرت ابو بكر صديق ❽ واده وکولو او الله ① له حضرت ابي بكر

صديق ❽ نه ورته دوه ماشومان ورکړل یوه ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها او بل ددې مبارکې ورور حضرت عبد الرحمن بن ابي بکر ❽ .

ددې په اړه به رسول الله ﷺ فرمایل : د چا چې زړه غواړي چې د جنت حورې ته وګوري هغه د ام رمان رضی الله تعالی عنها ته وګوري .
د هجرت په شپږم کال په مدینه منوره کې وفات شوه رسول الله ﷺ یې په دفن کې شرکت کړی وو او د مغفرت دعا یې ورته کړې وه د یو قول له مخې د هجرت په نهم کال وفات شوه .

په اسلام کې اوله معلمه

الشفاء بنت عبد الله بن عبد شمس بن عدي بن کعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر العدوية القرشية.
مور یې فاطمة بنت وهب بن عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم بن یقظة بن کلاب بن مرة بن کعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قریش بن کنانة بن خزیمة بن مدرکة بن إلیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.
دا مبارکه هم له هغه بختورو ښځو څخه یوه وه چې د اسلام په شروع کې په اسلام مشرفه شوې وه د

هجرت برکت یې حاصل کړی وو رسول الله ﷺ به کله کله د دوی کور ته ورتلو او هلته به یې د غرمې خوب کولو دوی رسول الله ﷺ ته یوه توشکه او یوه ټوټه لکه څادر داسې ساتلي وو چې رسول الله ﷺ به پکې ویده کېدو .

دې مبارکې چې کله هجرت وکولو رسول الله ﷺ ته یې وویل د جهالت په وخت کې ما په یو څو کلمو باندې شیان دم کول زه غواړم اوس هغه کلمې تاسې ته ووایم او تاسې به ما ته ووایاست چې ددېنه وروسته هغه کلمې زه د دم په ډول استعمال کړم او کنه؟ رسو ل الله ﷺ ورته وویل : صحیح ده راته ووایه دې مبارکې هغه کلمې داسې ورته وویلې : (اسم الله صلو صلب خير يعود من أفواهِهَا، ولا يضُرُّ اُحدا، اكشفْ الباسَ ربَّ الناسِ) رسول الله ﷺ ورته وویل : صحیح دي ته اوس هم د دم لپاره دا کلمې ویلی شې او دا حفصې (ام المؤمنین) ته هم ور زده کړه .

همدا بي بي رضی الله تعالی عنها وه چې د رسول الله ﷺ بي بي حضرت حفصې بنت عمر رضی الله تعالی عنها ته یې خط ور زده کړی وو او نورو بیبیانو صحابه وو ته یې هم لیک او لوست ور ښودلی وو او دا په اسلام کې اول معلمه وه .

د رسول الله ﷺ د وفات نه وروسته به هم خلکو دې

مبارکې ته ډېر د احترام په نظر کتل یوه ورځ چې حضرت عمر ❽ د سحر په مانځه کې ددې زوی حضرت سلیمان ❽ ونه لیدو نو فکر یې کاوه چې دا ولې نه وو راغلی لږ وروسته چې حضرت عمر ❽ د بازار په لور روان وو د دوی کور د جومات او بازار په مینځ کې وو نو حضرت عمر ❽ چې دا مبارکه رضی الله تعالی عنها ولیده نو پوښتنه یې ورځخه وکوله : سلیمان مې نن د سحر په مانځه کې ونه لیدو؟ دې مبارکې ورته وویل : هغې د شپې تر ناوخته پورې مونځ کولو او د سحر د جمعې په وخت کې یې سترګې پټې شوې وې بیا حضرت عمر ❽ ورته وویل : زه چې د سحر مونځ په جمع سره وکوم ماته ترډې ښه دی چې ټوله شپه مونځ وکوم .

دا په اسلام کې اوله معلمه د حضرت عمر ❽ په خلافت کې د هجرت په شلم کال باندې وفات شوه .

حضرت سیرین بنت شمعون رضی اللّٰه تعالی عنها

د حضرت ام المؤمنین ماریه القبطیة رضی اللّٰه تعالی عنها خور وه چې دواړه وینزې وې په یو ځای مقوقس رسول الله ﷺ ته تحفه کړې وې او په

لاره کې په اسلام مشرفې شوې وې حضرت ماریه قبطیة رسول الله ﷺ په نکاح کړه او ځرنګه چې دواړه خورانې وې نو حضرت سیرین رضی الله تعالی عنها یې خپل شاعر حضرت حسان ❽ ته ورکړه د هغه ❽ نه یې یو ماشوم پیدا شو عبد الرحمن نوم یې وو ډیر ښه اسلام یې راوړی وو کله یې چې اسلام راوړو بیا په اسلام کې ښه خوشحاله وه او دینداره ښځه وه او ددوی داړو په اړه د دوی ډیر صفات مقوقس رسول الله ﷺ ته په هغه لیک کې لیکلي وو چې د دوی سره یې رسول الله ﷺ ته را لیږلی وو .

ام ورقة بنت عبد الله رضی الله تعالی عنها

دا مبارکه حضرت ام ورقة بنت عبد الله بن الحارث بن عویمر بن نوفل الانصاریة وه دهغه ښځو له جملې نه وه چې رسول الله ﷺ یې ډیر زیات قدر کولو رسول الله ﷺ به ورته شهیدة ویله ځکه ددې مبارکې د الله ① په لاره کې د قربانې ورکولو او جهاد کولو او بالآخره د شهادت زیات شوق وو کله چې رسول الله ﷺ د بدر په لور روان وو دا مبارکه

ورته راغله ورته ويل يې : يا رسول الله ﷺ اجازه راکړه چې لتاسې سره لاړه شم د زخميانو د رملنه به کوم کېداى شي الله ① راته شهادت راکړي .
رسول الله ﷺ ورته ويل : الله ① به تاته شهادت درکوي او ته په خپل کور هم کينه ته شهيده يې .
دا مبارکه ډېره ښکلې قاريه وه او قران کريم به يې ډېر په مينه سره تلاوت کولو او ښه يې زده کړى وو رسول الله ﷺ ورته ويلي وو چې په کور کې نورو ښځو ته په جمع مونځ کوه او يو څوک يې ورته ياد کړي وو چې هغه به ستاسې لپاره اذان کوي کله چې د مانځه وخت شو نو د کور خلکو ته امامت کوه .
په هغه وخت کې او هم په اوس وخت کې د فخر خبره ده چې داسې يوه ښځه په کور کې موجوده وي په هغه وخت کې رسو ل الله ﷺ ورته اجازه کړې وه چې پنځه وخته مونځ د کور نورو ښځو ته په جمع سره ورکوه .
دا مبارکه به هروخت د الله ① په ذکر او عبادت باندې مصروفه وه تردې چې ددې يوه وينزه او يو غلام وو دې مبارکې هغه دواړه مکاتبان کړي وو (معلومې پيسې يې هر يو ته معينې کړې وې چې دا پيسې ماته راکړئ بيا به تاسې ازاد ياست) يوه ورځ هغه دواړه وربانددې را پاڅېدل او دا

مبارکه یې شهیده کړه هېچاته په دې اړه معلومات نه وو یوه ورځ حضرت عمر ❽ و فرمایل : څه چل دی چې د خپلې ترور ام ورقة تلاوت مې نه تر غوږ کیږي حضرت عمر ❽ ورغلو چې ویې لیدل د کور په یوه خوا کې په څادر کې نغښتې شهیده پرته وه حضرت عمر ❽ وویل : رسول ﷲ ☸ رښتیا ویل چې کله به پاڅېدو ویل به یې ځئ چې د شهیدې کور ته ورشو (همدا مرحومه به یې یادوله) بیا حضرت عمر ❽ امر وکولو چې ددې غلام او وینزه دواړه را پیدا کړئ .

هغوی راوستل شول حضرت عمر ❽ ورڅخه پوښتنه وکوله چې رښتیا ووایاست حقیقت څه دی؟

دوی دواړو اقرار وکولو چې هغه مونږ ووژله بیا د هغوی دواړو په قصاص باندې فیصله وشوله او دواړه په مدینه منوره کې وځړول شول (په دار کړل شول) او دا په مدینه منوره کې لمړی ځل وو چې څوک اعدام کړل شول .



حضرت ام کلثوم بنت علي رضی الله تعالی عنها

چې د رسول الله ﷺ په حديث باندې ثابته سيدة نساء اهل الجنة د چا مور وي او سيدا شباب اهل الجنة د چا وروڼه وي او پلار يې داسې څوک وي چې په ګرده نړۍ کې يې د ماشومانو په صف کې اول د اسلام تبرک او تشرف حاصل کړی وي نور به له دې مبارکې نه څوک ډېر بختور کېدلی شي دا مبارکه حضرت ام کلثوم رضی الله تعالی عنها وه د هرلوري نه په مبارکو صفاتو باندې ښائسته دا هستي د حضرت علي رضی الله تعالی عنه په کور کې پيدا شوې وه کله چې دا لويه شوه حضرت امير المؤمنين عمر ابن الخطاب ❽ يې غوښتنه وکوله او حضرت علي ❽ ورسره رضا شو او دا مبارکه يې ورکړه حضرت زيد بن عمر او رقية بنت عمر يې اولادونه وو او د عزت او حياء او خوشحالي نه ډک ژوند يې تر هغه وخته پورې ورسره تېر کړو چې حضرت عمر ❽ په شهادت ورسېدو .

حضرت امير المؤمنين چې يوه شپه د مدينې منورې په کوڅو کې ګرځېدو نو يې له يو کور نه آواز تر غوږ شو دی ورغلو او د هغه کور دروازه يې ور وټکوله له هغې خوا نه د سړي په آواز کې ورځخه پوښتنه وشوه څوک يې؟ امير المؤمنين حضرت عمر

❽ ورته وویل : ددې ژړا آواز مې تر غوږ شو پوښتنه مې کول غوښتل چې خیر خو دی؟ د کور مالک پدې خبر نه وو چې دا امیر المؤمنین دی نو یې ورته وویل : ﷲ ① د په تا رحم وکوي کوم کار چې تر تا پورې اړه نه لري ځان وربانډې مه اخته کوه څه خپل کار د وکوه .

حضرت عمر ❽ وربانډې ټینګار وکاوه چې ماته ووایه او کېدای شي که زما په وس پوره وي ستاسې په مشکل کې درسره مرسته وکوم هغه سړي ورته وویل دا زما کور واله ده د ماشوم د پیدا کېدلو وخت یې دی څوک ورسره نشته چې مرسته ورسره وکوي او یوازې ده .

حضرت عمر ❽ له هغه ځای نه په منډه منډه کور ته راغلو او دې محترمې بي بي ته یې وویل : ﷲ ① چې تاته په کوم کار کې اجر درکوي ستا زړه غواړي چې حاصل یې کړې ضرورت دې ورته شته؟ دې مبارکې خپل خاوند ته وویل : هغه اجر څه شی دی یا امیر المومنین؟

حضرت عمر ❽ ورته قصه وکوله دې مبارکې زر زر خپل سامان او هغه څه چې د ماشوم په پیدا کېدو کې په کار کیږي را ټول کړل او حضرت عمر ❽ په یوه کټو کې څه شودې او غوړي او نور شیان را ټول کړل دواړه په منډه منډه راغلل هغه کور

ته یې ځان ور ورسولو ام کلثوم رضی الله تعالی عنها کور ته ور ننوتله د بیمار خوا ته ورغله حضرت عمر ❽ بهر د کوچي سره مصروف شو څه خوراک یې ورسره پخول غوښتل کوم شیان چې دوی له خپل کور نه ورسره راوړي وو پدې وخت کې اور نه لګېدو نو امیر المؤمنین ❽ پخپله هغه ا ور ته پوکی ورکولو او د هغه ا ور د لګولو کوښښ یې کولو چې پدې وخت کې حضرت کلثوم د کور د ننه څخه آواز وکولو : امیر المؤمنین زیری قبول کړه ستا ملګري ته الله ① ماشوم ورکړو اوس بهر کوچی او د ننه یې مېرمن دواړه حیران شول چې آیا دا اور چې بلوي او پخپله اور ته پوکی ورکوي دا امیر المؤمنین دی؟ او دا بي بي چې په جونګړه کې یې د قابلې کار وکولو او د یوې غریبې ښځې خدمت یې وکولو دا د امیر المؤمنین مېرمن ده؟ .... الله ① د د رسول الله ☸ د امت له لوري نه امیر المؤمنین او حضرت ام کلثوم بنت علي ته اجر ورکړي او درجې یې دې په جنتونو کې ورته لوړې کړي .



حضرت ام شریک القرشیة رضی الله تعالی عنها

نوم يې غزية بنت جابر بن حكيم يوه قريشي ښځه وه د ابي العكر الدوسي په نكاح كې وه چې زړه ته يې اسلام ور ننوت پخپله چې په اسلام باندې مشرفه شوه نو يې دې مبارک دين ته خدمت شروع كړو د قريشو ښځو كورونو ته به ورتله او هغوی به يې اسلام ته را غوښتلې او څرنګه به چې هغوی له خپلو خاندانو څخه د اسلام په اړه بدې خبرې آورېدلې نو دې مباركې به هغوی ته د اسلام په اړه سمې خبرې كولې او د اسلام اصلي معنی او مفهوم به يې هغوی ته ور ښودلو تردې چې خلک پدې كار خبر شول چې ام شريک رضی الله تعالی عنها اسلام قبول كړی دی او خلک هم اسلام ته را غواړي د خاوند خپلوان يې وربانديې را ټول شول او دا مباركه يې ونيوله دا مباركه فرمايي : دوی ماته راغلل او راته يې وويل : ته لكه چې دده (محمد ﷺ) په دين يې؟

ما ورته وويل : هو ! زه د ده په دين يم .

دوی راته وويل : كه مونږ ستا د قوم لحاظ نه ساتلی نو ته به مو وژلې وې لكن اوس مونږ تاته څه نه وايو مونږ صرف تا هغوی ته په لاس وركوو او له دې خپل ځای نه تا شړو .

دوی راته وويل اوس به مونږ تاته سخت ترين

عذاب درکوو بیا یې زه د خپل پلار د ځای په لور روانه کړم او زما د پلار کور په ذي الخلصة کې په صنعاء کې وو زه یې په یوه اوښ سپره کړم ماته به یې ډوډۍ او شهد راکړل هغه به زما خوراک وو او یو څاڅکی اوبه یې نه راکولې تردې چې په لاره کې په دښته کې زمونږ غرمه راغله دوی ځانونو ته خیمې ودرولې زه یې سره لمر ته بهر پرېښودم تردې چې زه بې هوښه شوم دری ورځې یې زه پداسې حالت کې بغیر د اوبو څخه وساتلم .

په دریمه ورځ یې راته وویل : دا نوی دین دې چې نیولی دی دا پرېږده .

زه د دوی په خبرو پوره نه پوهېدم چې څه وایې لکن ما به په خپله ګوته د اسمان لور ته اشاره وکوله زه د تندې نه بې هوښه وم ځان مې نشوای په واک کې کولی تردې چې یوه یخه ډولچه مې په سینه باندې را کېښودل شوه ما هم خوله ور نېږدې کړه او په یوه دمه مې ډېرې زیاتې اوبه ورڅخه و څښلې سترګې مې خلاصې کړې ومې کتله هغه لما څخه لوړه وه د زمکې او اسمان په مینځ کې ځړېدلې وه .

دوی چې زه ولیدم په ما باندې ښکاره وې چې اوبه مې څښلې دې او یا د بل روایت له مخې ماته بله ډولچه هم راغله ما په خپل سر او په ځان واچولې دوی راته وویل دا اوبه دې له کومه

کړې د الله ① دښمنې ؟
ما ورته وویل د الله ① دښمنان هغه کسان دي چې د الله ① د دین څخه یې مخ اړولی وي او دا اوبه چې تاسې یې په اړه پوښتنه کوئ دا د الله ① له لوري نه ماته راغلې .
بیا دوی ټول حیران شول او چې لږ فکر یې وکولو په دې دښته کې اوبه بغیر د الله ① نه هېڅوک هم چا ته نشي ورکولی نو ماته یې وویل رښتیا چې دا تاته الله ① درکړې دي بیا دوی ټولو اسلام قبول کړو بیا به هغوی ټولو زما کرامت په یاد ساتلو او زما قدر به یې کولو .

ام حکیم بنت الحارث رضی الله تعالی عنها

ام حکیم بنت الحارث بن هشام بن المغیرة المخزومیة د ابي جهل وریره وه او د ابي جهل د زوی عکرمة په نکاح کې وه دجاهلیت په زمانه کې خپل پلار الحارث د ابي جهل زوی عکرمه ته په نکاح ورکړې وه او د ابي جهل زوی په هغه نهو کسانو کې وو چې رسول الله ﷺ د دوی په اړه اعلان کړی وو که په هرځای کې تاسې ته په مخه درشي

نو قتل یې کړئ کله چې مکه د مسلمانانو په لاس باندې فتح شوه د مسلمانانو سره هېڅ مقاومت ونشو ډېر کم جنګ وشو چې د نشت برابر وو هغه هم د ابي جهل د زوی په واسطه شوی وو ده ورته څه کسان را ټول کړي وو چې جنګ وکوي کله چې مسلمانان په مکمله توګه په مکه باندې حاکم شول نو عکرمة یمن ته و تښتېدو ځکه دده دښمني د رسول الله ﷺ سره پټه نه وه هم په سیاسي او هم په نظامي لحاظ باندې د رسول الله ﷺ په دښمنانو کې د ابي جهل د زوی عکرمة نوم تر هرچا وړاندې وو .

په مکه کې ډله ډله خلک راتلل او په اسلام کې داخلېدل پدې خلکو کې د ابي جهل ورور الحارث هم راغلو اسلام یې قبول کړو او د هغه سره یې لور د ابي جهل نږور او د عکرمة بن ابي جهل مېرمن هم راغله په اسلام مشرفه شوه چې کله یې د اسلام خوند او مزه ولیده نو ډېره زیاته خوشحاله وه چې الله ① ورته د اسلام عزت ورکړی وو او ښه رښتونی اسلام یې قبول کړو او خپل ټول ژوند یې د اسلام د هدایاتو له مخې بدل کړو د رسول الله ﷺ سره یې په ټولو نېکو عملونو باندې بیعت وکولو کله یې چې پدې نوي ژوند کې یو ډول نوی سکون او ارام محسوس کړو نو یې وغوښتل چې ددې د ژوند شریک او دیته په ټولو خلکو کې

محبوب له یوه پلوه ددې د تره زوی او له بله پلوه ددې خاوند هم اوس په ایمان مشرف شوی وای نو راغله رسول الله ﷺ ته یې ویل زما خاوند عکرمة لتا څخه یمن ته تښتېدلی دی هغه ډارېږي چې ته به یې مړ کړې هغه ته امان ورکړه رسول الله ﷺ ورته ویل هغه ته امان ورکړل شوی دی ام حکیم چې دا خبره واورېده خوشحاله شوه او د خپل خاوند عکرمة بن ابي جهل په لټون کې ووتله هغه یې پیدا کړو هغه ته یې د رسول الله ﷺ په اړه خبرې وکولې او ورته یې وویل چې هغه مبارک ﷺ څه یو عجیب انسان دی ټوله قصه یې ورته وکوله هغه راغلو بتان یې مات کړل او خلک یې یوازې د یو الله ① عبادت ته را وغوښتل او هغه ذات چې مونږ یې عبادت کوو په هرشي کې له مونږ سره مرسته کوي وأحد او لا شریک دی ثاني نه لري په مکه کې چې څومره خلک وو که یې د رسول الله ﷺ سره هرڅومره ظلم کړی وو ټول یې معاف کړل او زه تاته راغلې یم چې ته هم ځان خلاص کړه

عکرمه ورته وویل : څه وکوم .

ام حکیم ورته ویل : لا اله ا لا الله ووایه

عکرمه ورته ویل : د همدې نه خو زه را تښتېدلی یم .

ام حکیم ورته ویل: ګوره زه درته د داسې چا څخه راغلې یم چې ډیر غوره دی او مهربان دی

ای د تره زویه ګوره خپل ځان په هلاکت کې مه غورځوه ما درته د رسول الله ﷺ نه ا مان غوښتی دی هغه تاته امان درکړی دی .

عکرمه ورته ویل: تا رښتیا له هغه څخه ماته امان اخستی دی؟

دې ورته ویل : هو ما ورسره خبرې کړې دي هغه تاته امان درکړی دی .

ددې خبرې سره هغه مکې ته را روان شو کله چې را نېږدې شو رسول الله ﷺ د معجزې په ډول خپلو ملګرو ته وویل عکرمة راځي او اسلام قبلوي دده پلار (ابو جهل) ته ښکنځل مه کوئ مړیو ته ښکنځل ژوندیو ته ضرر رسوي او مړیو ته نه رسیږي .

عکرمه د خپلې ښځې نه جماع و غوښته هغې ورته ویل : دا اوس نشي کېدای زه مسلمانه او ته کافرېې .

عکرمه وویل: کوم شی چې تا اوس له ما څخه منع کوي دا ډېر لوی شی دی .

کله چې رسول الله ﷺ عکرمه ولید زیات ورته خوشحال شو او ور ټوپ یې کړل پداسې حالت کې چې څادر مبارک یې هم په اوږو نه وو دهغه هرکلی یې وکولو بیا رسول الله ﷺ کېناستو عکرمه او ا م حکیم ورته ولاړ وو.

عکرمة ورته ویل : دې ماته وویل چې تا ماته ا مان راکړی دی .

رسول الله ﷺ ورته ویل : هو دا رښتیا وایي تاته مونږ امان درکړی دی .
عکرمه ویل: نو بیا ما څه ته در غواړې؟
رسول الله ﷺ ورته ویل : دا چې ته ددې ګواهي ورکړې الله ① یو دی شریک نه لري او زه د الله ① رسول یم او دا چې ته زکات ورکړې او مونځ وکوې دا وکوې.... د اسلام ارکان یې ورته پوره کړل .
عکرمة وویل : دا خو ماته ډېر ښه شي ته در غواړي او دا ښه کار دی بیا عکرمة کلمه وویله رسول الله ﷺ چې دده له خولې څخه کلمه واورېده زیات پرې خوشحال شو .
عکرمه وویل : زه د ذکر پر ځای څه وایم ؟
رسول الله ﷺ ورته کلمه مبارکه یاده کړه چې دا وایه .
عکرمه وویل : ای رسول الله ﷺ زما لپاره دهغه څه ښنه وغواړه چې ما لتا سره کړي دي ستا دښمني مې کړېده ستا په خلاف مې جنګ کړی دی او ستا په مخامخ او یا په غیاب کې مې په تا پسې خبرې کړي دي .
رسول الله ﷺ په همدې ځای له الله ① ورته ددې ټولو یاد کړل شویو څیزونو ښنه وغوښته .
حضرت عکرمة ❽ د زړورو مجاهدینو له جملې نه

شو يو وخت داسې راغلو چې د روميانو سره سخت جنګ وو د حضرت خالد بن وليد په قيادت کې مسلمانان په جنګ بوخت وو جنګ هغه لور ته مخه وکوله چېرته چې د مسلمانانو د قائد خيمه وه او د حضرت خالد بن وليد د شهادت خطر را مينځ ته شو دی مبارک را ورانډې شو او اعلان يې وکولو څوک داسې شته چې لما سره په مرګ باندې بيعت وکوي (لما سره بيعت وکوي چې تر مرګه پورې به په شا نه ځي) په يوه آواز سره څلور سوه کسان د عکرمة رضی الله تعالی عنه سره را ټول شول او د کفارو په حمله باندې يې ځوابي حمله وکوله تردې چې هغوی يې په شا کړل او حضرت عکرمة ❽ سخت زخمي شو حضرت خالد بن وليد ورغلو دهغه سر يې په خپل زنګون باندې کېښود او په خوله کې يې اوبه ورکولې تردې چې د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو .

د حضرت ام حکيم رضی الله تعالی عنها پلار يو ورور او خاوند دری واړه په شهادت ورسېدل بيا هم دې مبارکې رضی الله تعالی عنها وربانډې هېڅ ډول فرياد ونه کولو وجه يې دا وه چې دې رضی الله تعالی عنها به ويل زه هم د همداسې حالت غوښتونکې يم کله چې زه د الله ① نه د خپل ځان لپاره شهادت غواړم نو بيا د بل په شهادت څنګه وژاړم؟ .

حضرت ام حرام بنت ملحان رضی الله تعالی عنها

د حضرت ام سلیم بنت ملحان رضی الله تعالی عنها خور وه او د حضرت انس بن مالک ❽ خاله وه رسول الله ☸ ددوی ټولو زیات قدر کولو او د دوی کور ته به ورتلو دا مبارکه د حضرت عبادة بن صامت ❽ مېرمن وه دوه ورونه یې وو سلیم او حرام دواړه په بدر او اُحد کې شریکان وو او د بئر معونة په واقعه کې دواړه شهیدان شول (د بیر معونة په واقعه کې رسول الله ☸ اویا کسان صحابه اهل نجد ته ددې لپاره ولېږل چې هغه خلک اسلام ته را وغواړي او دوی ته قران ور زده کړي هلته خلکو ورسره خیانت وکولو او هغه ټول یې شهیدان کړل) او حضرت حرام رضی الله تعالی عنه هغه کس وو چې له شا نه په نېزه باندې ولګېدو په زوره یې آواز وکولو فزت ور ب الکعبة (زما د د کعبې په رب قسم وي زه کامیاب شوم) دې مبارکې احادیث هم روایت کړي دي او حضرت انس بن مالک او نورو صحابه وو ☙ ورڅخه حدیثونه نقل کړي دي .

د ام حرام رضی الله تعالی عنها به ډېر شوق وو چې له مجاهدینو سره تللی وای او جهاد یې کړی وای تردې چې بحر خواته د مجاهدینو د وتلو وخت شو

ددې خاوند حضرت عبادة بن صامت ❽ پدې مجاهدینو کې وتلو نو دا مبارکه هم ورسره لاړه او هلته په قبرس کې الله ① ورته شهادت نصیب کړو.

رسول الله ☸ یوه ورځ د دوی په کور کې ویده وو چې را ویښ شو خندل یې دې مبارکې ورځخه پوښتنه وکوله یا رسول الله ☸ ولې خاندې؟ رسول الله ☸ ورته وفرمایل: ما ته غازیان را ښکاره شول لکه بادشاهان داسې ښکاره کېدل.

حضرت ام حرام رضی الله تعالی عنها ورته وویل: ما ته هم دعا وکوه چې له دوی نه شم.

رسول الله ☸ ورته دعا وکوله بیا یې سر مبارک کېښودو او ویده شو.

کله چې بیا را ویښ شو رسول الله ☸ خندل دې مبارکې رضی الله تعالی عنها بیا د خندا وجه ترې وپوښتله رسول الله ☸ ورته وفرمایل: ما ته د الله ① په لاره کې غازیان را ښکاره شول لکه بادشاهان داسې ښکاره کېدل.

دې مبارکې ورته وویل: یا رسول الله ☸ ما ته دعا وکوه چې زه هم له دوی نه شم.

رسول الله ☸ ورته وویل ته دهغه اولو له جملې نه یې.

حضرت انس بن مالک ❽ فرمایي ددې وخت نه

وروسته هغه د خپل خاوند سره جهاد ته ددې لپاره لاړه چې هلته د زخميانو درملنه او دهغوی خدمت وکوي هلته شهيده شوه او دا جنگ د حضرت عثمان بن عفان د خلافت په دور کې وو .



حضرت اسماء بنت یزید رضی الله تعالی عنها

اسماء بنت یزید بن السکن بن رافع بن امرئ القیس بن عبد الاشهل بن الحارث الانصاریه الاوسیه الاشهلیه رضی الله تعالی عنها محدثه وه او د وخت مجاهده وه او د رسول الله ☸ هغه طالبه وه چې د حق په ویلو کې یې د هېچا پروا نه کوله او الله ☸ د حق په ویلو کې په زړه پورې ژبه او قوه ورکړې وه د هجرت په اول کال کې یې د رسول الله ☸ سره په ملاقات کې نصیب شوی وو او هلته یې د رسول الله ☸ سره بیعت کړی وو .

په دې مبارکه رضی الله تعالی عنها کې یو صفت وو چې د حق په اړه د ځان په پوهولو کې یې هېڅ مشکل نه درلود نه ورته شرم دریدو او نه بل شي منع کولی شول ددې امله به یې د رسول الله ☸ څخه هغه پوښتنې کولې چې بل چا به نشوای کولی او کله به چې په زنانه خاصو مسئلو کې ښځو ته څه مشکل وو نو دې مبارکې ته به یې ویل او دې مبارکې به د رسول الله ☸ څخه پوښتنه کوله .

یوه ورځ رسول الله ☸ ته راغله ورته فرمایل یې : یا رسول الله ☸ زه د څه ښځو په نیابت خبرې کوم او دوی په ما پسې شا ته دي زما خبره د دوی

خبره ده الله ① تاسې نارينه او ښځينه وو ته را ليږلى يې مونږ در باندې ايمان راوړ او ستا متابعت مو وكولو مونږ زنانه د سړيو په نسبت سره قاصرې يو په كورونو كې ناستې وو او سړيو ته ډېر ثوابونه وركول كيږي هغوى جهاد ته ځي الله ① هغوى ته ډېر ثوابونه وركوي او كله چې هغوى جهاد ته لاړ شي نو مونږ ښځينه دهغوى د كور او اولادونو ساتنه كوو آيا مونږ له هغه سره په ثواب كې شريكانې يو؟

رسول الله ☸ خپلو صحابه وو ته وكتل ورته يې وويل : تاسې تراوسه كومه ښځه ليدلې ده چې ددې څخه يې ښه اسلامي پوښتنه كړې وي؟

بيا رسول الله ☸ ورته وفرمايل : ته ځه هغه ښځې چې په تا پسې شا ته دي هغوى ته ووايه چې تاسې كله د خپل خاوند متابعت كوئ نو په ټولو هغه ثوابونو كې ورسره شريكې ياست چې هغوى يې اخلي .

حضرت اسماء رضى الله تعالى عنها د رسول الله ☸ له مجلس نه را پاڅېده الله اكبر يې ويل او ښځې به يې چې ليدلې نو د رسول الله ☸ د خبرې زيرى به يې وركولو .

د رسول الله ☸ تر وفات وروسته د يرموك غزوة واقع شوه دې غزوې ته دا مباركه پخپله د ګن

شمېر مسلمانو خویندو سره تللې وه او هلته ي د مسلمانانو زخمیانو تداوي او درملنه کوله یو وخت چې د کفارو فشار په مسلمانانو باندې زیات شو نو د مسلمانانو څه کسانو شاته تلل شروع کړل دحضرت اسماء رضی الله تعالی عنها په شمول مسلمانانې ښځې ورته را ووتلې او هغوی ته په مخه کې ودرېدلې چیغې یې ورته وهلې مه راځئ شاته جنګ ته مخه کړئ او ځینو به چې خپل خپلوان پکې لیدل هغوی ته به یې آواز کولو که یو قدم نور شاته راغلې بیا زما مخ ته ونه ګورې او بالآخره یې کانې په لاسونو کې واخیستل او کوم مسلمانان به چې له جنګ نه را وروسته کېدل نو هغوی به یې په کاڼو ویشتل تردې چې هغوی بېرته جنګ لوري ته مخه کړه او په لږ ساعت کې د جنګ پله واوښته او الله ﷻ مسلمانانو ته کامیابي ورکړه او کفارو ماتې وخوړه .

حضرت امام ابن حجر رحمه الله ددې په اړه فرمایي : هي اسماء بنت یزید بن سکن شهدت الیرموك وقتلت یومئذ تسعه من الروم وعاشت بعد ذلك دهرا (دا سماء بنت یزید بن سکن وه د یرموک په جنګ کې شریکه وه او پدې ورځ یې ۹ کسان رومیان ووژل او دهغې نه وروسته هم ډېر وخت ژوندی پاتې وه) .

پدې غزوة کې دې مبارکې پخپله په جنګ کې شرکت کړی وو او زخمي شوې وه لکن الله ① بیا هم ددېنه

وروسته عمر ورکړو او د هجرت په دېرشم کال باندې وفات شوه الله ① يې دې د ټولو مسلمانانو ميندو سره په جنت کې درجې لوړې کړي .

حضرت سبيعة بنت الحارث رضی الله تعالی عنها

دا سبيعة بنت الحارث ا لاسلمية وه د اسلام په سر کې په اسلام مشرفه شوه او د رسول الله ﷺ سره يې بيعت وکولو او د هغه سره يې تعهد وکولو چې د الله او دهغه د رسول ﷺ سره به پوره اخلاص کې وي او دا چې د دين د خدمت لپاره به کار کوي د حضرت سعد بن خولة رضی الله تعالی عنه سره يې واده کړی وو بيا له هغه څخه کونډه شوه .
دا مبارکه رضی الله تعالی عنها په اخلاص ، تقوی، بزرګي، علم، جهاد کې ډېره پياوړې وه او د هغه بيبيانو له جملې نه وه چې ګڼ شمېر احاديث يې روايت کړي دي او هغه کسان چې ددې په شاګردانو کې وو او د لوړې مرتبې خاوندان وو حضرت عبد الله بن الارقم ، مسروق بن الاجدع ، زفر بن اوس بن الحدثان ، عبيد ابو سوية او عمرو بن عتبة بن فرة شامل دي دوی ټولو ورڅخه روايتونه نقل کړي دي او د دې مبارکې

شاګردان وو.

امام عبد البر رحمه الله فرمايي : لدې مبارکې رضی الله تعالی عنها څخه د کوفي او مدينې فقهاوو تابعينو روايات کړي دي او ددې مبارکې حديثونه په صحيح بخاري او صحيح مسلم کې او په سنن نسائي او ابن ماجه کې نقل کړل شوي دي .

دې مبارکې په پوښتنو پوښتنو کې په لوړه سويه علم حاصل کړو او چې ددې مبارکې سيرت کتل کيږي نو پخپله انسان ته ښکاره کيږي چې کومې خبرې د اسلام د مخالفينو له لوري د اسلام په اړه کيږي چې اسلام غواړي ښځه د تورو پردو شاته وساتي هغه ټولې درواغ دي بلکه اسلام غواړي چې ښځې ته تر شونې حده پورې عزت ورکړي .

ددې مبارکې رضی الله تعالی عنها نه يو حديث نقل شوی دی چې رسول الله ﷺ فرمايل : په تاسې کې چې څوک کولی شي په مدينه کې وفات شي نو وفات دې شي څوک چې په مدينه کې وفات شي زه د هغه شفاعت کوم .

ددې مبارکې څخه داسې حديثونه روايت شوي دي چې د حديثو په کتابونو کې شهرت ته رسېدلې دي يو ترينه هغه حديث دی چې کله يو انسان په حق ورسيږي او ښځه يې پدې وخت کې حامله وي دا ښځه به څومره وخت خپل عدت تېروي؟ آيا دا به څلور مياشتې او لس ورځې په عدت کې وي او که څنګه ؟ ددې ځواب ددې مبارکې په حديث کې وو چې ددې

ښځې عدت د ماشوم پیدا کېدل دي .
دې مبارکې به تر خپله وسه هغه خبرې زده کولې چې کومې به یقیني وې او هغه وخت چې ابو السنابل نومي صحابي دې رضی الله تعالی عنها ته یوه مسئله وکوله او ددې په زړه ونه لګېده وربانديې شک یې شو نو راساً ورغله د رسول الله ﷺ نه یې دهغې مسئلې په اړه پوښتنه وکوله او کله چې هغه ﷺ ورته مسئله وکوله نو ددې مبارکې وربانديې یقین شو .
ددې رضی الله تعالی عنها په حدیث کې دي چې کله کونډه په نکاح ورکول کیږي ددې په حق کې پټه خوله پاتې کېدل اقرار نه دی بلکه کونډه به په صریحو ټکو کې ښکاره کوي چې د نوموړي کس سره ددې نکاح زړه غواړي او کنه او که چېرته دا د کوم سړي د نکاح نه انکار کوي نو هېڅوک یې هم نشي وربانديې تحمیل کولی ددې مبارکې ددې حدیث نه ټولو خلکو ته هغه ازادي ښکاره کیږي کومه چې اسلام ښځو ته ورکړې ده .



حضرت ام عطية الانصارية رضی الله تعالی عنها

دا حضرت نسیبة بنت الحارث الانصاریة وه او دې مبارکې ته ام عطیة ویل کېدل دې مبارکې ډېر زیات او لوی کارونه کړي دي د اسلام او مسلمانانو د خدمت لپاره یې زیاتې قربانۍ ورکړې دي او دا مبارکه په علم او تقوی او په قرباني کې زیاته مشهوره وه او په صحابیاتو کې د لوړې مرتبې ښځه ګڼل کېده ددې مبارکې په اړه که مونږ د هرې زاویې نه خبره وکوو د قدر وړ تاریخ لرې که د علم د زاویې نه وي او که د جهاد له لوري نه او که د اسلام د خدمت لپاره د نورو قربانیو له نګاه نه ددې مبارکې تاریخ په سرو زرو د لیکلو وړ دی .

دا مبارکه هغه وخت په ایمان مشرفه شوه کله چې د اسلام رڼا نوې نوې مدینې منورې ته را ورسېده او په ډېرو غزواتو کې دا مبارکه هغه څوک وه چې په سخت حالت کې به یې د تورو تر شرنګهار لاندې د زخمیانو تنده ور ماتوله او د هغوی په زخمونو باندې به یې پټۍ لګولې او په کوم شي کې به چې ورته ښکاره شوه چې ثواب دی بیا یې دېته نه کتل چې دا څنګه کار دی او هغه کار ته به یې مخ اړولو کله چې دې مبارکې ته ښکاره شوه چې مسلمانې ته پس له مرګه په غسل ورکولو

کې ثواب دی نو دهغې نه وروسته دا مبارکې ډېرو مسلمانو میندو او خویندو ته غسلونه ورکړي وو .

د رسول الله ﷺ سره په نظامي میدانونو په اووو لویو غزا ګانې کې یې شرکت کړی وو دا مبارکه فرمایي ما به د مجاهدینو لپاره خوراک تیارولو او هغوی ته به مې اوبه ورکولې او د هغوی خدمت به مې کولو د خیبر غزا چې لدې امله سخته وه چې له مدینې منورې څخه لرې وه خو بیا هم دا مبارکه یوه له هغه شلو ښځو څخه وه چې د رسول الله ﷺ سره صرف د الله ① د رضا د حاصلولو لپاره د جنګ میدان ته وتلې وې .

د حضرت نسیبې رضی الله تعالی عنها د اسلام او رسول الله ﷺ سره داسې بې ساري مینه وه چې دا مبارکه هروخت د رسول الله ﷺ او د اسلام په بدل کې خپل ځان قربان کولو ته تیاره وه او هر وخت به چې د رسول الله ﷺ سره جهاد ته تلله شوق به یې وو که الله ① ورته شهادت نصیب کړي .

همدا مبارکه وه چې د رسول الله ﷺ لور حضرت زینب رضی الله تعالی عنها ته یې غسل ورکړی وو کله چې هغه وفات شوه او کله چې د حضرت ابي العاص ❽ مېرمن حضرت زینب رضی الله تعالی عنها وفات شوه نو رسول الله ﷺ همدې مبارکې ته احوال ور ولېږلو

چې دې ته غسل ورکړه او بیا یې ورته وویل چې طاق ځله غسل ورکړه درې یا پنځه یا اوه ځله او یا تردې زیات څومره چې تاسې غوښته لکن طاق به وي حضرت نیسیة بنت حارث رضی الله تعالی عنها فرمایي بیا مونږ هغې ته غسل ورکړو او دهغې وېښتان مو درې کمڅې کړې یوه مو په ښي طرف کې او بله مو په چپ طرف کې او د مخ وېښتان مو شاته ورته واړول .

یوه ورځ چې رسول الله ﷺ کور ته ننوتلو د حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها څخه یې پوښتنه وکوله په کور کې څه شی شته؟ دې مبارکې ورته وویل نور خو څه نشته خو یو ګډ دی چې حضرت نسیبې یا ام عطیة الانصاریة مونږ ته را لېږلی دی رسول الله ﷺ وفرمایل : په تحقیق سره دا خپل ځای ته ورسېده .

او دې مبارکې به د حدیثونو په زده کولو کې ډېر زیات زیار ویسته او ددې په واسطه باندې څلوېښت احادیث را نقل کړل شوي دي .

دا مبارکه د خپل عمر په آخر وخت کې بصرې ته لاړه هلته یې د یو قدرمنې استاذې حیثیت درلود او ډېرو خلکو ورڅخه ډېرې دینې مسئلې زده کړې او زده کولې یې په خاصه توګه د مړي د غسل په اړه دېته هره جزیه زده وه او په هغه کې هر مشکل ته ددې سره ځواب وو آخر د هجرت په اویایم شاوخوا کې هماغلته په بصره کې وفات

شوه .

الربيع بنت معوذ رضى الله تعالى عنها

ربيع بنت معوذ بن عفراء هغه وخت په ايمان مشرفه شوه کله يې چې د خپل تره عماذ بن الحارث څخه واوريدل د رسول الله ﷺ په اړه يې هغه وخت خبرې کولې چې له مکې مکرمې نه راغلى وو ددې تره مبارک فرمايي چې مونږ د حج په موسم کې د عقبې سره وو زه وم اسعد بن زرارة معوذ بن عفراء رافع بن مالک بن عجلان او څه نور کسان راسره وو رسول الله ﷺ مونږ ته راغلو را څخه يې وپوښتل تاسې څوک ياست؟ مونږ ورته وويل د خزرج قبيلې کسان يو بيا يې راته وويل يو ساعت لما سره نه کينئ زه لتاسې سره يو څه خبرې وکوم؟ مونږ ورته وويل صحيح ده بيا مونږ دده مبارک سره کېناستو ده مبارک مونږ ته خبرې وکولې او بيا يې مونږ ټول اسلام ته ور وغوښتو په مونږ کې اسعد بن زرارة خبرې وکولې او ويې ويل تاسې ته معلومه ده چې دا هماغه نبي دى چې يهودو به مونږ ته يادولو بيا مونږ ټولو د رسول الله ﷺ سره اسلام قبول کړو

او زمونږ سره په مجلس کې شریک ملګري تول په اسلام مشرف شول کله چې معاذ بن الحارث دا قصه مکمله کړه نو معوذ بن الحارث خپل ورور معاذ ته وویل : زما دې د کعبې په رب قسم وي تاسې کامیاب شوئ ماته هغه څه را وښایه چې تاسې ته محمد بن عبد الله ﷺ درښودلي دي .

معاذ بن عفراء ورته د قران کریم څه آیتونه تلاوت کړل او بیا یې د اسلام په اړه یو څه خبرې وکولې په همدې ځای باندې معوذ بن الحارث او دده مبارک ❽ لور حضرت ربیع بنت معوذ په همدې ځای کې په اسلام مشرف شول او مبارکه کلمه یې وویله .

په مدینه منوره کې اسلام په خپرېدو شو لکن تر اوسه پورې د اسلام د قوانینو او احکاماتو نه دلته څوک پوره خبر نه وو صرف خلکو کلمه ویله او اسلام یې قبلولو د مدینې منورې ځینې خلکو رسول الله ﷺ ته وفرمایل مونږ ته له خپلو ملګرو څخه داسې څوک را ولېږه چې له مونږ سره د دین په زده کړه کې مرسته وکوي او مونږ ته دین را زده کړي .

رسول الله ﷺ حضرت مصعب بن عمیر د خپل سفیر په ډول مدینې منورې ته ولېږلو او دا په اسلام کې لمړی سفیر وو ده به هلته خلکو ته دین ور ښودو او د دین حکمونه به یې ورزده کول اود رسول الله

ﷺ له لوري به يې د خلكو سره بيعت كولو ترڅو پورې چې په مدينه منوره كې ډېر خلک مسلمانان شول او هغه وخت راغلو چې په مكه مكرمه كې د رسول الله ﷺ ژوند نور تريخ شو بلكه بالكل نه تېرېدلو او كفارو تيارى كړى وو چې رسول الله ﷺ له كور نه راوزي دوى به يې شهيد كړي د مختلفو قبيلو خلک را ټول شوي وو او له تورو سره يې د رسول الله ﷺ په دروازه كې انتظار كاوه الله ①

رسول الله ﷺ په كور د ننه له هغه څه نه خبر كړو چې دده مبارک ﷺ له كور نه بهر روان وو او دى په داسې حالت كې را ووتلو چې ټولو كفارو سترگې خلاصې نيولې وې لكن رسول الله ﷺ يې نه ليدلو او د څه شپو سفر نه وروسته مدينې منورې ته را ورسېدو پداسې حالت كې چې په مدينه منوره كې يې خلكو انتظار كاوه هره ورځ به يې دده مبارک ﷺ لاره څارله آخر هغه ورځ راغله چې رسول الله ﷺ را ورسېدو او ټولو مسلمانانو يې په مينه او محبت سره استقبال وكولو رسول الله ﷺ د دومره زياتو مسلمانانو په ليدلو ډېر زيات خوشحال وو .

ربيع بنت معوذ د رسول الله ﷺ سره بيعت كړى وو او ددې پلار مبارک ❽ په بدر كې شريک وو د بدر

په غزا کې يې د ابي جهل په مرګ کې برخه واخيستله او ددې امت د فرعون په قتل کې د شرکت شرافت يې الله ① نصيب کړو .
ربيع بنت معوذ د حضرت ام عمارة رضی الله تعالی عنها سره د اُحد په جنګ کې د مسلمانانو زخميانو په درملنه کې شريکه وه او په شريکه سره يې د زخميانو تداوي درملنه او علاج کولو .
دا مبارکه هغه بي بي وه چې د رسول الله ﷺ اودس ته يې متعدد ځله کتلي وو او په سمه طريقه يې زده کړی وو او مشرانو صحابه وو رضي الله عنهم به تري پوښتنه کوله چې رسول الله ﷺ به اودس څه ډول کولو او دې مبارکې به ورته د هغه ﷺ د اوداسه طريقه ښودله .
يوه ورځ حضرت عبد الله بن محمد بن عقيل بن ابي طالب رحمه الله حضرت ربيع بنت معوذ رضی الله تعالی عنها ته راغلو ورته يې وويل : زه راغلم چې له تا نه پوښتنه وکوم رسول الله ﷺ اودس څنګه کولو؟ دې مبارکې ورته وويل : رسول الله ﷺ به زمونږ ځای ته راتلو او په داسې يوه لوښي به يې اودس کولو (يوه لوښي ته يې اشاره وکوله (اول به يې په لوښي کې تر غوټه کولو وړاندې لاسونه مبارک ووينځل بيا به يې دری ځله په خوله اوبه تېرې کړې او دری ځله به يې په پوزه

اوبه تېرې کړې مخ به يې درې ځله ووينځلو بيا به يې لاسونه درې درې ځله ووينځل بيا به يې په سر باندې مسح وکوله د شا له خوا او د مخ له لوري نه بيا به يې د غوږونو مسح وکوله او پښې به يې درې ځله ووينځلې .

ربيع بنت معوذ رضی الله تعالى عنها يې له خپل خاوند سره لانجه وکوله او هغه ته يې وويل : ماته طلاق راکړه زما په ملک کې چې هرڅه دي هغه به زه درکړم خاوند يې ورته وويل سمه ده دې مبارکې دهغه نه د ځان خلاصولو لپاره خپل هرشی هغه ته حواله کړل صرف يوه زغره يې پرېښوده چې دې مبارکې به کله کله غزا ته د تللو په وخت باندې آغوستله ... خاوند يې ورته وويل :ترڅو چې دا هم ماته رانه کړې زه تاته طلاق نه درکوم د دوی لانجه حضرت امير المؤمنين عثمان ❽ ته راغله امير المؤمنين ورته وويل ستا ژبه خپله په تا باندې حاکمه ده اوس دا زغره هم دده کيږي دې مبارکې سره ددې چې خپله يې هم ورته ضرورت درلود هغه يې هم خپل خاوند ته ورکړه .

يو ځل حضرت ابو عبيدة بن محمد بن عمار بن ياسر رحمه الله ورته وويل : ماته د رسول الله ﷺ په اړه ووايه د هغه ﷺ شکل مبارک څنګه وو؟ دې مبارکې ورته وويل : رسول الله ﷺ به دې چې کله ليدو تا به فکر کولو چې د لمر سترګې ته ګورم



حضرت جمیلة بنت عبد اللّٰه بن أبي بن سلول (رض)

دا مبارکه د حضرت حنظلة ❽ بي بي وه چې هغه مبارک له دې سره صرف یوه شپه کړې وه هغه شپه وه چې په سبا باندې د اُحد غزا وه د اُحد تر غزا وړاندې شپه باندې ددې مبارکې او د حنظلة رضی الله تعالی عنه د ملاقات اوله شپه وه دا مبارکه فرمایي په دې شپه باندې زما سترګې ورغلې وې چې ما خوب ولیدو په اسمان کې دروازه خلاصه شي حنظله ور ننوزي او دروازه ورپسې بنده شي دا مبارکه فرمایي چې را وېښه شوم ما خپل خوب ته معنی ورکړه چې حنظله به ډېر زر شهید شي .

سحر په ډېره تیاره کې ډېر وختي حضرت حنظلة ❽ را پاڅېدو اودس یې وکولو مونځ یې وکولو بیا د خپلې بي بي سره وو او بیا ورته د غسل ضرورت شو چې پدې وخت کې د رسول اللّٰه ☸ له لوري نه آواز وشو چې غزا ته تلل دي کله یې چې دا آواز تر غوږ شو هرشی ورځخه پاتې شول حتی چې غسل کول هم ورڅخه پاتې شول او په منډه را ووتلو غزا ته روان شو د اُحد په میدان کې حنظلة ❽ تر ابي سفیان پورې ور ورسېدو نېږدې

وه چې ابي سفيان يې وژلی وو چې شداد بن اوس پسې را ورسېدلو او حنظله ❽ يې شهيد کړو د حضرت حنظلة ❽ بدن مبارک د يوڅو لحظو لپاره غيب شو چې بېرته وکتل شول تر وېښتو مبارکو يې اوبه څڅېدلې ملائکو ورته غسل ورکړی وو ددې امله ده ❽ ته غسيل الملائکه هم ويل کيږي

رسول الله ﷺ وفرمايل ستاسې دې ملګري ته ملائکو غسل ورکړی دی له ملګري (بي بي) نه يې پوښتنه وکوئ چې په دې کې څه راز دی ؟

کله چې ددې مبارکې رضی الله تعالی عنها نه پوښتنه وشوه دې مبارکې وويل : هغه په تادي کې له کوره ووتلو او په داسې حالت کې چې غسل ته يې ضرورت وو نو د غسل کولو موقع په لاس ورنغله .

بيا رسول الله ﷺ وفرمايل نو ځکه ملائکو ورته غسل ورکړی دی .

له همدې ورځې نه حضرت حنظلة ❽ په غسيل الملائکة سره شهرت پيدا کړو چې چېرته هم د اُحد د وقعې ذکر کيږي نو غسيل الملائکه حضرت حنظله ❽ پکې خامخا ياديږي .

د حنظلة ❽ د همدې يوې شپې نه الله ① جميلې بنت عبد الله ته ماشوم ورکړو چې پيدا شو نوم يې ورباندې عبد الله بن حنظله کېښودو .

ددي مبارکې آخري خاوند حضرت خبيب بن يساف ❽ وو دا مبارک د رسول الله ☸ سره هغه وخت ملاقي شو چې رسول الله ☸ بدر ته روان وو اسلام يې قبول کړو او په بدر کې يې شرکت وکولو په اُحد کې هم شريک وو په خندق کې يې هم برخه اخيستې وه د حضرت عثمان ❽ د خلافت په زمانه کې په حق ورسېدو او د جميلې بنت عبدالله په اړه معلومه نه ده چې له خاوند څخه يې مخکې او که وروسته وفات شوه .

حضرت ام الدحداح الانصارية رضی الله تعالی عنها

دهغه صحابياتو له جملې نه وه چې د اسلام په تاريخ کې ځلاند نوم لري دا مبارکه هغه وخت په اسلام مشرفه شوه چې د رسول الله ☸ سفير حضرت مصعب بن عمير ❽ مدينې منورې ته تشريف راوړو او د رسول الله ☸ په نيابت يې په مدينه منوره کې خلک اسلام ته را غوښتل او هغه کسان چې مسلمانان وو هغوی ته يې د اسلام احکام ور ښودل خاوند يې د لوړې مرتبې خاوند ابو الدحداح ❽ وو او د اسلام له مشهورو جنګي پهلوانانو څخه

شمارل کېدو حضرت ابي الدحداح او حضرت ام الدحداح رضی الله تعالی عنهما دواړه په اسلام مشرف شوي وو دوی د ښه مال او ښې زمکې خاوندان وو زیاته زمکه یې وه او په لاس کې یې ښه مال وو کله چې دا آیت نازل شول :

سورة البقرة آية ٢٤٥

مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ

ترجمه : څوک دی هغه کس چې الله ① ته قرض ورکړي نیک قرض الله ① به دهغه بدل په څو چنده زیات ورکړي الله تعالی رزق فراخوي او تنګوي یې او همدې الله ① ته تاسې رجوع کوئ .

حضرت ابو الدحداح ❽ رسول الله ☸ ته راغلو ورته ویل یې : یا رسول الله ☸ الله ① له مونږ نه قرض غواړي سره ددې چې هغه له قرض نه غني دی؟ رسول الله ☸ ورته وفرمایل : هو ! هغه غواړي چې تاسې ددې په واسطه جنت ته داخل کړي .

ده مبارک وویل : که زه الله ① ته قرض ورکړم زما او زما د ماشومې الدحادحة لپاره ددې قرض له امله ذمه واري راکوي چې مونږ به جنت ته ننباسي؟ رسول الله ☸ ورته و فرمایل : هو ! بیا حضرت ابو الدحداح ❽ ورته وویل : نو لاس د

راکړه .

رسول الله ﷺ خپل مبارک لاس ورکړو ده ورته وویل زما دوه باغونه دي یو مې په ښکته زمکه کې دی او بل مې په لوړه ساحه کې دی او ددې نه بغیر زه نور هیڅ نه لرم دا دواړه ما الله ① ته قرض ورکړل .

رسول الله ﷺ مهربان نبي ورته وویل : یو د الله ① لپاره خاص کړه او بل د خپل ژوند او د خپلو ماشومانو د ژوند لپاره پریږده .

ده ❽ ورته وویل : نو یا رسول الله ﷺ بیا ګواه شه چې په دواړو کې کوم یو غوره دی هغه ما الله ① ته خاص کړو او هغه داسې باغ دی چې شپږ سوه ونې دي پکې .

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اوس به الله ① د هغه په بدل کې تاته جنت درکوي .

حضرت ابو الدحداح ❽ راغلو ویې کتل چې دده مېرمن حضرت ام الدحداح رضی الله تعالی عنها په باغ کې له ماشومانو سره وه ده ورته څه مسجع الفاظ وویل چې مطلب یې وو الله ① د تاته سمه لاره وښيي دا باغ ما الله ① ته قرض ورکړو الله ① به ددې په بدل کې ماته جنت راکوي حضرت ام الدحداح رضی الله تعالی عنها ددې په ځای چې خاوند ته ووایې دومره لوی او د فایدې نه ډک

باغ او تا د الله ﷻ په لار کې ورکړو؟ ورته ویې ویل ډېر فایده من تجارت دې کړی دی هغه څه چې تا اخیستي دي الله ﷻ د درته پکې برکت او خیر واچوي .
حضرت ام الدحداح زر زر د خپلې خولې او د ماشومانو له خولو نه هغه خورما را وویستې چې دوی او اوس خولې ته کړې وې او هغه څه چې د دوی په لاسونو کې وې هغه یې په باغ کې واچولې او خالي لاسونه ددې لوی او فایده من باغ چې ۶۰۰ ونې پکې وې ووتل او هغه بل باغ چې ترڈې وړوکی وو هلته یې د پوره خوشحالۍ سره تشریف یوړو او د خپل خاوند پدې تجارت یې پوره خوشحالي ښکاره کوله .
کله چې په اُحد کې ددې مبارکې خاوند ابو الدحداح په شهادت ورسېدو دا خبره شوه دې صرف وویل انا لله و انا الیه راجعون او بیا یې داسې صبر وکولو چې په صبر او ثبات کې د مثال په توګه یادېدله .

ام معبد الخزاعیة رضی الله تعالی عنها

دا حضرت ام معبد الخزاعیة عاتکة بنت خویلد بن خالد رضی الله تعالی عنها وه د دوی کور د مکې

او مدینې منورې په لاره کې واقع وو کله چې رسول الله ﷺ د خپل نېږدې ملګري حضرت ابي بکر صدیق ❽ سره مدینې منورې ته روان وو او لارښود یې عبد الله بن الاریقط وو دوی د ام معبد له خیمې سره تېرېدل ور وګرځېدل له هغوی نه یې وغوښتل که څه غوښه یا خورما وي دوی به یې ورڅخه په پیسو واخلي له هغوی سره داسې هېڅ شی نه وو ځکه پدې وخت کې ددوی حالت قحط ځپلی وو او غریبان وو رسول الله ﷺ یوې مېږې ته وکتل چې د خیمې په یو طرف کې وه پوښتنه یې ترې وکوله ای ام معبد دا مېږه څنګه ده؟

دې مبارکې ورته وویل : دا قحط وهلې ده کمزورې ده په رمه کې نشي تلی ځکه دلته حصاره ده .

رسول الله ﷺ ورته وویل : شودې پکې شته؟

دې مبارکې ورته وویل : نه هغه ډېره خرابه ده د شودو نه غورځېدلې ده .

رسول الله ﷺ ورته وویل : ماته اجازه راکوې زه یې ولوشم ؟

دې مبارکې ورته وویل : هو! مور پلار مې لتا زار شه که دې شودې پکې پیدا کړې نو ویې لوشه .

رسول الله ﷺ ورته دعا وکوله په غولانځ یې لاس را تېر کړو بسم الله یې وربانـدې وویله او هغې ته یې داسې څه وویل لکه مال چې را غوښتل کیږي هغې

هم پښې ورته خلاصې کړې لوشلو ته تیاره شوه .

رسول الله ﷺ یو داسې لوښی وغوښتو چې ډېر کسان ورباندې مړېدلی شي هغه یې پکې را ولوشله تردې چې هغه لوښی په پوره توګه سره ډک شو بیا یې ام معبد رضی الله تعالی عنها ته ترې ورکړې دومره یې ترې وڅښلې چې ځومره یې څښلی شوای بیایې دواړو ملګرو ته ترې ورکړې هغوی هم تر بسه پورې و څښلې او د ټولو په آخر کې رسول الله ﷺ پخپله و څښلې او بیا یې مېږه را ولوشله او هغه لوښی یې ډک دوی ته پرېښودو او ترینه روان شول .

لږ وخت نه وو تېر شوی چې خاوند یې کور ته راغلو او شودې یې ولیدې پوښتنه یې ترې وکوله ای د معبد مورې دا دومره شودې له کومه شوې سره ددې چې هغه مېږه له مونږ سره چې ده هغه خو هم شودې نه ورکوي کمزورې ده؟

دې مبارکې ورته وویل : نه په الله ① د قسم وي زمونږ مېږه خو شودې نه ورکوي لکن دلته یو کس راغلی وو مبارک انسان وو او بیا یې ورته ټوله قصه وکوله .

خاوند یې ورته وویل : د معبد مورې ماته یې نښې ووایه .

دې مبارکې وویل : دا کس ما ولیدو چې مخ یې ځلا کوله ، ښه جوړ وو، ګېډه یې بهر ته نه وه را

وتلې، سر يې وړوکی نه وو په برابره اندازه وو، ښائسته جوړ وو ښې خبرې يې کولې او داسې نور ګڼ صفات يې ورته وکول او په ښه توګه يې د رسول الله ﷺ صورت مبارک ورته تشريح کړو او ابو معبد ورته غوږ نيولی وو .

کله چې ددې خبرې ختمې شوې ابو معبد وويل : دا هماغه قريشي کس دی چې دده په اړه مونږ ته په مکه کې ويل شوي وو ما اراده کړې وه چې له ده سره زه ملګري وکوم او چې کله هم زه دده ملګري ته لاره پيدا کړم زه به دده ملګرتيا کوم .

څه وخت وروسته ام معبد رضی الله تعالی عنها مدينې منورې ته له خپل داسې زوی سره راغله چې هغه ګرځېدو د رسول الله ﷺ له جومات سره تېرېدل او رسول الله ﷺ پدې وخت کې په ممبر باندې خبرې کولې ماشوم ورغلو بيا يې مور ته وويل ما هلته ډېر مبارک سړی وليدو.

دې ورته وويل : ويحک هغه رسول الله ﷺ دی .

ددې مبارکې نه روايت دی چې رسول الله ﷺ دعا کوله فرمايل يې : ای الله (1) زما زړه د نفاق نه پاک کړه زما عمل له ريا څخه پاک کړه زما ژبه د درواغو نه پاکه کړه زما سترګې د خيانت نه پاکې کړه بېشکه ته په خائنو سترګو پوهېږې او ته په هغه څه پوهېږې چې په سينو کې پټ وي .



ام ذر رضی الله تعالی عنها

د حضرت ابي ذر الغفاري ❽ مېرمن وه د حضرت ابي ذر ❽ سره د اسلام په اول کې په اسلام مشرفه شوې وه .

د ابي الصباح کوفي نه روايت دی چې رسول الله ☸ به کله د تبسم اراده وه نو ابي ذر ته به يې ويل : ای ابا ذر مونږ ته د خپل اسلام د شروع قصه وکوه ده به ويل : زمونږ يو بت وو نهم ورته ويل کېدل يوه ورځ ما شودې را ولوشلې او هغه ته مې په مخ کې د نذرانې په ډول کېښودې زه ترې لږ لرې کېناستم چې سپی راغلو هغه شودې يې وڅښلې او کله چې د شودو څښلو نه فارغ شو نو په بت يې بولې ور وکولې ما چې دا هرڅه وليدل نو يو څو شعرونه په خوله راغلل چې مطلب يې وو .

ای نهمه ماته ښکاره شوه چې شرف او قدر لتا څخه ډېر لرې دی ته له خپل ځان څخه سپی نشې شړلی چې ستا اهانت کوي نو بيا ته څه شی يې ما دا شعرونه ويل چې زما مېرمن ام ذر رضی الله تعالی عنها واورېدل راته ويل يې يا اباذر دا ته څه کوې ته د نهم اهانت کوې ؟ دا لوی جرم دی ته ښه نه کوې .

ما ورته ټوله قصه وکوله بيا دې راته وويل

ابن وهبه رښتيا ده مونږ ته داسې رب کريم وګوره چې جواد وي د فضائلو خاوند وي دا څه رب دی چې له ځان څخه يو سپی نشي شړلی .
مونږ بيا د يو رښتوني معبود په لټون کې وو تردې چې الله ① مونږ ته د اسلام هدايت وکولو.
يوه ورځ چې حضرت ام ذر رضی الله تعالی عنها حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته ورغله سلام يې وربانديې واچولو حضرت عائشې ورته وويل ته په روژه کې سفر کوې او په ما چې روژه راشي نو چې سفر هم کوم نو د رمضان لپاره يې پرېږدم .
له حضرت محمد بن واسع نه روايت دی چې يو سړی له بصرې نه ام ذر ته راغلو د حضرت ابي ذر د عبادت په اړه يې ورڅخه پوښتنه کوله چې هغه به څنګه عبادت کولو؟ دې مبارکې ورته وويل هغه به ټوله ورځ له مونږ نه بېل وو او د الله ① په نعمتونو قدرتونو کې به يې فکر کولو .
کله چې د حضرت ابي ذر ❽ د وفات وخت شو پدې وخت کې دوی دواړه په دښته کې له آبادې څخه لرې وو حضرت ام ذر رضی الله تعالی عنها ورته په ژړا شوه حضرت ابو ذر ❽ ورته ويل ولې ژاړې؟ دې مبارکې ورته ويل : ولې به نه ژاړم ته پداسې دښته کې مړ کيږې زه تا څنګه خښ کړم او زمونږ په کور کې دومره ټوټه هم نشته چې ستا د کفن لپاره بس شي .

حضرت ابو ذر ❽ ورته وفرمايل : ته خوشحاله شه ما له رسول الله ﷺ څخه آورېدلي دي هغه دوه كسان چې دوه يا درى اولادونه يې مړه شي او دوى وربانديې صبر وكوي نو الله ① دوى د هغه اولادونو له مخ نه له اور نه ساتي .

همدارنگه ما له رسول الله ﷺ څخه آورېدلي دي هغه ﷺ فرمايل : په تاسي كې به يو كس په دښته كې په حق ورسيږي بيا به د مومنانو يوه ډله هلته ورشي رسول الله ﷺ چې دا خبره مونږ ته كوله نو له هغې ډلې نه اوس ټول كسان وفات شوي دي او ټول په ابادو ځايونو كې وفات شول صرف زه پاتې يم نو زما يقين دې چې زه هماغه كس يم چې د رسول الله ﷺ مطلب وو .

بيا يې ورته وويل : هغه لارې ته گوره كه څوك مسلمانان ورباندې تېرېدل كېداى شي هغه لتا سره زما په تكفين او تجهيز كې مرسته وكوي .

دا بي بي به يو څه ساعت له خپل خاوند سره كېناسته او كله به يې لارې ته كتل چې د حاجيانو يوه ډله تېرېده هغوى ته يې په څه جامه او يا لاس اشارې وكولې هغوى ورته نېږدې راغلل پوښتنه يې وكوله ولې څه چل دى؟

دې مباركې ورته وويل : دا زما خاوند ابي ذر ❽ د رسول الله ﷺ ملگرى د ځانكدن په حالت كې دى

وفات کیږي زه ورسره یوازې یم نه مې دده د خښولو وس شته او نه زمونږ په کور کې دومره څه توته شته چې ده ته یې کفن کړم که تاسې زما سره مرسته وکوئ هغه د انصارو ځوانان وو زر زر یې اوښان د دوی له خیمې سره کېنول (چو کړل) او په منډه منډه راغلل د حضرت ابي ذر سره ودرېدل تردې چې هغه ❽ وفات شو هغوی په خپلو څادرونو او جامو کې و نغښتو او له هغه څه نه یې ورته کفن جوړ کړو چې له دوی سره وو بیا یې په عزت ا ودرنښت هغه دفن کړو .

النوار بنت مالک رضی الله تعالی عنها

النوار بنت مالک الانصارية د لوړې مرتبې او قدرمنه صحابية بي بي وه د حضرت ثابت بن الضحاک سره یې واده شوی وو د هغه نه یې زید بن ثابت ماشوم پیدا شوی وو خاوند یې د البعاث په واقعه کې شهید شو پدې وخت کې یې د ماشوم عمر شپږ کاله وو بیا عمارة بن حزم ورسره نکاح وکوله دا بدري او جلیل القدر صحابي دی او په ټولو غزاګانو کې یې د رسول الله ﷺ ملګرتیا کړېده .

دا مبارکه د مدینې منورې ښځه وه او مدینې

منورې ته د رسول الله ﷺ تر راتلووراندې په اسلام مشرفه شوې وه خپل ماشوم يې له ماشوم توب نه په اسلامي خبرو او د قران کريم تر سيورې لاندې لوی کړو په زړه کې يې د ماشوم توب نه د رسول الله ﷺ مينه ور اچولې وه او د زيد ماشوم زړه هم ددې مبارک دين په خوند او مزه باندې له ماشوم توب نه پوه شوی وو هغه وخت چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکولو او د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه په کور کې دمه شو نو دې مبارکې د خپل ماشوم او معصوم زوی په لاس ډکه کاسه خوراک رسول الله ﷺ ته ډالۍ کړو او ورته يې ولېږلو او په مدينه منوره کې دا رسول الله ﷺ ته اوله هديه او تحفه وه .

حضرت زيد رضي الله عنه ددې اولې تحفه قصه پخپله کوي چې کله رسول الله ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړ نو اوله هديه او تحفه چې رسول الله ﷺ ته وړاندې شوه هغه د ماتې شوې ډوډۍ ډکه کاسه وه چې په غوړيو او شودو کې وړه کړل شوې وه مور بي بي مې ماته راکړه چې رسول الله ﷺ راغلی دی هغه ته يې ورووړه ما کاسه راوړه او د رسول الله ﷺ په وړاندې مې کېښوده او ورته مې وويل : يا رسول الله ﷺ دا ډوډۍ مې مور تاته را لېږلې ده رسول

الله ﷺ راته و فرمایل : الله دې په تا او ستا په مور کې برکت واچوي .
چې یو څه وخت تېر شو حضرت النوار رضی الله تعالی عنها راغله او دا ماشوم زوی یې رسول الله ﷺ ته ورکړو چې دا به ستاسې خدمت هم کوي او لتاسې نه به قران کریم هم زده کړي او تاسې به دده تربیه او پالنه کوئ .

حمنة بنت جحش رضی الله تعالی عنها

دا حضرت حمنة بنت جحش بن رياب الاسدية وه د بني اسد بن خزيمة ښځه د زينب بنت جحش رضی الله تعالی عنها خور وو .
د حضرت مصعب بن زبیر ❽ سره یې واده شوی وو د اُحد په ورځ ترینه شهید شو بیا حضرت طلحة بنت عبید الله په نکاح کړه دهغه نه یې محمد او عمران ماشومان پیدا شول او دهغه ښځو نه وه چې د رسول الله ﷺ سره یې بیعت کړی وو د اُحد په غزا کې یې د زخمیانو د خدمت په موخه شرکت کړی وو زخمیانو ته به یې اوبه ورکولې او د هغوی په زخمونو به یې پټی لګولې او دهغوی درملنه به یې کوله .
کله چې د اُحد غزا پای ته ورسېده رسول الله ﷺ را

ستون شو نو ښځو به د دوی د خپلوانو په اړه ورځخه پوښتنه کوله نو رسول الله ﷺ به هغوی ته رښتیا ویل تردې چې حضرت حمنة بنت جحش رضی الله تعالی عنها هم ورته راغله رسول الله ﷺ ورته وویل : ای حمنة عبد الله بن جحش ستا ورور شهید شو صبر پرې وکړه دې مبارکې وویل انا لله و انا الیه راجعون بیا رسول الله ﷺ ورته وویل : ای حمنة ستا ماما حضرت حمزة بن عبد المطلب شو صبر پرې وکړه دې مبارکې وویل انا لله و انا الیه راجعون بیا رسول الله ﷺ ورته وویل : ای حمنة مصعب بن عمیر ستا خاوند شهید شو صبر پرې وکړه دې مبارکې وویل : آه افسوس جنګه ..... بیا رسول الله ﷺ یو ځل ترینه پوښتنه وکوله په مصعب باندې دې ولې افسوس وکولو؟ دې مبارکې ورته وویل : دهغې یتیمان ماشومان راته پاتې شول ....

کله چې د حضرت حمنة رضی الله تعالی عنها ماشوم محمد بن طلحة پیدا شو رسول الله ﷺ ته یې په غېږ کې راوړو رسول الله ﷺ ورته وویل دده نوم محمد دی او دده کنیة به ابو سلیمان وي .

دې مبارکې د رسول الله ﷺ یو حدیث نقل کړی دی رسول الله ﷺ فرمایي : دنیا تازه او شنه ده ډیر ځله یو کس چې په دنیایي مزو کې ننوزي په آخرت

کې دده لپاره له اور نه بغیر بل هېڅ شی نه وي .

ام هانئ بنت ابي طالب رضی الله تعالی عنها

د رسول الله ﷺ د تره لور وه خپل نوم یې فاخته وو د ابي طالب بن عبد المطلب بن هاشم لور وه د حضرت علي او حضرت جعفر او عقیل رضي الله عنهم خور وه مور یې فاطمة بنت اسد بن هاشم وه د هبیرة بن ابي وهب المخزومي په نکاح کې وه جعدة بن هبیره یې زوی وو په مکه مکرمه کې تر هجرت پنځوس کاله د مخه پیدا شوې وه د رسول الله ﷺ ځخه کشره وه د ښه خوی او ښه فصاحت او ښه شکل مجموعه وه د رسول الله ﷺ سره په یو ځای د خپل پلار په کور کې لویه شوې وه د رسول الله ﷺ زړه غوښتل چې ددې سره واده وکوي لکن کله چې دا ځوانه شوه نو د قریشو یو مشر هبیرة بن وهب المخزومي وغوښته بیا هغه په نکاح کړه کله چې رسول الله ﷺ مبارک دین ته دعوت شروع کړو نو ددې خاوند ته یې هم دعوت ورکړو هغه اسلام قبول نه کړو او دې هم د خپل خاوند له امله اسلام قبول نه کړو لکن دې به بیا هم د رسول الله ﷺ احترام

کاوه او دده مبارک سپکاوی به یې نه کاوه او د اسلام د نه راوړلو وجه صرف د خاوند متابعت وو او رسول الله ﷺ به چې کله د دوی کورته ورتلو نو ددې خاوند هم د یو خپلوان په نظر ورته کتل او دده سپکاوی یې نه کولو کله چې دده مبارک تره ابو طالب وفات شو او پدې کال باندې حضرت خدیجة رضی الله تعالی عنها هم وفات شوه رسول الله ﷺ به اکثر د دوی کور ته ورتلو او په کومه شپه باندې چې د معراج واقعه راغله پدې شپه هم رسول الله ﷺ د دوی په کور کې وو سحر یې تر ټولو وړاندې دې ته دا قصه وکوله چې نن شپه څه تېر شول دې ورته وویل : یا نبي الله خلکو ته دا خبره بهر مه کوه هغوی به ستا تکذیب وکوي او په تا پورې به مسخري وکوي او تاته به تکلیف ورسوي .

لکن رسول الله ﷺ د چا پروا ونه کوله هغه وخت چې د حرم په خوا کې ناست وو ابو جهل ورته راغلو د مسخرو په ډول یې ورته وویل : څه نوی خبر درته نه دی راغلی؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : راته راغلی دی نن شپه زه بیت المقدس ا و له هغه ځای نه بیا اسمانونو ته ختلی وم او بېرته په همدې شپه کې را وګرځېدم .

ابو جهل ورته وویل دا خبره به ته د خلکو په مخ کې وکوې؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : هو بالکل

..

هغه خلکو ته آواز کړو ورته ويل يې راشئ محمد نوې خبرې کوي رسول الله ﷺ ټولو ته رښتوني قصه وکوله هغوی ترينه مختلف ډول سوالونه شروع کړل ټولو ته معلومه وه چې محمد ﷺ تردې وړاندې بيت المقدس ته نه ووتللی نو يې د مسجد اقصی په اړه پوښتنې ترې کولې څو ستنې يې وې، څو دروازې يې وي ؟ او داسې نور لکن رسول الله ﷺ به د الله ① په مرسته د هرې پوښتنې صحيح ځواب ورکولو .

کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکولو ام هاني او خاوند او اولادونه يې په مکه کې پاتې شول د رسول الله ﷺ خبر به چې ورته رسېدو دا به يې د کاميابي په خبر خوشحاله کېده کله چې مکه د مسلمانانو په لاس فتح شوه حضرت ام هانئ رضی الله تعالی عنها راغله د خپلو اولادونو سره په اسلام مشرفه شوه او خاوند يې نجران ته و تښتيدو په همدې ورځ يې رسول الله ﷺ کورته ورغلو او ددې مبارکې په کور کې يې آته رکعته مونځ وکولو حارث بن هشام المخزومي هغه کس وو چې رسول الله ﷺ يې په اړه اعلان کړی وو چېرته چې تاسې ته په مخه درغلو قتل يې کړئ هغه هم راغلو له ام هانئ څخه يې امان وغوښتو دې

مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته امان ورکړو کله یې چې ورور حضرت علي ❽ خبر شو هغه ورته په غصه شو هغه ❽ وویل : چې هرڅنګه وي دا به زه قتلوم رسول الله ☸ دده د قتل اجازه کړېده پدې وخت کې رسول الله ☸ ور ننوتلو پوښتنه یې وکوله چې څه خبره ده؟ دوی ورته قصه وکوله بیا رسول الله ☸ ورته وویل : ام هانئ تا چې چاته امان ورکړو مونږ هم هغه ته امان ورکړی دی .

د رسول الله ☸ څخه یې ٤٦ حدیثونه روایت کړي دي حضرت عروة بن الزبیر ، امام شعبي ، امام عطاء او ددې مبارکې لمسیان جعدة، یحیی هارون او نور ډېر مشهور خلک یې شاګردان وو .

د حضرت علي ❽ تر خلافت پورې ژوندۍ وه په ٤٠ هجري کې وفات شوه .

حضرت ام هانئ رضی الله تعالی عنها فرمایي د فتح په ورځ زه د رسول الله ☸ کور ته ورغلم هغه مبارک غسل کولو او حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها ورته پرده نیولې وه ما وربانديې سلام واچولو رسول الله ☸ پوښتنه وکوله څوک دي؟ ما ورته وویل : زه ام هانئ د ابي طالب لور یم بیا رسول الله ☸ وویل ستړې مه شې کله چې له غسل نه فارغ شو پاڅېدو آته رکعته مونځ یې وکولو څان یې په یوه جامه کې پېچلی وو کله

چې له مانځه نه فارغ شو ما ورته وویل : یا رسول الله ☸ زما دا ورور (حضرت علي ❽) هغه څوک وژني چې ما ورته امان ورکړی دی ..

رسول الله ☸ وفرمایل : تا چې چاته امان ورکړی دی مونږ هم هغه ته امان ورکړی دی حضرت ام هانئ رضی الله تعالی عنها فرمایي دا د ځاښت وخت وو .



حضرت درة بنت ابي لهب رضی الله تعالی عنها

د رسول الله ☸ د تره ابي لهب لور وه په مکه مکرمه کې په اسلام مشرفه شوه او بيا يې په رسول الله ☸ پسې مدينې منورې ته د هجرت شرف هم تر لاسه کړو موريې ام جميل وه د قريشو په ښځو کې يې د سيادت او مشري مرتبه درلوده د ابي سفيان خور وه د خپل خاوند سره به يې هر وخت رسول الله ☸ ته په تکليف ورکولو کې د خپل خاوند د حضرت درة رضی الله تعالی عنها له پلار سره مرسته کوله او په قران کريم کې په سورة مسد کې په حمالة الحطب سره ياده کړل شوېده .

دې مبارکې خپلې قربانۍ او غيرت ته هغه وخت ټول خلک او مسلمانان حيران کړل چې دا مبارکه کله په مکه مکرمه کې په اسلام مشرفه شوه پدې وخت کې ددې مور او پلار د اسلام د سختو دښمنانو په لست کې تر ټولو اول وو دده ☸ تره ابو لهب به په رسول الله ☸ پسې روان وو چېرته به چې له رسول الله ☸ سره چا خبرې کولې نو ده به ورته ويل : زه دده تره يم او دا مې وراره دی دا ليونی شوی دی دده خبره ونه منئ .... او داسې نورې خبرې به يې ورته کولې نو خلکو به ويل چې

دده خپل تره په ده پسې داسې وايي نو مونږ که دده خبره ومنو نو څه خير به مونږ ته راکړي او ددې مور ام جميل به په تکليف سره له لرې ځاى نه اغزي راوړل او د رسول الله ﷺ په لاره مبارکه کې به يې صرف ددې لپاره کېښودل چې ده ﷺ ته وربانديې تکليف ورسيږي دهمدې مور او پلار نه دا مبارکه مدينې منورې ته و تښتېده او هجرت يې وکولو نو ټول خلک په خاصه توګه مسلمانان ددې قربانۍ ته زيات حيران وو ځان يې رسول الله ﷺ ته ور ورسولو .

ددې په ورونو کې يو عتيبة بن ابي لهب وو چې د رسول الله ﷺ دښمني يې د خپل ژوندى مقصد ګڼلو او څومره به يې چې په وس پوره وه نو رسول الله ﷺ ته به يې تکليف رسولو تردې چې رسول الله ﷺ ورڅخه زيات په تنګ شو او ده ته يې ښېرا وکوله او هغه ښېرا دده په حقل کې قبوله شوه او د شام په سفر کې د زمري ښکار شو .

دوه نور ورونه يې عتبة او معتب د مکې د فتح تر ورځ پورې کافر پاتې شول او د فتح په ورځ يې تره حضرت عباس ❽ رسول الله ﷺ ته راوستل او په ايمان مشرف شول .

د جهالت په وخت کې الحارث بن نوفل بن عبد المطلب ورسره نکاح کړې وه د هغه نه يې عقبة ،

ولید او ابو مسلم ماشومان وو هغه د بدر په جنګ کې ووژل شو کله یې چې هجرت وکولو نو حضرت دحیة الکلبي وغوښتله بیا یې دهغه سره واده وشو او د حضرت ام المؤمنین عائشې رضی الله تعالی عنها سره یې ښه تعلق جوړ شو دهغې مبارکې کور ته به راتله او له هغې رضی الله تعالی عنها څخه به یې علم زده کولو .

دا مبارکه د هجرت په شلم کال د حضرت عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه د خلافت په زمانه کې وفات شوه .

حضرت خولة بنت ثعلبة رضی الله تعالی عنها

دا حضرت خولة بنت ثعلبة بن أصرم بن فهد بن ثعلبة وه ددې مبارکې واده د حضرت اوس بن ثابت ❽ سره شوی وو دا د حضرت عبادة بن صامت ❽ ورور وو کوم چې په بدر او احد او د رسول الله ☸ سره په هر میدان کې شریک وو .

حضرت خولة رضی الله تعالی عنها هغه بي بي وه چې د خپل خاوند سره یې په څه خبره جنجال شو هغه ورته غصه شو ورته یې وویل (انت علی کظهر امي) (ته ماته لکه زما د مور په شان یې) په همدې غصه کې ترینه را ووتلو بهر له خلکو سره په

خبرو شو څه وخت تېر شو بېرته کورته لاړو هغې ته يې ځان نېږدې کول وغوښتل هغې مبارکې ده ته له نيزديکت څخه انکار وکولو او ورته يې وويل : تا ماته وويل (انت على كظهر امي) او دا تر اسلام وړاندې د طلاق الفاظ وو زه ترڅو تاته نشم نيزدې کېدلى ترڅو ماته ستا ددې خبرې په اړه د الله ① حکم معلوم شوی نه وي حضرت خولة رضى الله تعالى عنها راغله رسول الله ☸ ته يې ټوله قصه تېره کړه رسول الله ☸ ورته وويل : ته اوس هغه ته حرامه يې ... هغه بيا بيا رسول الله ☸ ته راتله او ورته ويل يې هغه زما خاوند دا خبره په غصه کې کړېده او زه د هغه څخه جدايي نه غواړم او په نا روا سره ورسره وخت تېرول هم نه غواړم يا رسول الله ☸ زما مشکل د حل لپاره څه لاره را پيدا کړه رسول الله ☸ ته چې پدې اړه کومه وحی نه وه راغلې نو رسول الله ☸ دې ته کومه نوې خبره له ځانه نشواى کولى دې الله ① ته په چيغو ژړل او الله ① ته يې سوال کولو چې زما د مشکل لپاره کومه لاره را وباسي تردې چې د سورت مجادلې اول آيتونه نازل شول چې په هغې کې الله ① رسول الله ☸ ته وفرمايل : الله ① د هغه ښځې خبرې واوريد ې چې لتا سره يې د خپل خاوند په اړه لانجه کوله او د هغې خاوند ته

پکې حکم شوی وو چې د ظهار کفاره دې ورکړي او بیا دې خپلې ښځې ته رجوع وکوي .....

حضرت خولة رضی الله تعالی عنها د ښه زړه خاونده وه او ښه جرئت یې درلود او کله به چې څه خبره ورته حق ښکاره شوه نو په ویلو کې یې هېڅ ویره نه محسوس کوله او پدې اړه یې د هېچا پروا هم نه کوله د حضرت امیر المؤمنین عمر فاروق ❽ د خلافت په زمانه کې یې چې کله امیر المؤمنین ❽ په لار کې ولید هغه یې و درولو او وعظ یې ورته شروع کړو تر ډېره وخته یې هغه ته نصیحت کولو ورته ویل یې : عمره په اول کې چې ما ته ولیدې تاته عمیر ویل کېدل او په سوق عکاظ کې لرگی درسره وو مېږې دې څرولې بیا څه ورځې تېرې شوې چې ستا نوم عمر شو او بیا درته وویل شول یا امیر المؤمنین ای عمره له الله ① څخه د رعیت په حق کې و ډار شه د چا چې په مرگ باندې یقین وي هغه ورڅخه ډارېږي او هغه څوک چې په حساب یقین لري له عذاب څخه ډارېږي .

د حضرت عمر ❽ نه پوښتنه وشوه ته داسې په لاره کې دې زړې ښځې ته درېږې؟ ده مبارک ❽ ورته وویل زما د په الله ① قسم وي که مې دا ټوله ورځ دلته ودروې زه به ددې نه صرف فرض مونځونو ته اجازه اخلم او ترې ځم به دا حضرت خولة ده هغه ښځه ده چې الله ① ددې خبره تر اوو آسمانونو څخه

لوړه واوریده او عمر به یې نه اوري؟

حضرت بریره رضی الله تعالی عنها

حضرت بریرة رضی الله تعالی عنها د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ازاده کړې وینزه وه د حضرت رسول الله ﷺ او حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها خدمت یې ډیر زیات کړی دی په جنګي میدانونو کې یې د زخمیانو د خدمت او درملنې په موخه برخه اخیستې ده د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها سره به تله په سفر کې به یې ددې مبارکې خدمت هم کولو .

دا مبارکه به هروخت د حضرت ام المؤمنین عائشې رضی الله تعالی عنها په خدمت کې مصروفه وه د علم سیرت کتابونه ددې مبارکې په اړه لیکي ددې مبارکې ژوند د جهاد تقوی او د الله ① د ویرې نه د ډک ژوند نمونه وه .

ددې مبارکې په واسطه مونږ ته یوه مسئله دا راغلې ده چې دا کله ازاده کړل شوه نو رسول الله ﷺ ورته اختیار ورکړو چې د ازادي نه مخکې ستا کوم خاوند وو ته د هغه سره په نکاح کې پاتې کېدل غواړې او که یې پرېږدې؟

بله مسئله دا وه چې رسول الله ﷺ کورته راغلو په

کتوه کې غوښه باندې وه نو رسول الله ﷺ ته د کور کوم بل خوراک چې پوخ وو کېښودل شو رسول الله ﷺ پوښتنه وکوله په کتوه کې غوښه نه وه؟ دوی ورته وویل یا رسول الله هغه غوښه وه هغه بریرې ته چا صدقه کړې وه او تاسې خو د صدقې غوښه مال نه خورئ رسول الله ﷺ و فرمایل : هغه ددې لپاره صدقه وه او زمونږ لپاره ددې له لوري نه هدیه ده .

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایي ماته بریره راغله راته یې وویل زما مالکانو زه په نه اواقه سرو زرو مکاتبه کړې یم چې دا زه ورکړم زه ازاده کیږم که ته لما سره مرسته وکوې؟ ما ورته وویل : دا به زه درته برابر کړم لکن ستا ولاء به زما وي (ته په زما ازاده کړل شوې وینزه وې) کله چې بریره یې مالکانو ته ورغله هغوی ددې شرط له منلو انکار وکولو ما د رسول الله ﷺ سره دا خبره وکوله بیا رسول الله ﷺ ماته مشوره راکړه چې وایې خله او بیا یې پخپله ازاده کړه ولاء د هغه چا وي چې څوک ازادول کوي .

د بریرې نکاح د یو تور غلام سره شوې وه چې مغیث نومیدو کله چې دا ازاده شوه نو رسول الله ﷺ اختیار ورکړو چې اوس ستا خوښه ده که په زړه نکاح پاتې کېدل غواړې او که له هغه نه

جدايي غواړي دې مباركې وويل: نه زه د هغه سره په نكاح كې پاتې كېدل نه غواړم دا مباركه په كوڅو كې روانه وه هغه غلام به په دې پسې وو ژړل يې رسول الله ﷺ خپل تره عباس ته وويل: ته د بريرې سره د مغيث مينې او د مغيث نه د بريرې نفرت ته نه حيرانېږې؟ بيا رسول الله ﷺ بريرې ته وويل: كه دې رجوع ورته كړې واى؟ بريرې رضى الله تعالى عنها رسول الله ﷺ ته وويل تاسې ماته امر كوئ؟ (يعني كه امر كوئ نو بيا خو په سر سترګو زه ستاسې امر منم) رسول الله ﷺ ورته وويل: نه صرف د هغه سپارښت كوم حضرت بريرې رضى الله تعالى عنها ورته وويل زما ورته ضرورت نشته (ددېنه ښكاره شوه كه څوك د چا په څه مسئله كې سپارش ونه مني نو د خفګان خبره پكې نشته لكه بريرې رضى الله تعالى عنها چې د رسول الله ﷺ سفارش ونه منلو رسول الله ﷺ وربانډې خفه نه شو او كه چېرته دا د خفګان خبره واى نو حضرت بريرې رضى الله تعالى عنها به خامخا د رسول الله ﷺ خبر منلې واى)

عبد الملک بن مروان فرمايي: زه به د امارت نه مخكې د حضرت بريرة رضى الله تعالى عنها سره په مدينه منوره كې كېناستم دې به ماته ويل په تا كې څه خصلتونه زه وينم او ته ددې وړ يې چې امارت درته دركړل شي كه چېرته دا امارت

تاته وسپارل شو نو ډېر کوښښ به کوي چې د چا وينه تويې نه کړي ما د رسول الله ﷺ څخه آورېدلي دي يو څوک به د جنت له دروازې نه دومره لرې شړل کيږي چې بالکل يې ونه ويني د مسلمان د ويني د تويولو له امله .

حضرت بريرة رضی الله تعالی عنها د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ازاده کړل شوې وينزه د حضرت معاوية د خلافت په زمانه کې په حق ورسېده

حضرت خنساء رضی الله تعالی عنها

حضرت خنساء رضی الله تعالی عنها خپل نوم يې تماضر بنت عمر وو د لوړې مرتبې خاونده صحابية وه د ښه شعر جوړولو قوه يې درلوده او په شريفه کورنۍ کې پيدا شوې وه او په شريفه کورنۍ کې د غيرتمن پلار تر سيوري لاندې د غيرتمنو ورونو معاوية او صخر په مينځ کې لويه شوې وه د بني جشم کورنۍ يو مشهور جنګيالي او مالدار سړي دريد ورته د واده بلنه ورکړه دې وويل چې د بل قوم مالدار او تکړه پهلوان نه مې د خپل قوم يو غريب هلک راته ښه دی نو د هغه واده ته يې انکار وکولو او د خپل تره د زوی رواحة بن عبد العزيز سره يې واده وکولو سره ددې چې ده هغه سره هم په واده کې تر ډېره وخته پورې ددې امله پاتې نه شوه چې

هغه قېمار باز (جوارګر) وو او خپلې ټولې پیسې به یې په قېمار کې مصرف کولې نو د هغه سره یې د یو ماشوم د پیدا کېدلو نه وروسته نور وخت نه تېرول غوښتل له هغه نه بېله شوه بیا یې بل خپل د تره زوی مرداس بن ابي عامر السلمي سره واده وکولو او الله ① د هغه نه ورته څلور ماشومان ورکړل .

دا په جاهلیت کې ټولو خلکو پېژندله او دې شهرت په هغه شعرونو کې پیدا کړو چې په وژل شویو غبرګو ورونو صخر و معاویه پسې یې ویل او دا د هغوی په غم داسې دردېدلې وه چې د حضرت عمر ❽ تر خلافت پورې یې پسې ژړل د حضرت عمر ❽ د خلافت په زمانه کې ولیدل شوه چې د حرم نه یې طواف کولو او ژړل یې د خپل ورور معاویه یوه څپلۍ یې په خپل ټکري پورې تړلې وه د بدر تر جنګ وروسته هند بنت عتبة د ابي سفیان ښځه هم ډېره دردېدلې وه پلار ، ورور او تره یې د بدر تر جنګ وړاندې په میدان کې وژل شوي وو څرنګه چې خنساء په ټولو عربو کې په غم کې مشهوره وه نو دا هم ورغله چې ورسره مخامخ شوه پوښتنه یې ترې وکولې خورې څوک یې؟ هند ورته وویل د عربو د سردارانو له کورنۍ څخه یم آورېدلې مې وو چې ته په ټولو عربو کې زیاته غمجنه یې او ماته داسې ښکاره کیږي چې زه په

ټولو عربو کې غمجنه یم بیا دواړه کېناستې او د خپل غم قصې یې یو له بل سره شریکې کړې .

هغه وخت راغلو چې د ددې زړه ته د اسلام د ور ننوتلو وخت را ورسېدو دا مبارکه د خپلې قبیلې له نور خلکو سره په یو ځای رسول ﷲ ﷺ ته راغله او په اسلام مشرفه شوه .

د علم الشعر ماهرین ددې د شعرونو په اړه وایي چې ددېنه وړاندې او ددېنه وروسته به داسې شاعره نه وي چې د خنساء رضی ﷲ تعالی عنها په ډول شعر ترتیب کړي ددې په اړه ویل کیږي چې خنساء هغه شاعره ده چې په سړیو باندې په شعر کې غالبه شوېده .

جریر د عربو مشهور شاعر وو چې هېچا ورسره په شعر کې مقابله نشوای کولی چا ورڅخه پوښتنه وکوله په ټولو خلکو کې څوک ښه شاعر دی هغه ورته وویل که چېرته خنساء نه وای نو زه .

د قادسیې جنګ د اسلام په تاریخ کې یو ځانګړی نوم لري کله چې حضرت عمر ❽ عام اعلان وکولو چې ټول مجاهدین د را ټول شي د رومیانو جنګ ته ور وتل دي نو هرڅوک په خپله جذبه سره راغلل او د امیر المؤمنین په خدمت کې حاضر شول چې جنګ ته لاړ شي د حضرت خنساء رضی ﷲ تعالی عنها څلور زامن وو د جنګ قادسیې نه یې وړاندې څلور واړه را ټول کړل او ورته ویل یې:

زما د زړه ټوټو ! تاسې پخپله خوښه اسلام قبول

کړی دی او پخپله خوښه مو هجرت کړی دی زما د
په الله ① قسم وي چې ما نه ستاسې د پلار سره
خیانت کړی دی او نه مې ستاسې میندې رسوا کړې
دي (بد کار مې نه دی کړی) والله تاسې په رښتیا
سره د خپل پلار اولاد یاست الله ① تاسې ته په خپل
نوم د جنګېدلو حکم کړی دی او اصلي نېکبختي خو
داده چې ددې دنیا فاني ژوند د آخرت د ابدي
ژوند نه قربان کړل شي سبا چې کله د جنګ میدان
ګرم شي تاسې به هم پاڅېږئ او په پوره مېړانه
به د الله ① د نصرت سره و جنګېږئ د کفارو
مقابله وکوئ که الله ① غوښتي وي په جنت کې
ستاسې مېلمستیا به تیاره وي .
چې د قادسیې په ورځ جنګ ګرم شو نو ددې مبارکې
رضی الله تعالی عنها زامن یو په بل پسې د شهادت
لوړ مقام ته ورسېدل کله چې دې رضی الله تعالی
عنها ته د خپلو زامنو د شهادت په اړه وویل
شول دې رضی الله تعالی عنها و فرمایل:
د الله ① ډېره شکرېه چې زه یې د دوی په شهادت
باندې سرلوړې کړمه زما امید دی چې د الله ① د
رحمت په سیوري کې به زه هم له دوی سره ومه .
ددې مبارکې سیرت ته چې انسان په غور سره
وګوري نو انسان پوه کوي چې په ژوند کې یوازې
اسلام دی چې زړه ته اطمنان ورکولی شي حضرت
خنساء چې په دوو ورونو پسې په کلونو کلونو

دومره وژړل چې په ټولو عربو کې مشهوره شوه اوس هماغه خنساء رضی الله تعالی عنها د خپلو زامنو په شهادت باندې الحمد لله واي .

ددې د کورنی خلکو حضرت عمر ❽ ته وویل چې دا تر اوسه پورې په ورونو پسې ژاړي هغه ددې په ځوانی کې وژل شوي وو او اوس دا بوډۍ ښځه ده که تاسې ورته نصیحت وکوئ نو کېدای شي چې ترې صبر شي حضرت عمر ❽ ورته وویل په مرګ باندې یقین وساته او ژړا بس کړه دې ورته وویل : زما په مرګ باندې یقین دی د مضر قبیلې په دوو غوره کسانو صخر او معاویه پسې ژاړم .

حضرت عمر ❽ ورته وویل : ته په داسې چا پسې ژاړې چې هغه به اور ته تللي وي؟ دې مبارکې ورته وویل : ځکه خو پسې ژاړم .

د حضرت عثمان ❽ د خلافت په زمانه کې په ٢٤ هجري کې وفات شوه .

ام کلثوم رحمها الله بنت ابي بکر الصدیق ❽

د مسلمانانو د لمړي خلیفه او د صاحب الغار د رسول الله ☸ د نېږدې ترین دوست دریمه لور وه او مور یې حضرت حبیبة بنت خارجة رضی الله تعالی

عنها وه دا مبارکه یې د والد صاحب تر وفات وروسته پیدا شوه .

د حضرت طلحة بن عبید الله ❽ (دا د هغه بختورو لسو صحابه وو له جملې نه وو چې په دنیا کې ورته د جنت زیری ورکړل شوی وو) سره واده شوی وو او الله ① ورته دری ماشومان ورکړي وو .

زکریا بن طلحة

یوسف بن طلحة

عائشة بنت طلحة

د جمل په واقعه کې یې خاوند مبارک په شهادت ورسېدو بیا یې د حضرت عبدالرحمن بن عبد الله بن ربیعة سره واده شوی وو او دهغه نه یې څلور اولادونه وو

ابراهیم بن عبد الرحمن بن ابي ربیعة

موسی بن عبد الرحمن بن ابي ربیعة

ام حمید بنت عبد الرحمن بن ابي ربیعة

ام عثمان بنت عبد الرحمن بن ابي ربیعة

دا مبارکه د حضرت رسول الله ❁ په ملاقات نه وه مشرفه شوې ددې امله صحابیة نه وه ځکه دا د حضرت ابي بکر صدیق رضی الله تعالی عنه له وفات څخه هم وروسته پیدا شوې وه .

ددې په اړه ابو بکر صدیق ❽ تر خپل وفات وړاندې خپلې لور حضر عائشې رضی الله تعالی عنها ته ویلي وو ما ته دې حبیبة په ګېډه باندې

ماشوم جینۍ ښکاره کیږي بیا همدا ام کلثوم رحمها الله پیدا شوه .

دا مبارکه فرمایي یوه شپه حضرت طلحة بن عبید الله زیات نا ارامه وو ما ورځخه پوښتنه وکوله چې تاسې ته نن شپه څه تکلیف دی؟ ده ❽ راته وویل نن ماته له کوم ځای نه زیات مال راغلی دی دهغه مال سره مې سودا ده د مسلمان په کور کې دومره مال جمع کول نه ښایي بیا ما ورته وویل : خو سبا یې په خلکو باندې وویشه په کورونو کې د وګړو د شمېر په اندازه یې هر کور ته ورکړه زما رایه یې خوښه شوه او سحر وختي یې شروع وکوله د مهاجرینو او انصارو په کورونو یې تقسیم کړو .

ځرنګه چې له طلحة رضی الله تعالی عنه نه ددې مبارکې دری ماشومان وو دوه هلکان او یوه جینۍ وه هلکان دواړه په ماشوم توب کې په حق رسېدلي وو او لور یې عائشه نومیده لویه شوې وه یوه ورځ یې مور ته ویل زما پلار ستا له پلار نه غوره وو .. دواړو پدې کې خبرې کولې بیا یې په مینځ کې حضرت ام المؤمنین عائشې رضی الله تعالی عنها فیصله وکوله او ورته یې وویل کله چې زما پلار ابو بکر صدیق ❽ رسول الله ☸ ته ورغلو رسول الله ☸ ورته وویل : ای ابابکره ته له اور نه الله ① آزاد کړی یې . او کله چې طلحة ❽

رسول الله ﷺ ته مخامخ شو رسول الله ﷺ ورته وويل : چې ابو طلحة ته له هغه کسانو څخه يې چې الله ① فرمايي : فمنهم من قضى نحبه (په تاسې کې ځينو خپل نظر پوره کړو)

حضرت ام کلثوم رحمها الله د رسول الله ﷺ يو حديث د حضرت عائشې رضى الله تعالى عنها څخه نقل کړى دى چې رسول الله ﷺ يوه شپه نا وخته وروسته ددې چې ټول خلک خپاره شول او په جومات کې ويده کېدونکي خلک هم ويده شول پاڅېدو او مونځ يې وکولو بيا يې وويل دا يې وخت دى که زه نه ډارېدلى چې زما په امت باندې به سخت شي .

حضرت ام کلثوم رحمها الله د حضرت عائشې رضى الله تعالى عنها څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ ماته دا دعا را وښوده :

اللهم إني أسألك من الخير كله عاجله وآجله ما علمت منه وما لم أعلم. وأعوذ بك من الشر كله عاجله وآجله ما علمت منه وما لم أعلم. اللهم إني أسألك من خير ما سألك عبدك ونبيك. وأعوذ بك من شر ما عاذ به عبدك ونبيك. اللهم إن أسألك الجنة وما قرب إليها من قول أو عمل. وأعوذ بك من النار وما قرب إليها من قول أو عمل. وأسألك أن تجعل كل قضاء قضيته لي خيرا

ترجمه : اى الله زه لتا څخه سوال کوم د ټول خير کوم چې عاجل وي او که د وخت د تېرېدلو سره وي هغه چې زه ورباندې پوهېږم او چې ورباندې نه پوهېږم زه په تا باندې پناه غواړم له هر ډول

شر نـه کـه عـاجل وي او کـه پـه ځـنډ وي هغـه چې زه وربـانـدې پـوهېږم او چې وربـانـدې نـه پـوهېږم ای الله زه لـتـا څخه دهغـه خیـر سوال کـوم کـوم چې لـتـا نـه ستـا نـبي او بـنـده کړی دی زه پـه تـا بـانـدې دهغه شر نـه پـنـاه غـواړم چې ستـا بـنـده او نـبـي ورڅخه پـنـاه غـوښتې ده ای الله زه لـتـا څخه جنت غـواړم او هغـه چې جنت تـه نـېږدې کـول کـوي کـه عمـل وي او کـه قـول وي او لـه اور او هغـه څـه نـه پـنـاه غـواړم چې اور تـه نـېږدې کـول کـوي کـه قـول وي یـا عمـل ای الله① زه لـتـا څخه غـواړم چې تـه هره فـیصلـه کـوې زمـا د خیـر لـپـاره یـې وکـوې .

حضرت ام الـدرداء رضی الله تـعـالـی عنـهـا

نـوم یـې خیـرة بـنـت ابـي حـدرد الاسلـمي دی دا ام الـدرداء وه د ابـي الـدرداء ❽ مـېرمـن وه د رسول الله ☸ او خپـل خـاونـد نـه یـې ډیـرې مـسئلـې زده کـړې وې دیـن داره تـقـوی داراه او د خپـل خـاونـد ابـي الـدرداء عویـمـر الانـصـاري ❽ لـپـاره د خیـر او بـرکـت نـه ډکـه بـي بـي وه پـه حـدیـثـو کـې یـې صفـوان بـن عـبـد الله بـن صفـوان ، مـیـمـون بـن مـهـران، زیـد بـن اسلـم او ام الـدرداء ا لـصغـری شاګـردان وو دوی تـولـو و رڅخه روایـات کـړي دي .

سهـل بـن مـعـاذ د خپـل پـلار او هغـه د ام الـدرداء رضی الله تـعـالـی عنـهـا نـه روایـت کـوي چې ام الـدرداء

رضی الله تعالی عنها فرمایل : لما سره رسول الله ﷺ په لاره کې په داسې حالت کې ملاقي شو چې زه له حمام نه را وتلې وم راځخه یې پوښتنه وکوله : له کوم ځای نه یا ام الدرداء؟ ما ورته وې له حمام نه راغلم رسول الله ﷺ راته وویل : زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی کومه ښځه چې بغیر د خپلو میندو له کورونو څخه بل ځای جامې له خپل ځان څخه لرې کړې هغې ددې او د الرحمن ① په مابین کې ټولې پردې لرې کړې .

کله چې رسول الله ﷺ د مهاجرینو او انصارو په ما بین کې ورور ګلوي جوړوله دده وروړګلوي یې د حضرت سلمان فارسي ❽ سره جوړه کړې وه یوه ورځ چې حضرت سلمان فارسي ❽ د دوی کورته د دوی د لیدنې لپاره راغلو ویې لیدل چې ام الدرداء زیات مصرف کوي ورته یې وویل : دا ته ولې داسې کوې ؟ هغې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : ستا د ورور ابو الدرداء دنیا ته ضرورت نشته بیا ابو الدرداء راغلو خوراک یې ورته تیار کړو سلمان فارسي ❽ ورته وویل : راځه ته هم وخوره ده ❽ ورته وویل : زما روژه ده حضرت سلمان فارسي ❽ ورته وویل : ترڅو یې چې ته ونه خورې زه یې هم نه خورم بیا

هغه ورسره خوراک وکولو کله چې بیګاه شو ابو الدرداء پاڅېدو نفلونه یې کول سلمان فارسي ❽ ورته وویل : ویده شه هغه ویده شو لږ وروسته بیا را پاڅېدو سلمان فارسي ❽ ورته وویل ویده شه هغه ❽ بیا ویده شو کله چې د شپې آخر شو بیا حضرت سلمان فارسي را پاڅیدو او ده ته یې وویل : اوس پاڅیږه بیا دواړو مونځ وکولو بیا سلمان ورته وویل : بېشکه د رب د په تا باندې حق دی ، د خپل ځان د هم په تا باندې حق دی ، د خپل کور واله هم په تا حق دی هر چا ته خپل حق ورکړه حضرت ابو الدرداء ❽ راغلو رسول الله ❁ ته یې قصه وکوله رسول الله ❁ ورته وویل : سلمان رښتیا ویلي .

حضرت ام الدرداء رضی الله تعالی عنها یو حدیث روایت کړی دی چې رسول الله ❁ فرمایي : د کوم مړي سره چې سورة یس ولوستل شي الله ① په هغه باندې عذاب سپکوي .

حضرت ام الدرداء رضی الله تعالی عنها فرمایي رسول الله ❁ فرمایل : زما امت ته درې شیان بښل شوي دي خطاء، هېره، او هغه کوم کار چې په ده باندې په .

د ا مبار عنها په شام کې د

حضرت عثما حق ورسېده دوه کاله



وروسته بیا حضرت ابو الدرداء ❽ هم وفات شو .

هند بنت عتبة رضى الله تعالى عنها

نسب يې :

د پلار له لوري : هند بنت عتبة بن ربيعة بن عبد شمس بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور ئې : صفية بنت أمية بن حارثة بن الأوقص بن مرة بن هلال بن فالج بن ذكوان بن ثعلبة بن بهثة بن سليم بن منصور بن عكرمة بن خصفة بن قيس عيلان بن مضربن نزار بن معد بن عدنان.

له هغه ښځو نه ده چې په عربو کې پخوا له اسلام او وروسته له اسلام نه مشهوره وه ددې د خبرو طريقه ددې فصاحت او د اسلام او جهالت په دواړو حالتونو کې ددې پاکي د ستاينې وړ ده .

د مکې د فتح په ورځ په اسلام مشرفه شوېده پدې وخت کې د قريشو د سردار ابي سفيان په نکاح کې وه لکه مخکې چې ددې کتاب په پنځمه برخه کې تېرشول ابو سفيان د مکې د فتح په شپه په اسلام مشرف شو .

د مکې د فتح په ورځ په صفا باندې چې کله رسول الله ﷺ د سړيو د بيعت نه فارغ شو نو بيا د ښځو سره د بيعت سلسله شروع شوه د سفيان ښځه هند

(هغه ښځه وه چې د احد په غزا کې شریکه وه او د رسول الله ﷺ د تره مبارک حضرت حمزة رضي الله عنه ګېډه يې وربانديږ څيرلې وه او دهغه پوزه او غوږونه يې وربانديږ پرې کړي وو) اوس په داسې حالت کې راغله چې ځان يې پټولو چې رسول الله ﷺ مې و نه پېژني او بيعت شروع شو

رسول الله ﷺ ورته ويل زه لتاسې نه بيعت اخلم چې تاسې به له الله ﷻ سره شريک نه نيسئ غلا به نه کوئ ....

هند ورته وويل ابو سفيان سخت سړی دی (په مصرف کې سخت دی) که زه دهغه د مال نه څه شی اخلم دا غلا ده؟ ابو سفيان ولاړ وو هغه ورته وويل زما د مال نه چې ته کوم شی اخلې هغه تاته معاف دي

رسول الله ﷺ ورته وخندل او ويې پېژندله ورته ويل يې : ته هند يې؟

دی ورته وويل هو ! څه چې مخکې تېر شوي دي هغه معاف کړه ای د الله ﷻ رسوله الله ﷻ دې تاته معافي وکوي .

رسول الله ﷺ ويل : زه ستاسې څخه بيعت اخلم چې زنا به نه کوئ؟

هند ورته ويل : آيا اصيله ښځه هم زنا کوي؟

رسول الله ﷺ ویل : زه لتاسې نه بیعت اخلم چې تاسې به خپل اولادونه نه مړه کوئ.
هند ورته ویل: مونږ له وړکتوب څخه را لوی کړل هغوی تاسې راته په بدر کې ووژل حضرت عمر ﷺ چې د رسول الله ﷺ نه لږ لاندې په صفا باندې ناست وو داسې یې ورته وخندل چې شا ته ړنګ شو رسول الله ﷺ هم ورته مُسکی شو .
بیا رسول الله ﷺ ورته وویل : زه لتاسې نه بیعت اخلم چې تاسې به بهتان نه جوړوئ .
هند ورته ویل : بالکل بهتان بد شی دی او تاسې مونږ ته صرف په نېکو کارونو باندې امر کوئ.
رسول الله ﷺ ورته ویل : زه ستاسې نه بیعت اخلم چې تاسې به زما نا فرماني نه کوئ .
هند ورته ویل : والله چې مونږ دې ځای ته راتلو په زړه کې مو دا نه وه چې مونږ به ستا نا فرماني کوو ددې ځای نه چې کور ته لاړه خپل بت یې په زمکه ووېشتو او مات یې کړو او ورته ویل یې ستا له لاسه مونږ په دوکه کې وو .
د جهالت په دور کې دې د الفاکه بن المغیرة بن عبد الله المخزومي القرشي سره واده کړی وو د هغه یوه حجره وه چې هرڅوک بغیر د اجازې هلته ور ننوتل الفاکه له دې سره په همدې کوټه کې وو دا ویده شوه هغه ترې بهر ته ووتلو یو کس راغلو د الفاکه سره یې څه کار وو دهغه لیدل

يې غوښتل چې کوټې ته ننوتلو ويې ليدل ښځه ويده ده نو بېرته ترې روان شو په بېرته تلو کې د الفاکه سره مخامخ شو هغه راغلو هند يې را ويښه کړه ورته ويل يې دا کس چې لتا څخه ووتلو دا څوک وو؟ دې ورته قسم وخوړو چې زه خو همدا اوس تا را ويښه کړم ما هېڅوک نه دي ليدلي ده ورته وويل : ځه د پلار کور ته دې لاړه شه خلکو د دوی په اړه خبرې شروع کړې پلار يې دې ته وويل :لورې ماته سمه خبره وکوه که هغه کس تاته څه ويلي وي زه به په هغه پسې څوک ور ولېږم هغه به يې قتل کړي ستا له لمن څخه به عار لرې شي او که چېرته هغه درواغ ويلي وي زه به له ده سره د يمن نجوميانو ته (چې په دې وخت د رازونو په معلومولو کې مشهور وو) خپله فيصله يوسم .

دې ورته وويل پلاره زما د قسم وي هغه درواغ وايي عتبة د هند پلار په فاکه بن مغيره پسې ورغلو ورته ويل يې تا زما لور په ډېر لوی شي توره کړېده يا به ته ګواه راوړې په هغه څه چې ته وايې او يا به لما سره د يمن نجوميانو ته ورځې هغه ورته وويل زه لتا سره نجوميانو ته ورځم الفاکه د قريشو د څه کسانو په ټولي کې روان شو او د بني مخزوم کورنۍ څه ښځې ورسره رواني شوې او عتبة د هند پلار د بني عبد مناف په څه کسانو کې د هند سره روان شو

کله چې د نجومیانو علاقې ته ورسېدل د هند رنګ بدل شو اود خفګان اثرات وربانديې ښکاره شول پلار يې ورته وويل : بچی ستا دا حالت ولې هغه وخت نه وو چې خلک زمونږ په را وتلو خبر وو؟ یعني تا له راوتلو مخکې ماته صحیح حقیقت نه ښکاره کولو او دا ته ولې اوس خفه شوې او په مخ د وېرې او ډار نښې دي؟ پلاره زه ځکه داسې شوم چې تاسې ما اوس داسې کس ته ور ولئ چې هغه رښتیا او درواغ دواړه ویلی شي هسې نه چې هغه ماته څه داسې خبره وکوي چې ټول عمر د عربو په ژبه پاتې شي .

پلار يې ورته وويل : ته رښتیا وایې لکن مونږ به د اصلي مسئلې نه وړاندې د نجومي امتحان اخلو چې کله زمونږ یقین شو چې هغه رښتیا حقیقت را ویستلی شي نو بیا به مونږ په هغه باندې فیصله کوو .

دوی مخکې ددې چې نجومې ته ور وړاندې شي د غنم یوه دانه يې په یو پټ ځای کې کېښوده بیا هلته ورغلل هغه د دوی زیات قدر وکولو او مال يې ورته حلال کړو او د دوی يې احترام وکولو بیا عتبة ورته خبرې شروع کړې ورته ویل يې مونږ تاته په یو کار کې راغلي یو او د راتلو نه مخکې مو درته یو شی په پټ ځای کې ستا د امتحان کولو لپاره ایښي دي هغه څه شی دي؟ هغه ورته وویل مېوه ده په یو خاص ځای کې

عتبه ورته ویل تردې هم ښکاره راته ووایه بیا هغه ورته وویل : د غنم دانه ده په فلاني ځای کې .

عتبة نجومي ته وویل : هو تا رښتیا وویل اوس ددې ښځو په اړه مونږ ته خبرې وکوه .

نجومي را پاڅېدو ښځو ته راغلو د هرې ښځې په سر به یې لاس وهلو ورته ویل به یې پاڅېږه د خپل شان سره (ستا په اړه څه خبره نشته) کله چې هند بنت عتبة ته ورسېدو ورته ویل یې پاڅېږه په داسې حالت کې چې ته پاکه یې زانیه او بدعمله نه یې ستا نه په راتلونکې زمانه کې به یو بادشاه پیدا شي معاویة نوم به یې وي ټول زیات خوشحال شول چې د هند بنت عتبة په لمن باندې لګېدلی داغ پاک شو کله چې را ووتل نو پخواني خاوند الفاکه یې لاس را ونیولو دې خپل لاس له هغه نه کش کړو او ورته یې وویل : زما د قسم وي زه غواړم چې هغه بادشاه ستا زوی نه وي .

الفاکه بیا په خپل کار پښېمان وو یو خو دهغې پاکي ښکاره شوه بل ښکاره شول چې د هغې یو زوی به بادشاه کیږي نو الفاکه غوښتل چې هغه بادشاه دده زوی شي لکن هند بیا نه غوښتل چې د دومره لوی تور نه وروسته د هغه سره پاتې شي .

بیا یې خپل پلار ته وویل : پلاره دې کس ته تا زه په نکاح ورکړې وم ددېنه وروسته چې څوک ما غواړي نو مخکې ددې چې ته ما ورکړې نو زما سره به ورباندې مشوره کوې .

بله ورځ سهیل بن عمرو او ابو سفیان بن حرب راغلل هر یوه دا د ځان لپاره غوښته او دواړه کسان د قریشو د مشرانو او محترمینو له جملې نه وو .

پلار یې راغلو په څه شعرونو کې یې خپلې لور ته وویل : سهیل بن عمرو او ابو سفیان بن حرب راغلي تا غواړي دواړه د عزت او شرافت خلک دي ستا خوښه چې څوک خوښوې .

دې ورته ویل : پلاره زه د دواړو نومونو سره نا بلده یم ته ماته د دوی په اړه ووایه د دوی صفات ماته شکاره کړه چې زه ورباندې فکر وکوم پلار یې اول د سهیل بیا د ابو سفیان خویونه ورته وویل دې په دې دواړو کې ابو سفیان خوښ کړو او د همده نه بیا ماشوم معاویه پیدا شو .

دا مبارکه چې کله په اسلام مشرفه شوه بیا په خپل اسلام کې ښه ټینګه وه او ښه اسلام یې وساتلو تر خپلې وسې پورې قربانۍ یې د اسلام لپاره هم ورکړه د یرموک په غزا کې د خپل خاوند سره په جنګ کې شریکه وه او چې څوک به د جنګ نه شاته کېدل دې به ورته خبرې کولې او ورته ویل به یې چېرته ځې جنګ ستا شا ته روان

دی مخ ور واړوه او ښه د قربانۍ نه ډک کار یې د ټولو هغه مسلمانانو خویندو سره کړی وو چې پدې جنګ کې شریکې وې .

د حضرت عمر ❽ د خلافت ډېر وخت نه وو تېر شوی چې دا په حق ورسېده د یوقول له مخې د حضرت عثمان ❽ په خلافت کې وفات شوه .

مسلمانه خور

حضرت امام احمد د زبیر ابن العوام ❽ نه روایت کړی دی کله چې د اُحد په ورځ مونږ ولیدل چې یوې ښځې منډه را اخیستې وه د شهیدانو په لور ور روانه وه تردې چې نیږدې وه چې شهیدانو ته ور رسېدلې وای رسول الله ﷺ خوښه نه کړه چې دا ښځه شهیدان وویني نو مونږ ته یې وویل : دا ښځه ښځه ... یعنې دا ښځه را منع کړئ .

حضرت زبیر ❽ فرمایي ما و پېژندله چې دا خو زما مور حضرت صفیة رضی الله تعالی عنها (د سیدا لشهداء حضرت حمزة ❽ سکه خور) ده ما پسې ور منډه کړه تردې چې مخکې ددې پسې ور ورسېدم چې هغه شهیدانو ته ور ورسیږي .

زه ورته په مخه کې ودرېدم دا په ډېره تادي کې روانه وه او زه یې په سینه کې په لاس ټېله کړم او لاره یې رانه خلاصه کړه او راته یې وویل : له مخې نه مې لرې شه .

ما ورته وویل : زه د رسول الله ﷺ له لوري تاته راغلی یم .

دا مبارکه رضی الله تعالی عنها ودرېده او دوه جامې یې را وویستلې راته یې وویل دا دوه ټوټې مې راوړې دي زه خبره شوې یم چې ورور مې شهید

شوی دی (حضرت حمزة) ددېنه ورته کفن جوړ کړئ .

بیا یې د رسول الله ﷺ نه اجازه وغوښته چې وروره مې په هر حالت کې دی زه یې کتل غواړم او زه یوه مسلمانه ښځه یم زه به وربانديې صبر وکوم بیا رسول الله ﷺ ورته اجازه ورکړه ورته راغلو ویې کتلو او ویې ویل انا لله و انا الیه راجعون او ترې روانه شوه .

مونږ په هغه دوه ټوټو کې حضرت حمزة نغښتل غوښتل لکن په خوا کې ورسره یو انصاري شهید پروت وو مونږ ته ښه ښکاره نه شوه چې دهغه بالکل کفن نه وي او حضرت حمزة دې په دوو ټوټو کې ونغښتل شي نو بیا مو د دوی دواړو په منځ کې په هغه دوو ټوټو باندې قرعه اندازي وکوله او هر یو مو په هغه ټوټه کې ونغښتو چې ورته رسېدلې وه .

مـــا خـذ ونـــه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412هـ مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ -1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ- 1982م.

24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ

25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.

٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

3٠- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

3١- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

3٢- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

3٣- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.

د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد ﷺ د نبوت معجزې
پښتو

2. ړنګه ځاله
پښتو

3. آشیانه سوخته
فارسي

4. په اسلام کې د انسان حقوق
انګلیسي

5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې اېښی
پښتو

6. فرار از کزار
فارسي

7. له کزاره تېښته
پښتو

8. زوړ دین نوی مسلمان
پښتو

9. ړم ړمکو جي او لیکوال
پښتو

10. ادیان پشت در
فارسي

11. له دروازې تر شا دیذونه
پښتو

12. د انصاف او اعتدال لاره
پښتو

13. کفري الفاظ
پښتو

14. کل بچه فارسي

15. معلومات عمومي
فارسي

16. د حج لارښود پښتو
او انګلیسي

17. محمد رسول الله ﷺ سیرت اخلاق او پېژندنه
پښتو

18. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه اول
پښتو

19. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه دوهم
پښتو

20. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دريم پښتو

21. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه څلرم پښتو

22. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه پنځم پښتو

23. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه شپږم پښتو

24. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اوم پښتو

25. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه آتم پښتو

26. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه نهم پښتو

27. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه لسم ستاسې په لاس کې